داشرف غني نه بښونکې خيانت! او د افغان ولس ديني، ملي او تاريخي مسوٴليت

شهامت

اتم کال دريمه ګڼه، پرلپسې ۴۷ مه، ذی الحجة ۱۴۳۵ هش، اکتوبر ۲۰۱۴م

دوه ناڅخکې

داسلام نړيوال قانون!

شهامت ۱۱م

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اتم کال دریمه گڼه، پرلپسي۴۷ مه، ذولحجه ۱۴۳۵هق، کتوبر ۲۰۱۴ م

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	پیام تبریکی عالیقدر امیر المومنین	۳
۳	به تغیر اداره در کابل ماهیت اداره هیچ تغیر نخواند	۶
۴	دطالبانو لخواد کابل دفتحی ۱۸ کلیزه	۸
۵	اسلامی هیوادو کی داسلامیت	۱۱
۶	داسلامی امارت اداری تشکیل	۱۴
۷	سږ کال څه کم دری زره کسان ددښمن له لیکو	۱۹
۸	دوه نانځکی	۲۶
۹	د کرزی اوسنی اعتراف او ۱۴ کلن سکوت	۲۸
۱۰	دخوست ولایت دنظامی چارو کمیسیون	۳۰
۱۱	امضای پیمان امنیتی وچندسخن دیگر	۳۲
۱۲	امام بخاری رحمه الله علیه ژوند	۳۴
۱۳	گل لورینی پانی	۳۶
۱۴	دسولکی له سپیڅلی نامه څخه ځنگه استفاده	۳۸
۱۵	مونږ د استاذانو فتواوو ته دغه ځایه	۳۹
۱۶	دتر کي ولسمشر ېزې ټاکنې	۴۳
۱۷	د اسلامی نړیوال قانون	۴۷
۱۸	ملکی تلفاتو دمخنوی اداری له نماینده سره مرکه	۵۰
۱۹	داسلامی دولت پر ضد نوی پوځی اتحاد	۵۴
۲۰	دمولوی دستگیر صاحب دژوند لیک	۵۷
۲۱	حالت رنجانندن تلویزیون ها	۶۳
۲۲	دتلی د ۱۵ می یرغل او افغانی تاریخ	۶۵
۲۳	امنیتی تړون لاسلیک شو نور څه پاتی دي	۶۷
۲۴	جهاد زمونږ د برم او عظمت ضامن دی	۶۸
۲۵	د شهامت فقهی مسایل	۷۱

دامتیاز خاوند:

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر:

ابو ظهیر

کتنپلاوی:

شاهد "حقاني " لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه:

یوه گڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلداري په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل:

تخنیکی څانگه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو
مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس: کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

داشرف غني نه ښبونکی خیانت!

او د افغان ولس دیني، ملي او تاریخي مسؤلیت!

دامریکای انو دارادې اوخوښې سره سم اشرف غني احمد زي او عبد الله عبدالله د ګډ حکومت دلوړې مراسمو په دوهمه ورځ یعنې دتلې میاشتې په اتمه نیټه په پټو سترګو دامنیتي موافقې په نوم هغه تور اوکرکجن سند چې له مخې به یې افغانستان دامریکا یو مستعمره هېوادوي! په ارګ کې کې دامریکا دسفیر "جمیز کننکم" او ملي امنیت د سلا کار" حنیف اتمر" تر لاسلیکونو وروسته رسماً امریکاته ور وسپاره!!

له هر ډول شک اوشبهې پرته دګندمک دشرمنده تړون وروسته له افغان خاورې او ولس سره تراوسه دومره لوی او نه ښبونکی خیانت بل چاندی کړی ... دکوم ناولي جسارت ارتکاب چې غني احمدزي او عبدالله عبدالله په ګډه وکړ...

ښکاره ده هر اصیل او په ازادۍ مین افغان له امریکا سره ددغه امنیتي تړون اوموافقې منل په سختو الفاظو سره غندي او ددې ګام اخستل د ملت اوتاریخ دواړو په وړاندې د نه هیریدونکي جنایت او مسؤلیت

ترڅنګ هېوادته یې دډېرو لویو بدمرغیو اوبدبختیوعامل بولي، چې راتلونکو نسلونو لپاره به له خواشنیو ډکې پایلې اوترخه عواقب ولري !دمنطقې دسیاسي چارو څېړونکو په اند: امریکا غني او عبد الله دواړه ګډدهمدې دندې لپاره ګومارلي، چې دچون چراپرته په افغانستان اوسیمه کې دامریکا دګټو لپاره تاکل شوې استعماري ستراتیژۍ اوفرمایشونه په شد اومد سره پوره اوله پامه ونه غورځوي اودامریکایې اهدافو ضد ننګونو او چیلنجونو سره به په کلکه مبارزه کوي.

هو! دافغانانو دغوڅ اکثریت دنارضایت اومخالفت سربیره دامنیتي موافقې تحمیلول جوتوي چې امریکا افغانستان ته دتروریزم په پلمه په خپلو مشخصو اهدافو پسې راغلي،او پکې ددایمي پوځي هډو جوړولوته له لومړي سره لیواله وه،څو له دې لارې د افغانستان له جغرافیوي موقعیت څخه په ناوړه ګټه اخستلوپه منطقه کې دخپل څار شبکې تقویه او وغځوي...او په ګاونډیو هېوادو کې دننه د

خپل شوم استعماري مراقبت په پلانونو او تنظيمونو ، سيميز رقابتونه اوجنجالونه وپالي.

طبعي ده چې دګاونډي هېوادونو په خوله به هم دچوپتيا خپسه کيني! خوګونګ عکس العملونه او غبرګونونه به ضرور وښيي، چې داکاربه زمونږ ځګره ځپلي هېواد او ولس له نه جبرانيدونکو زيانونو او ستونزو سره لاس اوګريوان کړي ، دشته کورنيو جنجالونو سربيره به افغانستان د منطقوي جنجالونو په يولوی جال کې کيوزي... افغان خاوره به داوږدمهالوسياليو او جنګونو تودډګروي او درواڼو مرګونو او ويرونو خورتېغربه ترې ټول نه ؛بلکې نوربه هم وغځيږي.

پاتې شوه داچې ايا امريکا به ددې موافقې په لړ کې شويو تعاهداتو ته ژمنه پاتې شي اوکه نه؟ دامريکا ټول تاريخ چې له ټګيو برګيو اوجعل کاريونه ډک دی، ترې په کړو ژمنو دوفاتمه درلودل ليونتوب دی، هيڅکله به هغه په صادقانه ډول له افغانستان سره مالي مرستوته زړه ښه کړي اوهم داسې به ټولې کړې وعدې دکاغذ پر مخ پاتې شي!!

دلته پاتې کيدونکي امريکايي پوځيان چې دلاسليک شوي تړون له مخې له هرډول قضائي اوحقوقي مصؤنيت نه برخمن ګرځول شوي ، هغوئ به دافغان وګړو وژل اوځورول ډېر کړي، که يو امريکايي پوځي د سلګونو اوزرګونو افغانانو دوژلومرتکب هم شي افغانان او دافغانستان قوانين به دهغه دمحا کمه کولو صلاحيت ونلري، تيرو ترخو تجربو ته په پام سره ويلی شو چې ددې مردود تړون ځيدل به افغان ولس دډېر بد راتلونکي سره لاس اوګريوان کړي ،دتړون لاسليکولو وروسته په پکتيا اونورو سيمو کې په لوی شمير ولسي خلک په شهادت رسول ددې وحشتونو تازه بيلګې دي چې ولسې وګړي دامريکايانو لخوا ووژل به دوام ولري، هيڅوک به د افغانانو دوژنو اوزورونو فريادته غوږ نه باسي اوپه ټول هېواد به د ناورينونو توري لړې را شي.

ښه داده چې هر افغان سر له ننه دخپل ديني اوملي مسؤليت په درک کولو ددې تلپاتي ناورين اوبې ننګۍ منلو په ځای دامريکا ددې بدې ارادې په وړاندې پراخ ملي پاڅون وکړي او ټول هېواد وال بايد په يو غږ اويو ځواک دامريکادا شوم عزايم او پلانونه له خاورو سره خاورې کړي، خدای مکړه که افغان ولس اوسني کورني اونړيوال نزاکتونه درک نکړل او ددې ناولي تړونپه ضد را پورته نشول ، يوموټی نشول ې راتلونک نسل او تاريخ به يې ونه ښښي اودا مجرمانه غفلت به يې په سختو الفاظو محکوموي، دوياړلو پرځای ورباندې شرم اوخجالت محسوسوي.

ليکن دافغان ولس داسلافو له ننګونوډکه ماضي، دميړانو څخه ډک تاريخ او دعظمتونو حماسې ډاډ رابښي چې د ښکېلاک دموخو او ارادوپه وړاندې به سرونه ښکته نکړي اوپه مقابل کې به يې پراخ عکس العملونه راوپاريږي آن د امريکايي هډو دننه دميشت يرغلګرو ککرۍ دهغوئ په وينو کې ورغړوي ،دا دافغان ولس ديني ،ملي اوتاريخي مسؤليت دی....

پیام تبریکی عالیقدر امیرالمومنین (حفظه الله)

بمناسبت فرارسیدن عید سعید قربان

بسم الله الرحمن الرحیم

الله أکبر الله أکبر، لا إله إلا الله والله أکبر، الله أکبر ولله الحمد

الحمد لله وحده، نصر عبده وأعز جنده وهزم الأحزاب وحده لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه مخلصين له الدين ولو كره الكافرون، والصلوة والسلام على من لا نبي بعده وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد :

فقال الله جل وعلا : {وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} الأنفال. ٢٦

ملت مومن و مجاهد افغانستان، همه مجاهدین راه عزت و آزادی و همه برادران و خواهران مسلمان در جهان! عید سعید اضحی تان مبارک. خداوند متعال همه طاعات و قربانی های تان در راه الله سبحانه و تعالی را قبول نماید.

ملت مجاهد!

به نصرت خداوند متعال جهاد و قربانی های بی دریغ تان، امریکایی ها، ائتلاف غربی و حامیان داخلی آنان را همه به شکست مواجه ساخته است، استراتیژی آنان برای افغانستان بی نتیجه و تلاش های سیاسی شان در پهلوی ناکامی مواجه با فضیحت و رسوایی آشکار می باشد. و نشست بی نتیجهء سران ناتو در ویلز به رهبری امریکا، رسوایی اخیر به نام انتخابات در افغانستان و پیشرفت های پی در پی مجاهدین امارت اسلامی ثبوت آشکار این حقیقت است.

هموطنان گرامی!

اکنون شما هنوز هم درک کرده خواهد باشید که امریکائی های اشغالگر چقدر افراد نا اهل و وفادار به منافع دیگران را بر شما مسلط کرده اند، و در جریان سیزده سال شما مشاهده کردید که چقدر ظلم بر مردم توسط اشغالگران و دوستان داخلی آنان صورت گرفته است.

پروسهء طولانی و جنجالی انتخابات در زیر سایهء اشغال نشان داد که به مرور هر روز اعتبار و حیثیت اشغالگران زیان بیشتر را متحمل میشود، چنانچه ما قبلا گفته بودیم، جهانیان و هموطنان مشاهده کردند که پروسهء تبلیغاتی بنام انتخابات برای فریب دادن مردم بود و رأی افغان ها تنها شکل نمایشی داشت.

امروز امریکایی ها در افغانستان در طولانی ترین جنگ تاریخ خود گیر مانده اند، خسارات کمرشکن مالی و نظامی این جنگ، و از دست دادن حیثیت امریکا به سطح جهان از جمله مسایلی است که نشانه های زوال امریکا از آن مشاهده می گردد. زمامداران سرسام شده قصر سفید درحالت مایوسی در تلاش برای پیروزی این جنگ خساره آور و ناکام می باشند؛ مگر همهء احتمالات پیروزی آنرا از دست داده اند. وآنعده از داخلی هایی که امریکایی ها آنها را در مقابل مجاهدین می جنگانند روحیهء خودرا باخته اند و با اختلافات عمیق داخلی مواجه هستند.

برادران مجاهد!

برای اینکه ما از مقاومت جهادی خویش منافع مطلوب بیشتر بدست بیاوریم و دشمن را در همه عرصه های جهادی تحت فشار بیشتر قرار داده باشیم، رهنمایی های ذیل را شدیدا در نظر داشته باشید:

به وحدت صف جهادی تان بسار متوجه باشید! با اخلاق نیک، ترحم و روابط نزدیک حمایت مردمی را مستحکمتر سازید، زیرا بعد از نصرت خداوند متعال همهء موفقیت های صف جهادی ما، دست آورد حمایت همین مردم است. خداوند متعال در خطاب به رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید: {هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ} الأنفال ۶۲.

ترجمه: او آن ذاتی است که تو را با نصرت خود و به وسیله مؤمنان تأیید کرد. از این آیت کریمه معلوم میشود که بدست آوردن حمایت عامهء مسلمانان برای بدست آوردن پیروزی خیلی مهم است، تا آنجا که خداوند متعال آن را به شکل یک انعام بالای پیامبر خویش صلی الله علیه وسلم مشخصا یادآوری می کند. پس اگر مجاهدین و مردم برای پیشبرد برنامه های جهادی توافق در نظر و عمل داشته باشند، ان شاء الله حتما سطح پیروزی های جهادی بالا می رود و اثر آن بر دشمن بیشتر خواهد بود.

اینکه اشغالگران خارجی با شکست مواجه هستند، اکنون خیلی در صدد آن هستند تا با دوباره زنده ساختن اختلافات گوناگون تنظیمی، قومی، منطقوی و مذهبی در میان مردم، انتقام شکست خویش را از افغان ها بگیرند. مردم و مجاهدین بیدار ما باید تلاش کنند تا با محافظت وحدت خویش این دسیسهء دشمن را خنثی کنند، و از هر آن کاری شدیدا خودداری نمایند که به وحدت مردم مسلمان افغان لطمه وارد می کنند.

هدف از جهاد ما علیه اشغالگران امریکایی و متحدین آن، رضای خداوند متعال، حاکمیت نظام اسلامی، خاتمهء اشغال، دفاع از کشور و آرامی و رفاهیت بدون تفرقهء مردم مظلوم می باشد، لهذا مجاهدین باید همهء برنامه های جهادی خویش را چنان عیار سازند که اهداف فوق به شکل عملی متحقق و ثابت گردد.

برای موفق بودن فعالیت های جهادی و نظامی به هر آن کوشش ها و تلاش ها ادامه دهید که باعث تقویهء صف جهادی می گردد. نفوذ مجاهدین نفوذی در خط های جنگی امریکائی ها و داخلی ها و دعوت مقام های بلند پایه و منسوبین امنیتی در صف آنان را در اولویات کاری خویش قرار دهید. و در محافظت از مجاهدین نفوذی، خانواده و اولادهای آنان توجه خاص داشته باشید، و برای کسانیکه از صف دشمن خارج شده اند، در پهلوی امنیت، مطابق به استطاعت خویش امکانات زندگی با عزت را فراهم سازید.

علاوه بر تلاش های نظامی امارت اسلامی، جهت برقراری تماس های مثبت با جهت های معتمد جهانی برای رسیدن به اهداف عالی خویش سعی و تلاش کنید. ما پیغام خودرا دربارهء موقف آیندهء ما از طریق وسایل نشراتی و دفتر سیاسی خویش به جهانیان رسانیده ایم. باید بگوییم که در بخش سیاسی، گرفتن هر نوع تماس و رابطه با خارجی ها و جهت های داخلی، متعلق به دفتر سیاسی امارت اسلامی میباشد و بدون اجازهء رهبری، هیچ جهت و شخصی حق ندارد که به نمایندگی از امارت اسلامی با جهت و یا شخص سیاسی خارجی و یا داخلی تماس بگیرد.

بجز امریکائی ها، که تا کنون هم در برابر قضیه کشور ما از برخورد غیر سالم استفاده میکند. دیگر جهانیان بر اصالت و حقانیت داعیه ما پی برده اند، بر آنان آشکار گردیده است که امارت اسلامی بخاطر دفاع از معتقدات و کشور خویش مجبور به گرفتن اسلحه شده است و اکنون این حق مشروع ما است.

تبلیغات امریکایی ها که برای رسیدن به اهداف شوم خویش علیه ما انجام می دهند، اکنون تنها بر حلقات متعلق به امریکا اثر گذار خواهد بود.

ما در راه دفاع مشروع از قضیه خود به تلاش های همه جانبه یی نظامی و سیاسی خویش ادامه می دهیم، خاتمهء اشغال، برپایی یک

حاکمیت مقتدر اسلامی و امنیت و آرامی مردم هدف اساسی این تلاش ها می باشد.

ما به نصرت خداوند متعال سپس به وسیله فداکاری و جان فشانی مردم مسلمان خود این مطالبات خودرا تحقق می بخشیم. ما بر خداوند متعال توکل می کنیم و از وی سبحانه و تعالی طلب گار توفیق هستیم.

مقاومت بی نظیر و پیروزی مردم فلسطین در معرکهء شدید در ماههای رمضان المبارک و شوال المکرم گذشته باعث افتخار همهء مسلمانان است، دعا می کنیم که خداوند متعال همیشه آنان را متحد و موفق داشته باشد. مداخلهء مکرر امریکا در جهان اسلام تکرار پالیسی های اشتباه و ناکام امریکا است که به ضرر همهء اطراف می انجامد.

با استفاده از این مناسبت از همهء مسلمانان امیدوار هستم که در این روزهای مبارک عید و قربانی هموطنان مسکین و ناتوان، مجاهدین، مهاجرین، خانواده های شهدا و اسیران، یتیم ها و بیوه ها را در کمک های خود به یاد داشته باشند و تا توان خویش با آنان برای گذشتاندن عید خوش همکاری کنند. اینکه در گذشته نیز خیلی از اهل خیر در این بخش همکاری کرده اند و می کنند از آنان تشکر می کنم و از خداوند متعال برای شان اجر بیکران خواهانم.

در اخیر همزمان با مبارکی عید اضحی، موفقیت های جهادی اخیر مجاهدین را نیز برایتان تبریک می گوییم. خداوند متعال این عید اضحی را عید آرامی و سعادت برای افغانستان و تمام امت اسلامی بگرداند، و خداوند متعال مسلمانان مستضعف و بیچاره را در همهء جهان از شر ظالمان متجاوز نجات دهد.

والسلام.

خادم اسلام امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد

۸/۱۲/۱۴۳۵ هـ ق

۱۰/۷/۱۳۹۳ هـ ش

۲۰۱۴/۱۰/۲ م

در دیموکراسی منازعه برای حل و فصل به شریعت نه بلکه به قانون اساسی و قوانین وضعی دیگری که مطابق اصول دیموکراسی وضع شده باشند برده میشود. در حالیکه در اسلام هر قانون ویا مرجع فیصله ای که غیر از قانون وشریعت الله جل جلاله باشد طاغوت گفته شده، و مسلمانان مأمور شده اند تا به آن کفر ورزند (آنرا نپذیرند)، و ایمان آنهائیکه به زبان خود را مؤمن می خوانند، اما فیصله را طبق قانون الله جل جلاله نه، بلکه طبق قوانین دیگران میکنند ایمان دروغین نامیده شده است.

الله جل جلاله می فرماید: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُودًا﴾ سورة النساء/ ۶۰ - ۶۱.

ترجمه: (ای پیغمبر آیا تعجب نمی کنی از کسانی که میگویند که آنان بر انچه بر تو نازل شده و بر انچه که پیش از تو نازل شده ایمان دارند، (ولی با وجود تصدیق کتابهای آسمانی، به هنگام اختلاف) می خواهند داوری را به پیش طاغوت ببرند) (وحکم او را به جای حکم الله بپذیرند) وحال آنکه به ایشان فرمان داده شده است که (به الله ایمان داشته و) به طاغوت ایمان نداشته باشند، وشیطان میخواهد که ایشانرا گمراه (واز راه حق وحقیقت بدر کند).

به تغیر اداره در کابل، ماهیت اداره هیچ تغیر نه خواهد کرد

الیاس "عاصم"

پس از جار وجنجال ها بر سر قدرت در کابل اخیرا اداره نو تحت ریاست اشرف غنی احمدزی به وجود آمد، اشرف غنی احمدزی و تیم او بـه مـردم افغانسـتا ن وجهانیـان لاف وپتـاق هـای زیـاد زده انـد کـه افغانستان را گل و گلزار خواهد نمودند و همـه مسائل این ملت زجـر دیده و رنج دیده را حل خواهد کردند.

ولی میگویند سال نو از بهارش پیداست، ملت مظلوم و بیچـاره مشاهده نمود کـه در بهار بـه قـدرت رسیدن اشرف غنی چـه حـال و احوال درگذشت وچه قدر باید امیدوار باشند؟؟

معلوم است که اشرف غنی احمدزی یکی از دست نشاندهای درجه یک امریکا است و روی تفکر، بینش و ادیال خود عین تیوری غـرب گرا را دنبـال خواهـد کـرد، ملـت بیچاره مـا را از لحاظ دینی و دنیوی به مخاطره های جدی و جدید مواجه خواهد نمود.

اشرف غنی در گام نخست در راستای خدمت بـه مـردم!! قبالـه فروش افغانستان را با امریکایها به امضاء خواهد رساند، به این گونـه هویت خود را بلا فاصله بـه نمایش خواهـد گذاشت واین اقـدام قـبلا قابل درک ولمس بود.

دستگاه اشرف غنی احمدزی از یک مشت جنایت کاران جنگی، قاتلین حرفوی و کسانی دزد، رشوه گیر، مفسدین اخلاقی و اداری، جفا کاران به هویت، عزت و شرف کشور تشکیل شده که اگر اشـرف غنی بخواهد یا نه خواهد اداره وی بدتر از اداره کرزی خواهد بود، ملـت را هنوز هم به طرف بربادی و بردگی سوق خواهد نمود.

مـردم بایـد در دوران اشـرف غنـی انتظـار حالـت ذیـل را داشـته باشند و از این بیشتر چیزی را تماشا نه خواهد کردند.

۱ـ اشرف غنی مرهون احسانات امریکا هست، حتی در انتخاب و انتصاب وی رئیس جمهور امریکا اوباما، وزیـر خارجه امریکا جان کیـری، سـفیر امریکـا و نماینـده خـاص امریکـا بـرای افغانسـتان و پاکستان عرق ریزی نموده اند، از کارزار انتخاباتی تـا بـه رسیدن بـه ارگ کسـانی فـوق رهنمـای وی بودنـد، پـس خـلاف نورمهـای بـین المللی!!؟ خواهد بود که اشرف غنی آنقدر احسان فراموش شـود کـه منافع امریکا را در برابر مسائل ومنـافع افغانسـتان تـرجیح دهـد و از آن سر پیچد.

۲ـ تفکر اشرف غنی مبنی بر این است که افغانستان بایـد کشـور کاملا دیموکرات، بی بندوبار، مطلق غربگرا و سیکولر باشد، البتـه در عملی نمودن این کار در سال اول و دوهم قدرت خود احتیاط لازم را در پیش خواهد گرفت، ولی در دراز مـدت بـه خـاطر همـین قسـم حالـت زمینه سازی خواهد نمود، فکر جوانان را در پوهنتونها و دانش کـده هـا به بی راهه خواهد کشاند، فرهنگ غرب را به گونه رسم زیستن بـرای تمـام افغانهـا بـه معرفـی خواهـد گرفـت و از افغانسـتان ترکیـه زمـان اتاترک خواهد ساخت.

۳ـ دسته همکار اشرف غنی کسانی اند که سالها در معامله گـری ها، جنایات، خـود کامـه گـی و عـدم رعایـت منـافع کشـور دسـت بلنـد داشته اند، در برابر منافع شخصی، تنظیمی و قومی خـود هـیچ چیـزی

دیگری را ارزش نه خواهد دادند، دوستم فرد کاملا نادان وفاقد همه اصول انسانی هست که به موجودیت خود همه باند گلیم جم را حمایت درون دستگاه خواهد نمود و جرائمی را که افراد جنایت پیشه وی انجام دهند به آن تسامح و معامله صورت خواهد گرفت.

۴ـ عبدالله عبدالله، محقق وسایر اعضای شر وفساد به موجودیت خود در دستگاه اشرف غنی جلو تمام آن به اصطلاح اصلاحات را خواهد گرفت که سد راه خواسته های افراد دزد، چورسالار، رشوه خور، مفسدید اخلاقی و جرائم پیشه آنها میشود، افراد این گروه ها از تعقیب عدلی مصئون خواهد ماندند، جلو هیچ خود سری و خود کامه گی انها گرفته نه خواهد شد، در صورت اقدام جلوگیری انها دستگاه اشرف غنی به مشکلی مواجه خواهد بود که اکنون در تشکیل حکومت خود به آن مواجه بود و از ترس بحران وفشارهای خارجی به تقسیم قدرت، گردن پت کرد.

۵ـ امریکایها طرفدار ادارهء در افغانستان نیستند که کاملا بر پا بایستد، منافع خود را حفظ کند و اختیارات خود را داشته باشد.

اگر ما زمان اداره کابل را در وقت کرزی مرور کنیم در تمام ناکامیها، فساد، دزدیها و غارت ها، اشغالگران امریکای هم مستقیما دخیل بودند، تلقین همه کارهای خلاف قوانین را به افراد بلند پایه اداره کابل می دادند، بعضی افراد مشهور قاچاقبر، غاصبان زمین و دزدان سرمایه ها را به گونه غیر مستقیم در سیزده سال حمایت میکردند و بخاطر ادامه همین مفاسد هنوز هم میخواهند در افغانستان باشند و اداره کابل را هم تحت مراقبت و سایه خود داشته باشند.

نتیجه بر این است که اگر اشرف غنی بخواهد یا نه خواهد، اداره آینده کابل به مشکلات جدی فساد، اختلاس، خود سریها، ظلم، عدم رعایت قوانین، سرپیچی از محاکمه افراد وسایر استثنآت مواجه خواهد بود، وکسانی که اداره آینده کابل را تحت محاصره خود دارند با استفاده از نفوذ خود در داخل دستگاه، همه جنایات را ادامه خواهد دادند قسمیکه در جریان سیزده سال افغانستان شاهد آن بود.

دانصاف ګټې

۱- انصاف د پوره ایمان او ربښتیني اسلام نښه ده.
۲- انصاف د ټولنو په ثبات او په خلکو کې د مینې د خپرېدا اساسي لامل دی.
۳- په ځان کې د انصاف پیدا کول له لویې نه د لرېوالي سبب دی.
۴- په انصاف سره محبت منځته را تلی شي او هر سړي ډاډه کیږي، ځان، مال او عزت خوندي بللی شي.
۵- په انصاف سره خلکو ته خپل حققوق رسیدلی او د عدالت فکر عام کېدلی شي او سړي ویلای شي چې نن او سبا د واړه مې په امن کې دي.
۶- په انصاف سره کینه، بدبیني او بغض له منځه ځي او ځای یې یو بل ته احترام، مینه او په ښېګڼه کې له یو بل نه مخته والی نیسي.
۷- په انصاف سره بې وسه، کمزوری او یتیم دا ډاډ ترلاسه کولای شي چې را تلونکی یې له هرډول ظلم او زیاتي خوندي دی.
۸- د انصاف له برکته ده چې ټولې پرګنې د خوندیتوب احساس کوي او هرڅوک خپل کار له وېرې او ظلم پرته ترسره کوي او د یوې ټولنې جوړښت په وروروګلوۍ بنا کیږي، نه دا چې د هغوی په منځ کې مذهبي او قومي اختلافات را پورته شي.
۹- د رایې او مذهب له مخالفینو سره انصاف ټولنې له د سیسو او فریبونو څخه خوندي کوي هغه چې هسې نه پرې اخته کیږي پرته له هغو مغلوبو خلکو چې په ځان وېرېږي که په رښاکې کار وکړي [او به لیدل شي].
۱۰- په هیوادونو او ټولنو کې انصاف د دولتي تروریزم چینه وچوي، او د با امنه ټولنو د بې ثباته کولو لپاره د انسي او جني شیطانانو پروسې شنډوي.
۱۱- د علماوو او اولویانو ترمنځ له یو بل سره انصاف په دوی د یو بل سره د مرستې روحیه قوي کوي چې په ټوله کې د ټولنې په خیرسګالۍ تمامیږي.

د طالبانو لخوا د کابل د فتحې د ۱۸ کلیزې په مناسبت:

شاهد غزنیوال

د طالبانو د اسلامي تحریک ځانګړتیاوې

هر سیاسي او ټولنیز غورځنګ د ځان لپاره خپل یوشمیر داسې مشخصات او ځانګړتیاوې لري چې په ټولنه کې یې له نورو تحریکونو او سیاسي تشکلاتو څخه وربانده‌ې تمیز او توپیر کیدای شید افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک چې زمونږ د هیواد د تاریخ په یوه حساسه مرحله کې تاسیس شوی هم له دغې تحریکي مشخصې څخه خالي نه دي .

د طالبانو اسلامي تحریک چې د کورنی جګړې پرمهال د موجودو مفاسدو دله منځه وړلو په خاطر منځته راغلی تأسیسي او عادي افرادیې اکثریت پوځي کسان دي. د دغسې یوه پوځي غورځنګ پر افرادو او دهغوی په کړو وړو باندې حتما خپل محیطي شرائط مؤثروي ، د هغوی د زغم او برداشت قوه لیږ ، او د هرې عادي پیښې په وړاندې سمدستي غبرګون ښیې.

د تنظیمي افرادو دغه نازک طبیعتي مونږ هم د پخواني جهاد پرمهال د تنظیمونو ترمنځ او هم اوس مهال په نړیواله کچه دجهادي تنظیمونو په فعالیتونو کې محسوس کړې.

خو دطالبانو اسلامي تحریک دخپلې خاصې ځانګړتیاله مخې له دغه ډول نازک طبیعتي څخه پاک یو غورځنګ دی چې د خپل تاسیس له پیل نه یې بیا تراوسه پورې د افراط او تفریط له منځه د وسطي معیار مطابق خپل تحریکي فعالیت جاري ساتلی.

د طالبانو اسلامي تحریک په هیواد کې د کورنی جګړې د محو کولو، د تنظیمي ،قومي، لساني او منطقوي اختلافاتو له منځه وړلو اوفساد نابودولو په غرض ایجاد شوی دی.

دغه غورځنګ دخپل ۱۸ کلن پوځي ،سیاسي او اداري بهیر په ترڅ کې له ډیرو لوړواو ژورو تیرشوی او د خپل فعالیت په هره مرحله کې یې د خپلو اسلامي او ملي مصالحو په وړاندې خپل موقف ثابت ساتلی ، نه یې د حکومت اومنصب ملذات خپل آرمان ته درسیدو په لارکې خنډ واقع شوي او نه یې هم نړیوال پوځي اوسیاسي فشارونه د موقف د بدلیدو لامل شوي دي.

د هیواد استقلال ،په هغه کې د اسلامي شریعت حاکمیت او د افغانانو ترمنځ د ملي وحدت ټینګښت یې هغه اساسي شعار دی چې ۱۸ کاله مخکې یې دغورځنګ د تأسیس پرمهال پورته کړی ،تراوسه د ډیرو سختو ستونزو له ګاللوسره سره وربانده‌ې ثابت پاتې شوی دی.

د سرو لښکرو پر خلاف دافغان ولس له جهاد اوبیا د هغه په نتیجه کې د کمونیستي امپراتوري له ړنګیدوسره سم په نړۍ کې داسلامي ویښتابه روحیه راژوندۍ شوه چې له امله یې په اکثرو هغو هیوادونو کې چې د اشغالګرو تراشغال لاندې وه،له اشغال څخه د خپلواکي په غرض جهادي او فکري نهضتونه ایجادشول .

دغه جهادي غورځنګونه په منځنۍ آسیاکې له تاجکستان او ازبکستان نه نیولې بیا په ختیځې اروپا کې تر بوسنیا هرزګونیا او شرقي افریقا کې تر صومالیا ختیځې آسیاکې تر بورما پورې ټول د خپلو اشغال شویو هیوادونو د آزادي او په هغه کې د اسلامي حاکمیت د نافذولو په غرض ایجاد شول، خو له یوې خوا د دغو جهادي تنظیمونو د مؤسسینو د کم تجربګي او له بلې خوا د هغوی د تخریب او تضعیف لپاره د دښمن زیات فشار د دې لامل شو چې په نړیواله کچه دغه جهادي او فکري نهضتونه خپل مسیر پوره نکړای شي. د غو جهادي اوفکري نهضتونو له جملې څخه یې ځینې خپل هدف ته تر رسیدو له مخه یا دانحراف او تغیر موقف ښکار شول اویاهم د خپل منځي اختلافاتو او انشعاباتو له کبله خود بخوده له منځه ولاړل.

خو د طالبانو اسلامي تحریک سره له دې چې د نشأت، حاکمیت، او دښمن په وړاندې د مقاومت ټوله دوره یې له سختو مشکلاتو اوستونزه سره مل وه مګر بیایې هم خپله ذاتي مشخصه حفظ کړه او دادی ۱۸ کاله وروسته هم د نړۍ دترټولو مقتدرځواک امریکا او ناټو تړون په مقابل کې دیوه مطرح، مسلط او منلي قوت په توګه بریالی مقاومت رهبري کوي.

په خپلو فعالیتونو کې د طالبانو د اسلامي تحریک دبریالیتوب راز.

لکه مخکې چې مو وویل د طالبانو تحریک د هیواد په ترټولو سختو شرائطو کې منځته راغلی، په همدغو سختو شرائطو کې واک ته رسیدلی، او بیا د بهرني یرغل په نتیجه کې له واکه ترګوښه کیدو وروسته یې دامریکا په مشرۍ د نړیوال صلیبي ایتلاف مقابله په ډیرو سختو شرائطو کې کړې ده چې دغه ټولې ستونزې یې نه له خپل اصلي مسیرنه دانحراف لامل شوې او نه د تحریکي انشعاب عامل.

د طالبانو د دغه داخلي انسجام، تنسیق او مظبوط والي اساسي عامل په مذهبي لحاظ د خپل مشرتابه اطاعت دی چې د اسلامي ارشاداتو له مخې ټول مسلمانان په هرحالت کې د خپل شرعي اولي الأمر په اطاعت ملزموي. د طالبانو د اسلامي غورځنګ د موفقیت بل اساسي عامل همدا سیاسي ثبات دی چې هغه یې د زمان او مکان د شرائطو تابع نه دی ګرځولی بلکې، په یوه خاص شرعي موقف پورې مربوط کړی.

همدا راز د طالبانو غورځنګ د خپل حرکې طبیعت له مخې ځیني نور مشخصات هم لري چې د هغو رعایتولو د دغه تحریک له بریالیتوب او موفقیت سره ډیره مرسته کړې. طالبانو د ژوند په هرمجال کې د خپلو دغه مشخصاتو لپاره خپل طرز ټاکلی او په هغه عمل کوي.

الف. په اجرائي برخه کې:

طالبان په خپل سیاسي فعالیت کې تر ظاهري شعار په عمل کولو ډیر ترکیز لري، هغوی که چاته معلومات ورکوي او یا له رسنیو سره د خپلو پروګرامونو په اړه خبرې کوي نو یواځې د انجام شده کارونو په اړه خبره کوي نه داچې هسي تش په ادعا کولو سره راتلونکي نا تمام کارونه هم ټول پوره وبولي.

همدا راز دوی په خپلو کارونو کې اولویات مشخص کوي او هغوي د اجراء په غرض یویوتعقیب او عملي کوي، نه داچې په یوه ځل ډیرو کارونوته غیږه ورکړي.

همداراز هغوی د پلانونو تر طراحي له مخې د هغوی په عملي جانب ډیر غور کوي، کوم کار چې عملي امکانات یې نه لیدل کیږي د هغه په پلانولو کې هیڅ اقدام نه کوي.

طالبانو د پروګرامونو د پلانونې لپاره کاري، تجربه کار او سنجیده د پاخه عمر کسان ټاکلي، هغوی د هر پروګرام دطراحي لپاره مخکې ترمخکې ډیر غور کوي، دهر کار ټول ابعاد او عواقب سنجوي بیا دهغه پر عملي کولو اقدام کوي، په اجرائي برخه کې دهغوی بریالیتوب په دې کې دی چې هرسړي په فردي توګه تصمیم نشوای نیولی، ټول مهم پلانونه دیوه اجتماعي تصمیم له مخې نیول کیږي.

ب. د دښمن د سازشونو د شنډولو په برخه کې:

طالبان خپل ټول جهادي فعالیتونه دعدم تصادم په روحیه طرحه کوي، یعني هغوی کوښښ له خپل مشخص دښمن پرته له بل چاسره له بیځایه تصادم نه ځان وساتي.

دبیلګي په توګه امریکایان نن په نړیواله کچه دخپلو شیطاني پلانونودعملي کولو لپاره دوې اساسي حربې کاروي:

لومړی: په اسلامي هیوادونو کې د اختلافاتو خپرول.

دوهم: د دغو هیوادونو مسلمان ولسونه د مذهبي، فرقه یي او قومي تبعیضونو په پلمه یودبل پرضد کارول.

امریکایانو نن ټوله اسلامي نړۍ د دغې تخریبي فتنې په عملي کولوسره ناآرامه کړې.

په مصر کې، په سوریه کې، په عراق کې، په لبنان، په لیبیاکې، په یمن کې او... هرځای یو هیواد وال بل هیواد وال وژني، کورېې ورنګوي، او ملکیت یې تخریبوي.

امریکایان ډیر کوښښ کوي چې عین تکتیک له طالبانو سره دمقابلې په صحنه کې هم عملي کړي، هغوی غواړي دلته هم افغانان دشیعه او سني په نوم، دطالب او حزبي په نوم، دسلفي او مقلد په نوم یو دبل پرخلاف وجنګوي اوخپله دخیرپه غونډۍ کښیني، خو طالبانو کوښښ کړی له داسې اختلافاتو او شخړوځان لیري وساتي چې هغه د دوی د اصلي هدف (دامریکایانو مقابله) په مخ کې خنډ ګرځي.

که څه هم چې امریکایانو دطالبانو په مقابل کې د اربکیو جوړولو خطرناک تخریبي تکتیک ایجاد کړ چې په ډیرو سیمو کې یې د هغوی لپاره سخت سرخوږي جوړ کو، مګر طالبانو د اربکیو دله منځه وړلو او وژلو پر ځای په خپلو اداري تشکیلاتو کې د دعوت او ارشاد په نوم کمیسیون تأسیس کړ چې په سوله ییزه توګه د دښمن دغه خطرناک پلان داسې شنډ کړي چې هم یې له شره ځان وساتي او هم ولس له راتلونکو د ښمنیو اوبدیوڅخه وژغوري .

چیرې چې طالبان په قاطع ډول د اربکیانو له مقاومت سره مخ کیږي، هلته هم د ضرورت په اندازه دهغوی دله منځه وړلو اجازه ورکوي.

دطالبانو بله ډیره مهمه مشخصه داده چې خپل ټول کار ي پروګرامونه د علماوو او قومي مخوروپه مشوره عملي کوي، چې د دوی دغه مشخصه د طالبانو او ولس ترمنځ د ژور پیوند په رامنځته کولو سره د مشترک تعاون او مرستي مراندې لا ټینګوي .

هغوی له ټولوهغو کارونو څخه ځان ساتي چې په ولس کې د دوی د تجرید او انزوا سبب کیږي، څکه دوي پوهیږي چې ولس ورته هم دپناه ګاه حیثیت لري، هم د سنګر ،لهذا دوی غواړي په هر لحاظ دغه ولسي سنګر پیاوړي اوتقویه کړي ترڅو دهغه په حمایت کې خپل ځان د دښمن له ټولو له اضرارو څخه خوندي کړي.

ج ـ د مذهبي احکامو د تطبیق په برخه کې:

طالبان خپل مذهبي فعالیتونه او نشاطات د اسلامي شریعت د فقهي توجیهاتو په رڼاکې عملي کوي، د دغو مذهبي فعالیتونو په عملي کولو کې له احساساتو او یوبل باندې له ناسم حکم کولو څخه په ټینګه ځان ساتي .

د ـ دمالي شفافیت په برخه کې:

طالبانودمالي حساباتودشفاف ساتلولپاره خاص مقررات وضع کړي، چې دهغوی هرچاروا کی او عادي فرد یې په عملي کولو مکلف دی . که په دې برخه کې هرڅوک ادنی تخلف هم کوي مخنیوی کیږي او د ضرورت په وخت کې مجازات کیږي هم .

خو د دې ټولو مشخصاتو او کمالیاتو تر څنګ طالبان هم د خپل انساني طبیعت له مخې نیمګړتیاوې هم لري، داسې نیمګړتیاوې چې هغه د دوی د بشري تفکیر او انساني جهد اشتباهي زیږنده وي، نه دهیواد او ولس د خدمت په لاره کې عمدي عمل . خدای تعالی دی وکړي چې د غه اسلامي تحریک ته د اسلام او هیواد په دفاع کې د له ټولو نیمګړتیاوو څخه پاک د لا ښه خدمت کولو توفیق ورکړي

ديارلسمه برخه

اسلامي هيوادو کې

ليکوال: داسلامي نړۍ منکر عالم مولاناسيدابوالحسن علي "ندوي" رح - ژباړه: ابوظهير

داسلاميت او مغربيت ترمنځ کشمکش!

هندوستان کې دمشرقيت او مغربيت ...

داسلامي لمر په لوړه غاړه

علامه محمد اقبال اوپه غربي تهذيب تنقيد:

نوموړي (علامه) په زيات خلوص اوښه نيت دا احساس اوباور درلود، چې دمسلمانانو لپاره ديوې داسې خپلواکې سيمې ترلاسه کول ضروري دي، چې هلته هغوئ په خلاص مټ د اسلامي ژوندانه عمل له خپلو ټولو اصولو او غوښتنو سره پلي کړای شي، څوبيرون ته د شريعت او اسلامي ژوند فطري صلاحيتونه اوخدای ورکړې وړتياوې په سمه توګه منعکس او وځلوي، دنوموړي په اند هندوستان يو داسې هېواد (ديته يې دمسلم ليګ دمشر په صفت په ۱۹۳۰ز کې په يوه وينا کې اشاره کړې وه) دی چې پکې دمسلمانانو ترټولو لوی شمير ژوند کوي، دا سېمه دازموينې لپاره تربل هر هېواد ښه موزون اومناسب ده اوپکې هغه اسلامي مرکزيت په ښه توګه جوړيدای شي، کوم چې ديوې سالمې ټولنې د تشکيل، دټولنيز ژوندانه دتنظيم، داقتصادي مسايلو د حل په موخه او دتهذيب سهي اوپاکيزه رهنمايي، دعقيدې اوعمل ،ماديت او روحانيت ، دفرد اوټولنې ترمنځ يوه داسې هماهنګي راولي، چې نور خلک تعجب اواعتراف ته اړ کړې او هم نور اسلامي هېوادونه له هغه نه تقليد اومفکران ترې تفکر واخلي.

د دغسې سياسي بلوغ اولوړهمت بېلګه اسلامي نړۍ کې ډېره لږ ترسترګو کيږي، دپاکستان په نوم دنوي هېواد بنسټ ايښودل دهمداسې بلوغ اولوړهمت پايله وه ، په ۱۹۴۷ز کې دپاکستان جوړيدو خوب رښتيا شو اوپه دې نوم يو جلا اسلامي هېو دله نشت نه وجود ته راغی ،دپاکستان لومړيو بنسټ ګرانو په کراتو مراتو هغه فکري اساس منلی، په کوم چې ددغه ستر اسلامي هېوادد بنسټ لومړی خښتهايښودل شوي او هم يې داسلامي ژواندانه دنوي معمل او تجربه ځای په نوم ياد کړی دی.

محمد علي جناح پخپله هغه وينا کې چې ۱۹۴۷ز کال داکتوبر په ۱۱مه يې دپاکستان زمکني، هوايي او سمندري پوځ چارواکوته کړې داسې ويلي :

دپاکستان دجوړيدو لپاره مونږ له لسو کلو راهيسي لګيا وو، دالله(جَلَّ جَلالُهُ) په فضل دادی هغه اوس يو ژوندی حقيقت دی، ليکن دا (جلا هېواد جوړول) ديوهدف دلاسته راوړو زريعه دی ، اصل هدف ندی، موخه مو دا وه چې يو داسې هېواد جوړ کړو، چې په هغه کې مونږ دازادو انسانانو په څېر ژوند وکړو، مونږ پکې دخپل مزاج او ثقافت سره يوځای ترقي وکړو او پکې داسلامي عدل ټولنيز اصول له ازادۍ سره يوځای ومومو (speeches quaid - azam mohammad ali Jinnah-p۲۲)

لياقت علي خان مرحوم هم په پيښور کې ۱۹۴۷ز کال دجنوري په ۱۴مه نيته ويلي و:

پاکستان زمونږ لپاره تجربه ځای دی په دې سره مونږ نړۍ ته دا ښودل غواړو چې نن ورځ ديارلس سوه کاله پخواني اصول څنګه دعمل وړ دي.

په يوه بله وينا کې يې ويلي:

موږ ددې لپاره دپاکستان جوړېدو غوښتنه کوله، څو مسلمانان داسلامي حکمونو په چاپېريال کې ژوند تېر کړي، موږدېوداسې معمل غوښتنه درلوده چې هلته يوداسې حکومت جوړ شي چې هغه په اسلامي اصولو ولاړوي، له کومو نه چې نړيوال نور ښه اصول نشي مندلی.

خو دا تجربه دخپل اهميت، نزاکت او دخپلو پايلو دبعد له پلوه دتاريخ يوه مهمه او حيرانوونکې پېښه وه، چې د داسې رهبرانو په لاس پې برې شوني و، چې د هغوئ داسلامي شريعت په ابديت او داسلامي تهذيب په برترۍ قوي ايمان واى، دچا خلوص اوصداقت چې دځان غرضۍ، مفاد پرستۍ او مصلحت خوښونې له هرعيب پاک اوله هرې شبهې لرې واى او ذهن يې دغربي اقدارو او افکارو له غلامۍ دهغوئ دسيرت و کرداراو نا اسلامي روزنې له اغېزو بالکليه ازاد واى، دراسخ ايمان او اخلاقي زړورتيا ترڅنګ يې د نويو علوموپه متې دجوړو وسايلو اوځواکونو دخپلو لوړو ديني او اخلاقي اهدافو لپاره دکارولو توانمندې او دازادې اسلامي ټولنې دچاپېريال سره سم د هغونه دګټې اخيستو وړتيا درلوداى.

نازکه ازموينه:

ددې تجربې کاميابولو اودتاريخ د نازکې موقع نه د ګټې پورته کولو لپاره (چې يوولس پې د پېړيو پېړيو انتظار وروسته مندلى شي، خو ځانګړو سياسي بدلونو اونړيوالو حالاتو هندي مسلمان ملت دازرين فرصت په لاس ور کړ)چې څومره قوي اوژورو استعدادونو او ځانګړو صلاحيتونو څخه دبرخمنو شخاصو شتون ته اړتيا وه، په غوره کولو کې يې هغسي پاملرنه ونشوه چې څنګه اړتيا وه. ددغسي شخصيتونو دروزنې او پالنې لپاره مناسب فرصتونه پيدا نشول ،نه ورته توجه وشوه، په ختيځو اسلامي هېوادکې ديوې مودې راهيسي غربي تعليمي نصاب رائج و ،له امله يې هغوئ (دچا تقدير پاته کې چې ددې نوي اسلامي هېواد تشکيل او درهبرۍ نازک مسوليت ليکل شوی)زده کړې د غرب په تعليمي مرکزونو کې بشپړې کړې وې، هغوئ له دې اوسني پاکستان څخه دبدل او غوره پاکستان وړاندې کولو نه عاجز ول، هغوئ ددې فکر اوژواندانه داوسني ماډل پرته نړۍ ته نور څه نشواى ښودلى،څنګه چې يوه ونه پخپله طبعي اوقدرتي ميوه ملامتولى نشي، په ورته توګه دلويديځ له تعليمي نظام ، غربي رهبرانو او دهغوئ له ذهني لرليدونو شکايت هم بې ځايه دى، چې ولې د دې نوي زېږېدلي اسلامي هېواد لپاره داسې مشران اورهبران پيدا نشول چې ددين په ابديت، کامليت او د هغه په لافاني صلاحيتونو دهغوئ ايمان اوباور متزلزل نه واى، يا پکې ددين د پراختيا او تبليغ لپاره دلومړي قرن پشان جوش او جذبه ليدل شوې واى، چې دغربي افکارو په وړاندې دوسلې ايښودو اودهغو قالب ته دخپل قانون اونظام غورځولو پر ځاى يې دغربي تهذيب صالح اجزاء او وسايل دخپل يقين په اور ولې کړي واى ،دخپل تهذيب قالبونوته يې اچولي واى او دخپلې اړتيا سره سم يې ترې ګټه پورته کړې واى.

افسوس! په ايجابي او مثبته توګه دپاکستان جوړېدو په معتدبه موده کې هم تعليمي نظام (کوم چې دهر هېواد دترقۍ او په يو خاص لور دهغه هېواد بيولو لپاره دملا تير حيثيت لري)د اسلامي روح او اسلامي اهدافو سره سم جوړولو، اسلامي قالب کې دپاکستانۍ ټولنې اچولو،داساسي قانون اسلامي ګرځولو، د ذهني انتشار او اخلاقي فساد سرچينو ترلو په موخه هيڅ جرئت مندانه ګام پورته نه شو اونه يې ددې ثبوت وړاندې کولو لپاره مخلصانه او واقعبينانه کوښښونه وکړل چې رښتيا هم پاکستان داسلام نوى معمل او تجربه ځاى دى، چې بيرون ته يې داسلامي ژوند دافاديت داسلامي قوانينود صلاحيت او داسلامي تهذيب د فوقيت عملي نمونې وړاندې کړي واى. څو دنورو نويو زېږېدلو اسلامي هېوادو لپاره هغه عملي مثال ګرځيدلى واى.خوددې تمې بر خلاف په ۱۹۶۱ز کې دعايله (کورنۍ) قانون (Muslim- Family Laws)تدوين وشوده چې قانون جوړونکي اورهبران نه يواځې له غربي افکارو او اقدارو نه متاثر دي. بلکې هغوئ غربي افکار دقانون جوړولو لپاره بنستيز بولې اوداسلامي شريعت په ابديت او کامليت باورنلري!!

بالآخر په ۱۹۶۳ ز کې ملي اسمبلۍ د"ډاکې" په غونډه کې عايله قانون منظور کړ اوهغه ټول تعديلات(چې د کومو اساس دا وو چې عايله قانون دقرآن اوسنت دنصوصو ، تصريحاتو او اجماع د تعامل نه خلاف دى) رد کړل اوخلکو په زياته حيرانۍ دهندوستان اوپاکستان ورځپاڼو کې دا خبر ولوست:

«دلته ملي اسمبلۍ پرون په ډېر دروند او غوڅ اکثریت په عایله (کورنۍ) قانون کې دتعدیل را وستو کوښښونه رد کړل او دهغه په ځینو مادو کې دتغیر او تعدیل راوستلو په اړه هغه مسوده چې پارلمان ته وړاندې شوې وه، دپارلمان د دروند اکثریت لخوا رد کړه، دبېړنۍ دورې موده کې نافذ کورنی قانون له نارینه وونه دیوې میرمنې نه علاوه د زیاتو میرمنو واک اخلي. تغیر غوښتونکو ددې خبرې دعوه کوله چې داقانون د شریعت او عظیم الشان قرآن نه مخالف دی، په کوم کې چې د میرمنو د تعدد په اړه ښکاره اجازت شوی، دپاکستان روڼ آندي طبقې ویل: چې هغه اجازت مؤقت او بېړنی و، هدف یې دټولنې تدریجي اصلاح وه.

داسلام د منصوصي (چې په اړه یې قرآن مجید کې څرګند نص شتون ولري ، مثلاً: دمیراث قانون، نارینه ته دطلاق ورکولو واک، د میرمنو تعدد اونور)او اجماعي مسایلو (چې په هغو ټول امت اتفاق لري) باره کې چې هر کله دپاکستان رویه داسې وه، نو دتهذیب، تعلیم وتربیې، سیاست او اساسي قانون په باب تري بویه تمه څنګه کیدای شوه؟ په حقیقت کې زیاتره نوي ازادشوي اوجوړ اسلامي هېوادونه دترکیې په ګام تګ ته لیوال دي اودهغوهېوادو د مشرانو (دغربي تعلیم وتربیت له اثره) په زړونو کې د کمال أتاترک دتقلید مېنه پیدا شوې.

پاکستان کې جدیدیت ، غربي افکار او اقدار داصل معیار په توګه منلو سره نوي اصلاحات اوقوانین دراډیو، تلویزون، میډیا او ادبیاتو له لارې دذهني او اخلاقي قالب تغیرولو او دیو داسې نوي نسل روزلو سلسله په خورا چټکۍ او په قوي عزم پرمختګ کوي. کوم چې په اسانه غربي ډوله حکومتونه مني،ددولت لخوا دمدرسو اومسجدونو کنترول وروسته د دیني علماوو، عامو مسلمانانو لخوا دمخالفت اندیښنه اولږ ترلږه دنه مرستې ډار هم اوس تاثیر نلري، کوم چې یو مهال ددغسې پلانونو دبرې په وړاندې خنډ و ، د هر حقیقت پال انسان په وړاندې چې دجدیدپالو هېوادو پخوانی تاریخ وي، هغه په اسانه دا وړاندوینه کولی شي، چې ددې هېواد درهبرانو ارادې څه دي؟ او دا هېواد تدریجاً په پټه اوښکاره کوم لورته درومي؟ په هر صورت دخپلو اساسي موخو او اهدافونه دپاکستان انحراف اوداوسني دور دنورو نا اسلامي (secular)او جدت خوښوونکو(modernist) حکومتونو تقلید به دنوي تاریخ یو لویه غمېزه وي او دهغو ملیونو خلکو سره به جفاوي چا چې ددغه نوي اسلامي معمل او تجربه ځای د جوړیدو لار کې سختې ستونزې اوتکلیفونه زغملي او سترې قربانۍ یې ورکړي په دې علاوه دا به یو داسې نه جبرانیدونکی زیان وي، چې دتل لپاره به دغه ډول هیلې او امیدونه زندۍ کړي، هم ددې تجربې دبرې شونتیا وې که ختم نه، لیرې به یې ضرور کړي او هم به په راتلونکي کې دبشري تاریخ سپینې پاڼې او انساني تجربه چاته اجازه ورنکړي چې هغه بیا دا نوم واخلي، دپاکستان دغسې نازک اخلاقي مسولیت پروفیسر اسمت (Wilfred cantwell smith) په ښه توګه ځېرلی نوموړی پخپل کتاب (is lam in modrn history) کې لیکي:

شاید پاکستانیان یو وخت فکر وکړي چې داسلامي ټولنې تعمیر ددوئ دلومړي تخمین نه څو ځله ستړی کوونکی کارو. خو که فکر وشي اوس دوئ د تیښتې لار نلري، د دوئ وعدې او دعوې دومره لوړې اوښکاره وې چې له پوره کولو نه یې شاتګ ممکن ندی، ددوئ تاریخ به نور "اسلامي تاریخ" وي،ددوئ په اوږو د درونډ مسولیت بار پروت دی ،اوس که دوئ خوښ وي او ناخوښ په هرحالت کې به داسلامي حکومت جوړولو تصور له پامه نه غورځوي او نه هغه په څنډ ولو به هغه فکر سوړ شي ،ولې اوس مهال داسلامي دولت جوړولو نظریې د منځه وړلو پرېکړه یواځې دکارې تګلارې په بدلون فیصله کیدای نشي .ګواکې دا کار به دخپل دین او وطن اساس په تیرد وهلو مرادف وي، اوټوله نړۍ به د دې تیښتې مطلب دا اخلي چې د اسلامي دولت نظریه لایعني ده!! او دا ناره یواځې فریب ده، کومه چې دنوي ژوند غوښتنو ته دخواب ویلو وړتیا نلري، یا داچې پاکستانی ولس دیو قوم په حیث پخپل ملي ژوندانه کې داسلام په پلي کولو کې پاتې راغلی.په دې صورت کې دنړۍ په اند: پخپله دمسلمانانو ایماني معتقدات به هم مشکوک اودتنقید وړ وګرځي (ژباړه: چراغ راه نظریه پاکستان) نوربیا

داسلامي امارت اداري تشکيل:

عبدالحنان " همت "

کله چې په ۲۰۰۱ کې د صليبي اشر په پايله کې په افغانستان کې اسلامي امارت له لويوښاروڅخه شاته تګ وکړ هغه وخت دنړۍ زبرځواک او د ناټو مغروري ټلوالې په خپل ټول توان سره يرغل کړی و، نو ځکه دا اټکل ناشونی و چې بيا به دطالبانو اسلامي تحريک او اسلامي امارت دنظامي ،سياسي اوهر اړخيز فعاليت جوګه شي .

خولکه چې اللهي ثابت شوی سنت دی ، چې د هرباطل او طاغوت په وړاندې به ضرور د حق د لارې يوه ثابت قدمه ډله موجوده وي ، ترڅو د استعمار په وړاندې د نه ستړې کيدونکې مبارزې له لارې له خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو څخه دفاع وکړي .

همغه ؤ چې لږ وروسته په داسې حال کې چې شرائط ډير ترينګلي او پر سيمه يوازې د بي ۵۲ډوله الوتکو راج چليده د اسلامي امارت زعيم اميرالمؤمنين له خپلو څو تنونظامي قومندانانو او دتحريک له مشرانو سره د پټو روابطو له لارې دجهاد او بيا پا څون کولو امر صادر کړ اودجهادي چارو دتنظيم لپاره يې ملا عبدالغني برادراوشهيد ملا عبيدالله اخند دخپلوناێبانو په حيث معرفي کړل چې ورپسې

د اسلامي امارت په استازتوب څوکسيزه رهبري شورى او يو نظامي کميسيون جوړ شول، ولې د وخت په تيريدلو سره دوی په خپلو تشکيلاتو کې د حالاتو او شرائطو له غوښتنو سره سم بدلون او زيادت را ووست .

چې په اوسنيو حالاتو کې اسلامي امارت د لاندې اداري تشکيل په درلودلو سره خپل هر اړخيز فعاليتونه پر مخ بيايي .

داميرالمؤمنين نيابت او د مشرتابه دفتر :

دا مقام د امیرالمؤمنین پر نیابت سربیره د رهبري شوری او د یوولسو کمیسیونونو مشرتوب او دهغوی سرپرستي پر غاړه لري ، هر وخت له هغوی سره د ناستو اوسلامشورو له لارې دهغوی فعالیتونه تعقیب او د بهبود خواته رهبري کوي او د ټولو فعالیتونو راپور تر امیرالمؤمنین پورې رسوي .

رهبري شوری :

دا شوری د شلو په شاوخوا کې غړي لري چې ټول یې د اسلامي امارت تجربه شوي مشران دي ، دوی د خپلو شرائطو سره سم

د نائب امیر په مشرتوب سره منظمې غونډې لري ، چې په دې شوری کې د افغانستان ، امارت او سیمې نظامي ، سیاسي او ټولنیز مسائل دمحمدي شریعت په چوکاټ کې ترپوره غور لاندې نیول کیږي او درایو په اکثریت سره فیصله کیږي .

قضااومحکمې:

د محکمې او قاضي مقام لکه څرنګه چې په اسلام کې ارزښت لري ،دا ډول د افغانستان اسلامي امارت هم په خورا درنښت ورته قائل دی ، دا مقام د پوره خپلواکي ، جیدو او باتجربه علماء کرامو په درلودلو سره د امیر او ادنا کارکوونکي او عاموهیوادوالو په اړه په بې پرې ډول پریکړې کولای شي ، دا ارګان د درې ګونو محاکمو ابتدائیه ، مرافعه او تمیز په درلودلو سره د ټول هیواد په کچه په هر ولایت او هره ولسوالي کې خپل تشکیلات لري ، چې لله الحمد په پوره اهتمام سره بې له څنډ او له رشوته د عامو مسلمانو منازعات د محمدي غرا شریعت او حنیفي فقهي په رڼا کې حل او فصل کوي .

چې اوس د کابل داداري دمحکمو پرځای ولسي خلک دوی ته ډیره مراجعه کوي اوله کاریې خوښ دي .

نظامي کمیسیون او د هغه مربوط لس حلقې:

داکمیسیون دټول هیواد په کچه پر لسو نظامي حلقو ویشل شوی دی . دهرو درو یا څلورو همسرحدو ولایتونو پر سر یوه حلقه لري او د حلقو مشران بیا د مرکزي نظامي کمیسیون غړیتوب لري ، دهري حلقي مشر اوغړي وخت په وخت د خپلو مربوطه ولایتونو له والیانو، نظامي قومندانانو او ولسوالانو سره ناستې او سلا مشورې لري او د هغوی دمربوطه سیمو ، کارونواو ستونزو په اړه له مرکزي کمیسیون سره له سلا وروسته پریکړې کوي .

داراز د حلقو مشران د خپلو مربوطه والیانو ،نظامي قومندانانو او ډلګی مشرانو جهادي فعالیتونه تر دقیقي څارنې لاندې نیسي داسلامي امارت او دنظامي کمیسیون له لایحي عمل څخه د تخلف په صورت کې له مرکزي کمیسیون او دامارت له مشرتابه سره له سلا وروسته کولای شي چې والي قومندان او ډلګی مشر مجازات کړي اویاکه لازمه وګڼي مشرتابه ته یې ګوښه کیدل یا تبدیلي پیشنهادکړي .

دا راز د هیواد ۳۴ولایتونو اداري تشکیل هم د نظامي کمیسیون مربوط دی ،دا کمیسیون د هر ولایت په سطحه ځانګړی تشکیل لري چې والي ، د والي مرستیال ولسوال او په ولسوالي کې مختلفې ډلګی او ګروفونه لري او د هر ولایت په سطحه ولایتي نظامي کمیسون او د ولسوالي په سطحه د سیمي د علماء کرامو او مخورو د کمیسیون په درلودلو سره د ولس او مجاهدینو پر ستونزو غور کوي او هغوی ته حل لاري لټوي ، په ولایتونو او ولسوالیو کې د اکثره کمیسیونونو

استازي هم شتون لري تر څو په نوموړي ولايت يا ولسوالي کې د خپلې ادارې نمايندګي وکړای شي .

نظامي کميسيون وخت په وخت ټولو ولايتونو ته خپل با صلاحيته پلاوي ليږي تر څو د هغو ولاياتونو د نظامي ډلګيو د جهادي فعاليت ، له ولس سره د هغوی دچال چلند او داسلامي امارت دلايحې اوفرامينودتطبيق جاج واخلي او راپور مرکزي کميسيون ته وړاندې کړي .نظامي کميسيون مکلف دی چې له خپل توان سره برابر د ولاياتو د محاذونو او نظامي ډلګيو اکمالات او د سيميناروnو او نظامي کورسونو له لارې د ټولو مجاهدينو نظامي او فکري تربيه وکړي او وخت په وخت دهرې سيمې له وضعيت سره مناسب نظامي پلانونه او پروګرامونه ورکړي .

سياسي کميسيون :

دا کميسيون د خپلې لايحې ، د اميرالمؤمنين د فرامينو او د امارت د رهبري شورى د احکامو له مخې خپله سياسي تګلاره پر مخ وړي ،دوی د خپلو ورکړل شويو صلاحيتونو په رڼا کې له نړيوالوسره ليدنې کتنې تر سره کوي تر څو نړيوال او د افغانستان په موضوع کې ذيدخله طرفونه دافغانستان د اسلامي امارت له دريځه خبر اوپه هره برخه کې له خپلو حقوقو څخه دفاع وکړي .

فرهنګي کميسيون :

فرهنګي کميسيون مسؤليت لري چې په هيواد کې د اسلامي امارت په استازيتوب سره د يرغلګرو په وړاندې د روان جهاد له مقدسو اهدافو څخه دفاع او ددې ناروا يرغل په وړاندې د افغانستان د مسلمان ولس د ذهنونو په تنوير کې رغنده رول ولوبوي .

دغه کميسيون په خپل کاري چوکاټ کې د اسلامي امارت پروپاګندويي سربيره ٦ ويب پاڼې په مختلفو ژبو چلوي ٦ مياشتنۍ مجلې د څرک ، شهامت ، مرچل ، حقيقت ،الصمود او شريعت په نومونو چاپوي د څلوروستوډيو ګانو الامارة ، منبع الجهادتوره بوړه او الهجرة په مټ اسلامي ، حماسي او دعوتي فلمونه او د جهاد ګرمي صحنې په مختلفو ژبو کې خپروي .دا اداره داسلامي امارت ټولي رسمي اعلاميې ،څرګندونې ،لاځې ، پر بيلابيلو موضوعاتو کښ شمير کتابونه او نور د امارت مربوط فرهنګي او علمي توکي خپروي .

اقتصادي کميسيون :

دا کميسيون هم د خپلې لايحې له مخې مکلف دی چې د اسلامي امارت د ټولو نظامي او اداري مصارفو لپاره له عامو ولسونو څخه د چندو له لارې بودیجه برابره او بيا د دوی له لارې تقسيم شي .دوی دنده لري چې وخت په وخت د اسلامي امارت له ټولو ارګانونو سره د هغوی د مصارفو په اړه په دقيق ډول سره حساب وکړي او راپور رهبري شورى او د شورى مشرتابه ته وړاندې کړي .

ددې اداري برکت دی چې داسلامي امارت ټول مالي حسابونه او مصارف په ډير شفاف ډول سره تر سره کيږي چې په دې ډول دهر ډول خود سرانه مصارفو او په بيت المال کې دلاس وهنې مخه نيول شوې ده .

د صحت کميسيون :

دا کميسيون په جګړه کې د زخمي شويو مجاهدينو د علاج کولو دنده پر غاړه لري ، دوی د زخميانو دعلاج لپاره د سيارو ډاکټرانو په پيداکولو او د مسلکي پرسونل روزلو په مټ توانيدلي دي چې په هر محاذ کې او دجګړې شاته ډاکټران ولري ، ترڅو د زخميانو درملنه

پروخت وشي که چیرته زخمي زیاتې درملنې ته اړتیا ولري نو دوی مکلف دي چې زخمي نورو روغتونونو ته انتقال کړي ، چې په هرکال کې په ښه اهتمام سره دزرګونو زخمیانو درملنه کوي .

دتعلیم او تربیې کمیسیون :

تعلیم او پوهه هغه څه ده چې وروسته پاتې ټولنې له بحرانونو څخه راباسي او د خلاصون لور ته یې رهبري کوي ، نو ځکه د افغانستان اسلامي امارت په اداري تشکیل کې دې کمیسیون ته خورا ارزښت ورکول شوی دی ، دا اداره د مستقلې لایحې په درلودلو سره په هره برخه کې د پوهو اشخاصو څخه جوړ علمي بورډونه لري او د هیواد په هر ولایت کې چې د اسلامي امارت تر تسلط لاندي دي د خپلو استازو په مټ د ولس ماشومانو ته د مکتب او مدرسې د پرانستلو، نصاب برابرولو او په دې لار کې له خلکو سره د هغوی د ستونزو په حلولو کې مرستې کوي .

دا ډول دا کمیسیون د امارت تر نفوذ لاندې سیمو کې د تعلیم ټول بهیر او پروسیجر تر مستقیم څار او مراقبت لاندې ساتي تر څو په تدریسي چارو کې د یرغلګر دښمن هرډول زهرجن پلانونه پروخت کشف او کنترول کړي .

د دعوت اوارشاد کمیسیون :

د افغانستان اسلامي امارت له شروع تر اوسه په خپل ټول توان سره کوښښ کړی دی چې د هیواد د اشغال په اړه له خپلو هیواد والو سره د دعوت له لارې خبرې وکړي تر څو زموږ هغه ناخبره او د میډیا په مټ یرغمل شوي هیوادوال وپوهیږي چې د خپلو اسلامي او ملي ارزښتنو د دفاع په لار کې زموږ رسالت او دندې کومې دي او څه باید وکړو ،

چې همدې موخې ته د رسیدلو لپاره یې د دعوت او ارشاد په نامه مستقل کمیسیون جوړ کړ ،

دا کمیسیون دهیواد په هره ولسوالۍ او هره سیمه کې خپل استازي لري ، دوی

داسلامي امارت مخالیفینوته د محمدي شریعت په رڼا کې دعوت ورکوي چې یاخو له اسلامي امارت سره د جهاد په صف کې و دریږي او یا هم پر کور کښېني چې لله الحمد تر اوسه یې ښه نتیجه ورکړې ده ،اود دې کمیسیون د استازو په مټ په زرګونو ناخبره او یرغمل شوي افغانان له اسلامي امارت سره یا خو یوځای شوي او یا پر کور کښېناستلي دي چې دالړۍ لا روانه ده یاد کمیسیون داولس له مخورو او تعلیم یافته قشر اوعامو وکړو سره داسلامي امارت په تل پاته اړیکوټینګولو هم موثر کار کوي اوهم وخت په وخت دمجاهدینو داخلاقي اودیني روزنې لپاره بیلابیل پروګرامونه تطبیقوي .

د بندیانو کمیسیون :

دا کمیسیون د اسلامي امارت د ټولو اسیرانو لپاره که په داخل کې وي که له هیواده بهر وي جوړ شوی دی ،دوی د خپلې لایحې له مخې مکلف دي چې وخت په وخت د خپلو بندیانو پوښتنه وکړي په زندانونو کې یې د خوراک ، تداوي ، او نورو ضرورتونو غم وخوري . دا راز دوی مکلف دي چې د هر بندي تر خلاصېدلو پورې د هغه دوسیه تعقیب او د نوموړي بندي په خلاصون کې له مناسبو وسائلو او لارو څخه استفاده وکړي .

لـه بنـدیانو سـره د ظلـم او تیـري پـه صـورت کـې کمیسـیون مکلـف دی چـې د بنـدیانو د نسـبي حقوقـو د تامین لپاره له ځینو خیریه او نړیوالو ټولنـو سره اړیکې ونیسـي تـر څـو د بنـدیا نـو لپـاره حتـی الوسـع سـتونزې هوارې کړي اوهغه راخلاص شوي بندیان چې تداوي ته ضرورت لري دعلاج لپاره یې دصحت کمیسیون تـه معرفي کوي .

د مؤ سساتو کمیسیون :

دا اداره په ټول هیواد کې د مؤسساتو او خیریه ټولنو د څار او مراقبت دنده په غاړه لري ، نوموړی کمیسیون ټولـو هغـو مؤسسـو تـه چـې د یرغلګـرو لـه هـر ډول استخباراتي او اسلامي ارزښتونو ته د خطر له شایبو پاکې وي د کار زمینه برابره وي .

یاد کمیسیون په ټول هیواد کې د تلیفوني شبکو د څار او کنټرول تر څنګ په هیواد کې د هغو قراردادونو او پریکړو دقیقـه څېړنـه کـوي چـې پـه مختلفـو برخـو کـې له افغانستان سره شوي دي او د هغو مؤسساتو کارونـه او د کارونو کفیت بررسي کوي چې غواړي یـوازې د ابادۍ او بشردوستي په نیت د ښوونځیو ،مدرسـو ، کوهیـانو ، سړکونو ،ویالو ، استنادي دیوالونو ،بندونو او پـه زراعتـي برخو کې په بې پـرې ډول سره خـدمات وړانـدې کـړي ، په یادو ټولو برخو کې د مؤ سساتو کارونه ستایل کیږي او د کار زمینه ورته برابریږي .

د ملکي تلفاتو د مخنیوي اداره:

د اسلامي امـارت پـه تشـکیل کـې د ملکـي تلفـاتو د مخنیوي اداره ته هم ځای ورکول شوی دی او په خپـل ټول توان سره کوښښ کوي چې په جګړه کې ملکي ېې دفاع خلکو دوژنې مخنیوی وشي

دااداره پـه ټـول هیـواد کـې د ملکـي تلفـاتو قضـیې څېړي په هغو سیمو کې چې خدای ناخواسته د امارت لخوا ملکي خلکو ته تلفات ورسیږي د هغوی په اړه پـوره پلټنه کوي که د تلفاتو عاملین د مجازات وړ وو هغـوی سمدلاسه محکمې ته وړاندې کوي تـر هغـو یـې فعالیـت معطل کیږي تر څو د دوی په اړه محکمه پریکړه کوي .

دا راز دوی مکلف دي چې لـه زیانمنو کورنیـو سره دغم شریکي ترڅنګ د قضیې پـه څېړنـه او عـامیلنو تـه پـه سزا ورکولو کې له هغوی سره مرسـته وکـړي چـې تـر اوسه یې په سلګونو داسې قضـیې څېړلـي او عـاملین یـې محکمې ته وړاندې کړي دي .

دشهیدانو او معیوبینو اداره :

دا اداره هـم د خپلـې لایحـې او پرسـونل پـه درلودلـو سره دشـهیدانو او معیوبینـو د ثبت او راجسټر کولو تـر څنګ د شهیدانو له کورنیو سره د امارت په استازیتوب د پوښتنو ګرویږنو په کولو سره خواخوږي څرګنـدوي او له هرې ځوریـدلې کـورنۍ سره د خپـل تـوان سـره برابـر مرستې کوي او د یتیمانو لپاره یې د تعلیم کولـو زمینـه برابروي.

د معدنیاتو اداره :

دا کمیسیون د امـارت تـر نفـوذ لانـدې سیمو کې د کانونو او طبیعي زېرمو د ساتنې تـر څنګ د بې قانونـه او غیر مسلکي استخراج مخنیوی کوي .

سږ کال څه کم درې زره کسان د دښمن له پوځي لیکو را جلا شوي...

درنو لوستونکو !

لکـه څنګـه چې خبریاسـت ، دافغانسـتان داسـلامي امارت مجاهدین که له یوې خوا له یرغلګرو دښمنانو سره په مسلح جهاد بوخت دي، بله خوا یي هغو کسـانو تـه چې دپیسـو پـه خاطر یا پـه تبلیغاتو د تیروتلو لـه امله دکـافر دښمن سره په صف کې درېدلي دي اسلامي امارت ورتـه د تسلیمې او د دښمن له لیکو د راوتلو لاره پرانیسـتي پرې ایښې او دهمدې لپاره یې ددعوت وارشاد په نامه ځانګړی کمیسـیون پـه کـار ګمارلی دی، داچې پـه دې برخـه کـې کارونـه څنګـه روان دي دا ځل مـو ددعـوت کمیسـیون لـه لوړرتبه غړي او د شلو ولایاتو د دعوتي چارو لـه عـومي مسـؤل مولـوي شـمس الـدین سره مرکـه کـړې چې ستاسـو توجه ورته راګرځوو.

پوښتنه : لـه هرڅه وړاندې که زموږ لوستونکو تـه ځان معرفي کړئ ؟

ځواب: زما نوم مولوي شمس الدین د بدخشان ولایت د کشم د ولسـوالی اوسیدونکی ابتـدایي تعلیمـات مـې تـر څلورم صنفه د خپل کلي په عصري مدرسه کې وویـل، بیا مې د کشم د ولسوالی د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه په مدرسه کې دیني درسونه تر پنځمې درجې پورې ولوسـتل، بیـا پـه ۱۳۷۸ هجری شمسـی کـې دار الهجـرت پاکستان ته ولاړم هلته مې پاتې درسونه په ګڼو مشهورو مدرسو کې تعقیب کړل لکـه جامعـه ضـیاء الاسلام بورد پېښـور، جامعـه اسـلامیه راولپنډي، دار العلوم نعمانیـه چهارصده، دار العلوم هاشمیه باړه، دوره تفسیر مې په دار العلوم تعلیم القران شاه منصور کې ترسره کړه او د حدیثو د فراغت سند مې له دار العلوم هادیه پېښور څخه تر لاسه کړ.

د افغانسـتان د طالبـانو لـه اسـلامي تحریـک سـره د لومړي کال پـه دویمـه میاشت کې ملګری شوم پـه لومړیو کرښو کې د نظامي دلګی مشر په توګه په جهاد بوخت وم، بیا د څرخ ولسوالی مسئولیت هم را پـه غاړه شو تر هغـه وروسته بیا د چهار آسیاب ولسوالی ولسوال وم د کابل د فتحې یو کال وروسته د پکتیا ولایت تـه د والي پـه توګـه واسـتول شـوم، تـر هغـه وروسـته مـې درې کالـه د میـدان وردګ ولایت د والي په توګه دنده تر سره کړه، د امریکـا تر یرغل یو کال وروسته چې محترم قاری صاحب دین محمد د بدخشان ولایت مسئول و زه یې مرستیال وم بیـا یـو کـال وروسته د نومورې ولایت عمومی نظامی مسئولیت تر دریو کـالو پـورې زمـا پـه غـاړه و، تـر هغـه وروسـته بیـا د دعوت وارشاد د کمیسیون غړی شوم، دا دی اوس له دریو کالو را په دېخوا د دعوت وارشاد او جلب جذب د عـالي کمېسـیون د شـلو (شـمال ،شـمال ختیځـو ،مرکزي او دمشرقي) ولایاتو مسئولیت را په غاړه دی.

پوښتنه: د دعوت و ارشاد کمیسیون په اړه که معلومات راکړئ، دا کمیسیون کومې برخې او تشکیلات لري او د کار ساحه یې څومره پراخه ده ؟

ځواب: ددعوة و ارشاد یا جلب و جذب کمیسیون لکـه له نامه څخه چې یې معلومیږي څلور عمده بخشونه لري

اول دعوت دوهم ارشاد دریم دمخالف طرف جلب جذب کول ، اوځلورم مرکزي دارالافتاء، اومربوطه علمي او فقهي مجالس چي دامارت د ادارو او دعام ولس فتواوي ورته راځي، اوله حل کولو ورسته يې بيرته تر لاسه کوي او دتشکيلاتو په برخه کي دکميسيون عمومي رياست ،ساحوي مسئولين ،اداري رياست ، ددارالافتاء رياست ، اوپه ۳۴ ولايتونو کي رياستونه اومعاونيتونه او په ټولو ولسواليو کي مدريتونه لري، له جلاوطنو افغانانو سره دارتباط مرکزونه اوپه اکثره مناطقو کي علمي اودعوت حلقي اومجلسونه لري په ځينو سيمو کې په مساجدوکي په ديني امورو دپوهولو ييا خاص طور دلمانځه دزدکړي استادان لري ، دهيواد په سطحه علمي فقهي مجالس لري ، چې په مجموع کي هغوی ټول د خپل مشرتابه د لاربښوونو سره سم د لاندې سترو اهدافو لپاره کار او فعاليت کوي.

- د دعوت او ارشاد کارکونکي د الله جل جلاله او نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مبارکو سنتو مطابق خلک ښو او نيکو اعمالو ته را بولي.

- د ديني علماوو، مدرسينو استادانو او طالبانو سره په تماس کې وي او د هغوی د مرستې او پام جلبول خپله دنده ګڼي.

- د عصري زده کړو د ادارو له مسئولينو، استادانو او شاګردانو سره ليدل کتل کوي او د اسلامي امارت اهداف ورته تشريح کوي او د جهاد اړتيا او اسلامي نظام د رامنځته کولو اهميت او د امريکا په مشری د نړيوال کفري ائتلاف له شومو او خطرناکو اهدافو څخه يې خبروي او جهاد ته يې تشويقوي.

- د ولس او اسلامي امارت ترمنځ د اصولو پر بنسټ تل پاتې ژورې اړيکې ټينګوي.

- د اسلامي امارت تر بيرغ لاندې د ټول ملت وګړو ترمنځ د ښه يووالي او ورورګلوی، ايثار او قرباني فضا ايجادوي، د دښمن له لوري د قومي لساني، او سمتي تعصباتو د رامنځ ته کولو مخنيوی کوي تر څو ټول ملت په يو صف کې له اسلام او خپلې خاورې څخه ساتنه وکړي.

- د دعوت او ارشاد کميسيون د يوې علمي ټولنې په حيث د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پر بنسټ د اسلامي امارت هر مسئول او مجاهد د تقوی، د اولو الامر اطاعت، اتفاق اتحاد، د ملکي تلفاتو د مخنيوي، له عامو خلکو سره د ښه سلوک او په ځانګړې توګه د مشرتابه د فرامينو او احکامو د تطبيق په هکله توصيې او سپارښتنې کوي.

- د دعوت او ارشاد کارکوونکي په خورا ښه او مؤثره طريقه خلک حق ته را بولي ،له ضرب او زجر څخه کار نه اخلي که اړتيا پيښه شي نو موضوع اړونده مراجعو ته سپاري.

- نوموړی کميسيون جهادي محاذونو ته هم وخت په وخت علماء کرام استوي تر څو له يوې خوا د مجاهدينو د تشويق او ډاډګيرنې سبب وي او له بلې خوا هغوی ته د شرعي احکامو او د اسلامي اخلاقو په حدودو کې د ثابت قدمی سپارښتنه وکړي.

- نوموړی کمېسيون د ولس د هڅولو او جهاد ته د تشويق کولو لپاره د هېواد د مذهبي علماوو، روحانيونو او سياسي مسلکي پوهانو او قومي مشرانو سره په تماس کې وي او مشورې او مرسته ورڅخه وغواړي.

- د دعوت او ارشاد کارکوونکي د ولايتي مسئول له لارې د دعوت او ارشاد پروګرامونه په ساحه کې د اسلامي امارت مسئولو اشخاصو ته واضح کوي او د هغوی په ملتيا د خپلو سپېڅلو اهدافو د تطبيق کوشش کوي.

- د دعوت او ارشاد کميسيون د خپل کاري پرسونل په ذريعه له هغو افغانانو سره اړيکې نيسي چې له حالاتو او شرائطو نه په اغېز په يو ډول نه يو ډول د

یرغلگرو په لاس جوړې شوې ادارې مرستندوی وه د حقائقو د ادراک په صورت کې یې جلبوي د اسلام او هېواد په گټه یې د ځینو موخو د ترلاسه کولو په خاطر توظیفوي او یا یې هم لږ تر لږه داسې ژوند تېرولو ته هڅوي چې اسلام او هېواد والو ته په زیان نه وي.

- د دعوت او ارشاد کمیسیون زیار باسي هغه هېواد وال چې د دښمن د پروپاگند او یا هم د کومې بلې منشاء په اساس اندېښنه لري په دې پوه او ډاډ من کړي چې اسلامي امارت د یرغلگرو تر وتلو وروسته او بشپړې واکمنۍ په مهال هم نه یوازې دا چې د غچ اخیستونکو اقداماتو مخالف ده بلکې پخپل ټول وس هڅه کوي چې ټول افغانان د یووالي او خپلواکۍ، عدل او امن په فضاء کې سوکاله او آرام ژوند ولري او خپلو ملي او اسلامي حقه حقوقو څخه برخمن وي.

پوښتنه: د دعوت او ارشاد کمیسیون د تاسیس بنیادي موخه څه ده؟

ځواب: دا چې د اسلامي امارت جوړښت د شریعت د تنفیذ او د بشپړ اسلامي نظام د پلي کېدو په منظور شوی نو لازم ده چې د تل لپاره باید د عوت شعبه برحاله او ژوندۍ وساتل شي تر څو تر جهادي اقداماتو د مخه مقدماتي او دعوتي پروگرامونه جاري وي، د شرعي مقاصدو او د اسلامي نظام د عالیه اهدافو په هکله د تفهیم او افادې کړکې. خلاصه وي چې له یوه پلوه به په مقابل لوري اتمام حجت وی او له بل لوري به په دې توگه د الهی نصرت جلب ذریعه وي ،او دا چې یرغلگرو په خپل ټول وس او توان د هېوادوالو او په خصوصي توگه د ځوان کهول او نوي نسل د بې لارې کولو او له خپلو مذهبي ارزښتونو څخه د لرې کولو په منظور متې را نغښتې وې نو اسلامی امارت لازم وگڼله د خپل ملت د عقیدې او اعمالو څخه د تحفظ په موخه د دعوت و ارشاد شعبه پرانستله او ورته سپارښتنه یې وکړه چې د هېوادو والو د معنوي پانگې او دینی اقدارو درشد او تقویت په برخه کې دې لاس په کار شي او د ملت نخبه اشخاص یعني علماء کرام، خطیبان، صالح او متدین سپین ږیري، صالح قومي او جهادي مشران او د عصري تعلیمي مراکزو مسئولین وهڅوي تر څو په دې برخه کې خپل ایماني مسئولیت ته متوجه شي.

دا چې کله د یرغلگرو او مزدورې ادارې په مقابل کې سپیڅلي جهاد او د سربښندونکو طالبانو قربانیو رنگ راوړ او له هغو افغانانو سره چې له حالاتو او شرائطو ته په اغېز په یو ډول نه یو ډول د یرغلگرو په لاس جوړې شوې ادارې مرستندویان شوي وه تشویش پیدا شو چې زموږ د تېروتنې په مقابل کې به د اسلامي امارت غبرگون څه وي اسلامي امارت د خپلې لورینې او خواخوږې له مخې د مکې له فتحې او نبوي سپیڅلي سیرت څخه په الهام په ډاگه کړه چې د غولېدلو هېوادوالو پر مخ زموږ د شفقت غېږه خلاصه ده موږ د غچ اخیستنې اراده نلرو زموږ جهاد له قومونو او اشخاصو سره نه ده بلکې موږ د یرغلگرو تر ماتې او بشپړ وتلو وروسته غواړو دا هېواد د امن او سوکالۍ نمونه او د داسې اسلامي نظام څخه چې د ټولو مسلمان ولس سرونه، مالونه، عزت، یووالی، ملي او مذهبي گټې او افتخارات په کې خوندي وي برخمن کړو هماغه وه چې د جلب وجذب په نامه شعبه یې هم د همدې عالي اهدافو په منظور دعوت وارشاد پورې وتړله، چې متدین ولس هم د اسلامی امارت دا اقدام د حالاتو تقاضا د هغوی د سینې د پراخی، حلم، صدقانه جهاد، د بصیرت او فراست نښه وبلله او کوم کسان چې د کفارو په لاس په جوړ سوي فاسده اداره کي کار کوي او په یوتر ټولو لوی منکر کي لویدلي دي ددي کمیسیون یوه لویه موخه دهغو افغانانو له دي منکر څخه خلاصون دي تر څو له دي دنیوي او اخروي ذلت څخه داافغانان راخلاص کړي اودازاد ،خپلواک او واقعي مئمون ژوندون خاوندان سي.

او همدا راز اسلامي امارت غوښتل چې د طالبانو او مجاهدینو اخلاق باید معیاري وي، کشران د مشرانو

شرعي اطاعت ته ژمن وي، خپلې دندې د مشروعه جهادي اصولو له مخې پر مخ بوځي، د اسلامي سپېڅلو حکمونو په هکله له غفلت او بې اعتنايي څخه کار وانخلي، دظلم، تکبر، حسد عجب، ځان غوښتنې او دا ډول نورو خطرناکو مرضونو څخه په امن کې پاتې شي او لنډه دا چې د غوره مومن او اخلاصمن مجاهد په توګه د اسلامي امارت متعهد واوسي نو له دې کبله يې د دعوت وارشاد د شعبې برحاله کول اړين وګڼل.

پوښتنه: سږکال د دعوت او ارشاد کميسيون په هڅو څومره کسان د دښمن له ليکلو را ايستل شوي دي، په دې اړه که دخپلې کارکردګي په اړه تفصيلي معلومات راسره شريک کړئ.

ځواب: دروان کال په داتيرولسو مياشتو کې (۲۲۵۹) تنه له (۲۵۷) ميله سپکو اودرنو وسلو او ډيرو وسائلو اومهماتو اوعرادجاتو سره له فاسدي اداری راجلا سوي اوداسلامي امارت قيادت يې منلې ده په راجلاسويو کسانو کې قوماندانان سرګروپان اولوړ پوړي کسان اوعادي عسکر اومامورين شامل دي دراجلا سويو کسانو مکمل تفصيل اودهر راوتلي کس شهرت اودراوړيو وسائلو اندازه دهري مياشتي په اخر کې دامارت په مطبوعاتو کې په منظم ډول خپور سوي ده ديادوني وړده په تيرو ۲۹ مياشتو کې (۱۰۲۰۸) نفره له (۲۱۲۸) ميله اصلحو اوډيرومهماتو ،وسائلو اوعرادجاتو سره دفاسدي اداری له صفوفو راجلا سوي دي اوله اسلامي امارت سره يو ځای سوي دي.

پوښتنه: آيا د دعوت او ارشاد کميسيون مسؤليت يوازې د دښمن په صف کې دداخلو کسانو رادعوتول دي او که دعام اولس او پرګنو په منځ کې هم دعوت کوي ترڅو يې له اسلامي امارت سره ملاتړ ته وهڅوي ؟

ځواب: دعوت وارشاد د خپلې لايحې له مخې د لاندې څو مهمو موضوعاتو په هکله الحمد الله په زړه پورې اقدامات تر سره کړي

- د قرآن وحديث ترويج او اشاعت
- د منکراتو او بدعتونو ازاله
- د نبوی سپېڅلو سنتو احياء
- د ديني اسلافو، فقهاو روحاني شخصيتونو له اقدارو څخه دفاع
- د شرعی سترې فقهي پانګې او ارزښت برحال ساتل.
- له انحرافي پروګرامونو څخه د هېواد والو ژغورنه
- د ملي او مذهبي يو والي تحفظ.
- د اسلامي امارت د ګټورو پاليسيو په هکله له اغېزمن شويو اذهانو څخه د تشويشونو ازاله کول
- د جهادي بهير د سپېڅلتيا د تحفظ په منظور تربيوي نشستونو او سيمينارونو ترتيبول

پو رته ياد شوي موضوعات د دعوت وارشاد د ملګرو د فعاليتونو مهمې برخې دي، او په دې هکله تر خپله وسه خپل محنت جاري ساتي

لکه چې ليدل کيږي ددې کميسون دولسواليو مسئولين ،علماء کرام ،متنفذين ،خصوصي استاذي اودمساجدو امامان په عام ولس کې دعوة کوي اوعام ولس ته دامارت په حقانيت قناعت ورکوي اودمجاهدينو او عام ولس تر مينځ لري والی له مينځه وړي مسلح مجاهدين او عام مخلص ولس سره نزدې کوي، دمثال په توګه په داتيرودريو مياشتو کې دهيواد په بيلابيلو ولاياتو کې د دعوت او ارشاد دمحلي مسؤلينو لخوا د اولس دتنوير لپاره ګڼې غونډې او پراخ مجالس جوړ شوي چې د بيلګې په توګه يې دڅو ولاياتو شمير په لاندې ډول دی.

میدان وردگ ۴۳ مجالس ،غزني ۵۵ مجالس ، زابل ۲۱ مجالس ،روزګان ۴۲ مجالس ، کندهار ۳۸ مجالس ،فراه ۴۳ مجالس ،هلمند ۲۰ مجالس ،فارياب ۴۹ مجالس دغسې په نورو ولاياتو کې هم ګڼې ولسي غونډې دايرې شوي دي په هره يوه کې اولس ته د روان حالاتو او ددوی د مسؤليتونو په اړه رهنمايي شوې دااسلامي امارت اهداف ورته روښانه شوي په دې مجالسو کې ځيني دومره پراخ و چې حتی ترزرو کسانو زياتو خلکو په کې ګډو درلود.

پوښتنه : کوم کسان چې ددښمن له صف څخه راجلا کيږي دااسلامي امارت لخوا څرنګه چلند ورسره کيږي او دوی څومره دا اعتماد کولای شي چې دوی ته به زيان نه رسيږي او سر به يې په امن وي ؟

ځواب : څرنګه چې دااسلامي امارت دمسؤلينودايو ځانګړي خصوصيت ده چې پر خپلو وعدو وفاکوي نوراوتونکي کسان هم دامارت دمسؤلينو دامن پر وعدو مطمئن وي اواسلامي امارت هم ددوی دااطمنان لپاره داکميسيون ايجاد کړی چې راوتلی کسان همزمان ښه نازول شوي، د سر مال او عزت د خونديتوب ډاډ ورکړل شوی د لازيات اعتماد په خاطر زياترو ته د اسلامی امارت رسمی او منظور شده تعهد نامې او کارتونه ورکړل شوي، مربوطه نورو ارګانونو ته ور معرفی شوی چې د هغوی له لوري هم اطمينان ورکړل شوی چې په مجموعی توګه تول راغلی کسان د ډاډ په فضاء کې خپل ژوند ته دوام ورکوي.

پوښتنه: په دې وروستيو کې ددښمن د مسلحو افرادو تسليميدل خورازيات شوي دي ستاسو په نظر يې عوامل څه دي؟

ځواب : شايد ګڼ لاملونه ولري خو تر ټولو ستر لامل به يې دا وي چې د يرغلګرو په اصلي موخو ورته علم حاصل شو دا يقين يې پوخ شو چې هغوی په خپلو خبرو کې دروغجن دي هغوی د دين او مسلمان ملت سرسخت دښمنان دي هيڅکله هم د افغانستان د خلکو خوښي او ښيرازی نشی زغملای او تل يې هڅه او کوښښ دا ده چې افغانان ذليل او ناتوانه کړي ترڅو د تل لپاره د دوی غلامي خپله مجبوري جوړه شي.

بله دا چې اسلامي امارت هم تر جنګ د مخه د هغوی پوهاوي ته ترجيح ورکړې د دعوت وارشاد کميسيون زيار ايستلی ترڅو خپل مجاهدين او د نظامي ډګر اتلان وهڅوي، چې تر کومه بريده ممکن وي غوليدلی هېواد وال له مرګ څخه وژغوري چې الحمد لله اوس په مجموع کې ټول طالبان او مجاهدين د دعوت وارشاد له ملګرو سره د جلب او جذب په برخه کې ډېره مرسته کوي.

او بله دا چې د دعوت وارشاد ملګرو په ځانګړي توګه په سږني کال کې د هېواد له نامتو علماء کرامو، خطيبانو، مدرسينو، بانفوذه قومي مشرانو، جهادی صالحو قوماندانو، د عصری مکاتبو له مديرانو، مشهورو استادانو او د ادب او فرهنګ له مخکښانو سره له نږدې مجلسونه وکړل هغوی يې وهڅول چې خپل مسئوليت ته ځير شي او د غوليدلو هېواد والو د پوهاوي په برخه کې خپله ورتيا وکاروي چې الحمد لله هغوی هم ښه تاثر واخيست ژمنې يې وکړې او ليدل کيږی چې خپل اخلاص کوي.

پوښتنه: ځينی کسان اعتراض لري چې د دعوت او عفوې له پروګرام څخه ددښمن ځيني مضرو افرادو غلطه استفاده کړې، د ضرورت په وخت کې مجاهدينو ته تسليم شوي دي خو کله چې په سيمه کې ددښمن دريځ پياوړی شوی دی بيرته ددښمن صف ته ورغلي، آيا تاسو داسې کومه تګلاره لرئ چې ددغسې واقعو مخه ونيسي او د تسليم شويو کسانو بيا نه مخالف کيدل تضمين کړي؟

ځواب : اسلامي دعوة له پيله بياتر اوسه وخته داخصوصيت لری چې هرڅوک له باطله صفه دااسلامي دعوة په پايله کې راجلا سي اوله اسلامي جامعي سره يوځاي سي چې دازاد ،خپلواک ،له برکاتو ډک ژوند ذائقه وڅکي اودمجاهدينو اومسؤلينو دخاکساری او فاداري اخلاق وګوري بيا دبير ته تللو هڅه نه کوي ، په راوتليو

زرګونو کسانو کې مور ته تر او سه داسې څه کره شواهد تر لاسه شوي نه دي چې تر اصولي راتلو وروسته دې ځوک ببرته تللي وي که وي هم ډېر شاذ او نادر به وي چې له دا ډول سترو ګټو تر لاسه کولو سره دا شان معمولي زيان طبعاً ترلي وي، چې د تشويش ور نه ګڼل کېږي مګر د دې با وجود هم مور خپلو مؤظفينو ته د مشرتابه د هداياتو په اساس سپارښتنه کړې چې بايد د تسليمي په مهال له ځيرکتيا څخه کار واخلي.

پوښتنه: د اسلامي امارت د دعوتګر په حيث مو خپل اولس ته مو پيغام څه دی ؟

ځواب: خپل مجاهد ،غيور او باشهامته اولس ته مو دا پيغام ده لکه څنګه چې په تيرو ديارلسو کلنو کې دخپلو تنکيالو او اتلو سرشندونکيو مجاهدينو په څنګ کې ولاړ و است او دکفارو او دهغو دغلامانو په هيڅ راز ظلمنو ،بمباريو، شهادتونو، او اسارتونو مو دالله جلّ جلاله درضاد حاصلولو په مقصد پاک نه کاوو نو او س چې صليبيان او تالي څټي يې دماتي پردرشل ولاړ دي، همداسي د مجاهدينو ورڼو ملګري او ويارلي پاتـه سئ او ددونيوي او اخروي سعادت حاصلولو په مقصد له هيڅ راز مالي او جاني قرباني خپل ځان مه سپموئ او بل دا چې ا ولس بايد د خپل مذهب او خپلې اسلامي خاورې د تحفظ او آزادی په برخه کې داسې ونډه واخلي لکه د انګليسانو د يرغل په مهال يې چې نيکونو درلوده او په دې لاره کې داسې قرباني او سرښندنې ته چمتو شي لکه د روسانو د يرغل په مهال چې چمتو او په عمل ډګر کې سهيم وه، هجرتونه، اسارتونه، او هر ډول بربادی او ناخوالې يې په ځان ومنلې، ځکه چې موجوده اشغال او يرغل تر مخکېنيو يرغلونو ډېر خطرناک دی، هېواد وال بايد په دې پوخ يقين ولري چې امريکايان او ملګري يې د افغان مسلمان ولس بلکې د ټول رښتيني اسلامي امت سر سخت دښمنان دي هغوی هېڅکله هم د مسلمان ملت دوستان او خواخوږي نشي کېدای چې په همدې مطلب د الله تعالی په کلام کې تصريح شوې ده، نو له هغوی سره ملګرتيا په هره بڼه چې وي او يا هم د هغوی د يرغل په مرحله کې کراره ناسته د دنيا او آخرت په زيان دی چې له دې مصيبت څخه د ژغورنې لپاره هم يوازې هماغه ده چې الله او رسول صلی الله عليه وسلم يې په ډېر ټينګار سپارښته کړې چې د جهادي وسلې کارولو او همت او غيرت خپلولو په صورت کې يې د غيبي مددونو وعدې کړي دي لکه چې مو پخپلو سترګو د الله تعالی مددونه وليدل او لا يې وينو ،لله الحمد

هېواد وال بايد باور ولري چې طالبان د دې ملت صالح بچيان او د دوی خواخوږي ورونه دي، طالبان چې بې مثله قرباني يې ورکړې او د سرښندنې په ډګر کې خالي لاس د نړيوال زبرځواک په مخکې ولاړ دي هدف يې خپل ايماني مسئوليت ادا کول او د الله رضا تر لاسه کول دي، غواړي چې اسلامي خاوره له شيطاني لښکرو څخه آزاده شي، د هېواد والو ملي او مذهبی ګټې خوندی شي او د سرونو، مالونو، ناموسونو، عزت او حياء په هکله هر ډول خطرونه او تشويشونه مرفوع شي، چې په دې ټولو منافعو کې طالب يوازې نه بلکې ټول هېواد وال شريک دي، د نقلي او عقلي دليلونو له مخې روان جهاد د ټولو هېوادوالو په ګټه او د ټولو په يو شان ديني او دنيوي اړتيا ده، نو له دې امله ضروري دی چې هېواد وال بايد طالبانو سره د زړه له کومې خپله بشپړه همکاري جاري وساتي او په دې هکله د دښمن تبليغاتو او افتراء ګانو ته غوږ کښېنږدي. ځکه دا د هغوی ډېره مؤثره او خطرناکه وسله ده چې جهاد ترهګري نوموي، طالبان پردی او ترهګر ګڼي، اسلام منفور او پر ځای يې ديموکراسي خلکو ته آزادي او ګټوره معرفي کوي خلکو ته امارت ظلم او انتخابات د هغوی حقوق معرفي کوي

او بل دا چې که دا په فاسده اداره کې ولاړ کسان چې دماديـاتو او قدرت په نشه غوليدلي دي دا هم د دې ملت بچيان دي د اسلام د ستر خادم امير المؤمنين حفظه الله تعالی لخوا ورته دراوتلو په صورت کې عفوه سوې ده

اوداکمیسیون یې ورته ایجاد کړي ده نو ستاسو که دوستان یاقریبان یا نور تعلقیان یاشناخت لرونکي کسان په دې اداره کې موجود وي اطمنان ورکړي اوله دې بدبختي یې خلاص کړي اودهوسا اسلامي اوازاد ژوند په ګټویې پوه کړئ اوله هغو اخروي عذابونو وژغورئ چې نه ختمیدونکي دي

دوی کولای شي له لاندې تیلفون نمبر او ایمیل ادرس نه په استفاده ددعوت کمیسیون له مسؤلینو سره په تماس کې شي (فون(۰۷۰۸۲۹۸۱۹۵

iea.dawat@yahoo.com

پوښتنه: هغو کسانو ته مو پیغام څه دی چې ددښمن په صف کې ولاړ دي او په بیلابیلو ملکي او نظامي بخشونو کې دندې اجراء کوي ؟

ځواب: دې کې شک نشته چې په تپل شوې غلامه اداره کې د هغوی برخه اخیستل ولو په هره برخه کې وي دې غیر مشروع اداري او یرغلګرو ته په ګټه او یرغل سره په یوه بڼه نه په یوه بڼه مرسته او ملګرتیا ده، په بل تعبیر د باطل او کفري صف تله یې درنه کړې ده ،نو هسې نه چې همدې حالت کې ورته مرګ راشي بیا خو واضح ده چې دنیا او آخرت یې برباد شول ځکه الله تعالی خپلو بندګانو ته د یهودو او نصارا او خصلتونه، د هغوی مقصدونه او د هغوی دسیسې بیان کړي او په ډاګه کړې یې دی چې له هغوی سره دوستي هېڅکله هم د مسلمانانو په ګټه نه ده او دا خو لا بیا د مسلمان له شان څخه لرې دی چې د اسلامي نظام په ختمولو، د جهاد په ناکامولو او د مسلمانو خلکو او مجاهدینو په وژلو، اسیرولو او ځورولو کې دې د کافرانو سره ملګرتیا وکړي د هغوي هر ظالمانه او کفري حکم دې ومنی هغه هم د څو روپیو په بدل کې، د نورو غیر مسلمو نړیوالو په آند هم دا ډېر د بې وجداني او بې غیرتی عمل دی

د کابل په اداره کې برخه لرونکي باید حقایق درک کړي، حق ته غاړه کېږدي ،خپل ځان هم له هلاکت څخه وژغوري او د مظلوم ولس له وینو څخه دې هم خپلې منګولې پاکې کړي ځکه چې د موجوده ادارې او یرغلګرو له لاسه څومره خلک وژل کېږي، شړل کېږي بې عزته کېږي لوټېږي په دې ټولو کې د ادارې کار کوونکي ورسره شریک دي ځکه چې دوی ورسره کار ونکړي نو امریکایان هېڅ هم نشي کولای خامخا به تښتي.

بل دا چې تر څو به په داسې یو بې خونده او له شرم څخه ډک حالت کې ژوند کوي د افغانستان د خلکو د ملي ګټو او ټولو حقه ارمانونو یقیني حل په خپلواک سوچه اسلامي نظام کې دی چې د یرغلګرو په وتلو او حق ته غاړه ایښودلو په مهال شوني دي.

اسلامي امارت خوداده ستاسو دخلاصون اوددونیا او اخیرت دسعادت لپاره ددعوة ارشاد جلب جذب کمیسون اجادکړي ده نو تاسو دامارت له دې شفقت څخه په استفادې سره له دې تاریخي بدبختي څخه لاس واخلي اول خو خپل ایماني اوافغاني رسالت اداکړي اودخپلو توپکو شپیلۍ ددې بنیادي دښمنانو پر لوري ورواړوي اودلکونو کونډو اویتیمانو خوږمن زړونه ورباندې یخ کړي اوکه دامو له لاسه نه وي پوره بیانو ددې غاصبو کفارو له همکاري او غلامي لاس واخلی اوخپل هوسا اسلامي ،خپلواک ،ازاد اوباعفته ژوند تیر کړي اودلکونو مظلومو افغانانو په شهیدولو اوزورولو کې ځان مه شریکوي اوداخرت له سختو عذابو څخه ووېرېږي .

بیاهم ددی کمیسیون مشر تابه دفاسدې اداری پر ټولو کارمندانو غږ کوي چې ددی کمیسیون غیږه ستاسو پرمخ خلاصه ده راسئ ددنیا اواخرت له بدبختي ځان خلاص کړئ اوله اسلامي امارت سره یوځای شئ.

پای

مرکه کوونکی: أبو عابد

امریکایانو دپوځي هـڅو دشتون مسئله، چې امریکا یې لاسلیک سره لیوني مینه لري تضمینوي ،مطبوعاتي راپورنه داسې دي، چې د(اشرف احمدزي) دسوګند

دوه نـــانځـکي

له څو اوونیزو ډراماتیکو سیالیو اوغولونکیو چنیو وروسته دادی په ډیره بدرنګۍ لوبه پدې سره پای ته ورسیده چې : کابل کې به په اصطلاح یو مشترک ملي حکومت جوړیږي ،ولسمشر به یې (اشرف غني احمد زی)او اجرائیوي مشربه یې(عبدالله عبدالله) وي :داشرف غني لوی بری داو،چې په اصطلاح ارګ یې ځانته فتح کړ اودشمالي ټلوالې د سوک څپیړې پرتـه د مشرتابه چوکۍ ته ورسید، د (عبدالله عبدالله) ستر بری داو،چې دکابل حکومت یې له مرکزي هستې څخه د شریدلې فدرالي یاایالتي لورې تـه یوړ و ځانته یې پکې دعظمی صدرات څوکۍ پـه نښه کـړه ،او هم یې ګډو وډو ټولټاکنو دګټندوی فیصدي او دکامیاب او نا کام کاندید اعلان تر خپل زور واکې سیوري لاندې راوست ،خو ولس پوهیږي، چې لـه آره دا دواړه (اشـرف غني او عبدالله) نوموتې لویدیځې نانځکي دي، چې دامریکااو اروپا په ورغیو کې د مړزانو غوندې ،وړې را اوړي ،نـه دکوم ملي حکومت تیوري لـه ځانـه سره لري او نه داسلامي کولو !! داټول حقیقت کې دغربي تیوریسنانو هغـه چالونه دي ،چې په لومو کې یې ددوئ غوندې نښتي ډیرې مرغۍ پـه ډیر نازل قیمت سره دخپل ولس او هیوادپر سر سودا کوي .

که په خپل ذات کې دداسې ناکسو اشخاصو زمامداري پخپله یـو نـاورین دی ،خـو ددې نـه هـم چـې اسلام ،مسـلمانانو او هیـواد نـې جغرافیـه تـه تـرې دډیـر خطر بوی راځـي ، هغـه پـه اصطلاح دنوي ولسمشر لخوا په ډیره

عجلـه لـه امریکـا سـره دهیـواد پلـورنې هغـه (توره قبالـه) یا دامینتي سند په نوم کاغذ لاسلیکول دي ،چې لـه املـه یـې دافغانسـتان حریت او خپلواکي ننګول کیږي اودتل لپاره هیواد کې داشغالګرو

(بت شکن)

پورتـه کولـو نـړدي وروسـته شـیبو کـې بـه پـه پټـو سـترګو د(امریکامرهون منت متحمل په صفت) دیوه تـاریخي خیانـت سند ورسره لاسلیک کړي ،اوداڅکه چې هر کاندیدبه چې کمپاین یا سیالي کولـه ،نـو دامریکادخوشحالولو لپـاره بـه یـې ترهرڅـه لومړی داخبـره کوله، چې دګټهات په صورت کې به یې لاسلیکول پـه لومړیتوبونو کـې راولـم ،اشـرف غني او عبدالله چې دغـرب پـه غلامـۍ کـې خـورا ډیـر شـهرت لـري ،تـر هـر چـا ددې ښـه حقـدار وو ،چـې دخپـل بـادار دخوشحالولو لپاره پرنورو سبقت وکړي .

اشــرف غنــي چــې لالــه زلمیتوبــه دامریکایـانو پـه غیـږه اوسیدلی ،دنړۍ ډیـرو پوهـانو لـه منځـه یـې ورتـه د(نـړۍ دمتفکر یا مفکر) جعلي لقب هم وروالی کړ ،او دمطبوعاتي راپورونو پر بنسټ یې ښځه هم یهودالاصله متعصبه صلیبۍ ده ،امریکایانو ته ددې املـه هم تر (روس پالې عبدالله) ډیر مقارب او منلی دی ، چې ذهنـاً او فکـراً لـه مریکایانو سره ملابست او داصلاً دهماغې نظریې لپاره کار کولو تـه داسې منازلو ته ورسول شو،چې کرزی پکې دځینو وجوهاتو پـه اساس پاتې راغلی و .

خو زه دافغانستان د سیمو په ساده لوحو او داشغالگرو دفریبونو څخه دنا خبرو ځینو علماوو او سپین ږیرو افغانانو په حالت ډیر متأسف یم، چې یا یې د پښتو ژبې ،یا د پښتون تبر ، یا گوندي داچې افغانستان نه به پاریس جوړ کړي، یا داچې په مقایسوي لحاظ له عبدالله نه ښه دی، ځکه هغه ترده ډیر خطرناک دی او...او...او....داسې نورو شعارونو تر پوښښ لاندې یې دې غرب مشربه اشرف غني ته رأیې ورکړي ،هغه یې تر ارگه بدرگه کړ او دهیواد او اسلام پلورنې ستیج ته یې ورساوه !!

وروستیو کې برتانوي میډیا اعتراف وکړ، چې افغانستان کې میشت قومونه او خلک په ریښتنې توگه داسلام سپیڅلي دین ته وفادار او له زړونه داسلام سره مینه لري !! دامریکا په مشرۍ دلویدیځ دگډ یرغل وروسته ډیره تمه وه چې لوی شمېر افغانان به دحالاتو جبر دیته اړباسي، چې (نعوذ بالله) اسلام ته په شاکړ ځولو نور ادیان اومني. لیکن د یوې نیمې لسیزې راهیسې هلته لویدیځ وال پوځیان شتون لري. ولیدل شول چې افغانان داسلام پرته بل دین نه مني ، ددغه څېړنې له مخې: دنورو آسیائي هېوادو برعکس افغانستان هغه هېواددی چې پکې دعیسوي دین پیروان دنشت په حساب دي اوس جوته شوه چې افغانستان کې دعیسویت په گډون دبل هر دین لپاره تبلیغ او کوښښونه په بشپړډول ناکامه شوي.

خوځه چې وشول،هغه وشول اوس به کتل کیږي، چې دادواړه دخپل سلف (کرزي)نه څوگامه شاته ځي که مخکې !! او که دهغه پر پله به خپل ریاستي سفر پیل کړي ! هغه خو په

واز کومې امریکایان دافغانستان دوستان نه، بلکې دښمنان وبلل او دخپلې دیارلس کلنې دورې په پای کې یې د وداعي ناستې پر ورځ دفراق اوښکې په همدې تویې کړي، چې امریکایانو هیواد کې سوله نه غوښته ،اوله افغانانو سره یې خیانت کړی ،نه یې دغرب او امریکا دوژل شویو عسکرو او ددوئ په مالي زیانونو له دوئ سره خواله وکړه اونه یې پدې وداعي ورځ کومه یادونه پکې وکړه ،بس همدا خبره یې تکرار وله ، چې امریکایانو راسره سوله کې مرسته نده کړي او دانوی مشر تابه غني احمدزی دې ورسره په دوستۍ کې له احتیاطه کار واخلي !!

شک نشته چې کرزی هم دامریکایانو غلام او د بې ۵۲ ډوله الوتکو په زورېې په ارگ وردننه کړ ،خو داچې نوموړی داسې یوې خاوره کې زوکړی و، چې هلته د پیدا کیدونکی شخص په خټه کې په طبعي توگه د غیرت تومنه اخښل شوي وي ، نو یې دخپلې غلامۍ سربیره پر امریکایانو کله نا کله نیوکې هم کولې ،خوله یې کله نده بنده کړي ،یا یې ځان دتاریخ له پېړې خلاصوو ،یا یې خلک غولول ،او یا پکې دکندهارۍ غیرتي خټې اغیز غورځنگ کاوه ،خو دخپلو بادارنو پر خلاف یې دې وروستیو کې لفظي حملې ډیرې کړي وي او څه صرفه یې نه کوله ،اوس چې خبره تر دې (دوو ناڅکو) راورسیده ،وبه کتل شي چې څه کیږي ،مگر لا له لومړیو نه ښکارې، چې دهیواد له اتلولیو او افتخاراتو ډک تاریخ به(خدای ج مکړه)ورته سلامي کړي، او د(شاه شجاه او کارمل)نه به پسې پښه ورواړوي.

د کرزي اوسني اعترافات او ۱۴ کلن سکوت!!

خبیر احمد م

دکابـل دبلواکـه اوشـړیدلي رژیـم ولسمشـر (کـرزي) چـې امریکانوتقاعداوډیلت کړ. له کابو ۱۴ کلونو څخه ورسته، دواکمنی پـه روستیو لحظو کې لـه خپلو لوړپوړو ماموړینوسره دمخه بني پـه غونډه کې دیولړ اعترافاتوپه ترڅ کې وویل چې امریکااو پاکستان پـه افغانسـتان کـې سـوله نـه غوښـته :هغـه داهـم ښـکاره کـړه چـې پـه افغانسـتان کـې روان ۱۴کلـن جنـګ دافغانانوجنـګ نـه وو، بلکـي دامریکایي منافعواوګټو لپاره په لاره لویدلې جګړه وه.

دکرزي دغه اعترافات تر ډیره ځایه پر ځای او روښانه دي چې امریکااویاهغه څوک چې دامریکاحامیان او غلامان دي، پـه هیڅ بیـه پـه افغانسـتان کـې سـولې اوامـن تـه ژمـن اووفادار نـدي، ځکـه امریکاافغانسـتان تـه راغلـه دهمـدې لپـاره ترڅـو دافغانـانوارام ژوندنارامه اوله خپلواک اسلامي زعامت څخه یې محروم وګرځوي، ولې دغه حقایق چې نن دکرزي په خوله زمزمه کیږي دنوموړي لپاره دلوی او ناریخي ذلت اوشرم ځای دی.

کـرزي ۱۴ کاله ولي ګونګـه روږه او کاڼه غوږونه نیولي وو، کـه نومـوړی رښـتیاهم نـه غوښـتلای چـې افغانسـتان دې دامریکایـانو اوغربیانو دګټو اوستراتیژیکو موخو ځاله وګرځي، نودنیږدې یوې نیمي لسیزې په اوږدو کې خوبه یې کومه ورځ دغسې حقایقواشاره کړي وای اوافغان ولس ته به یې ویلي وای چې امریکاستاسې دوسـته اوستاسـي دغـم اودرد لپـاره نـده راغلـي، بلکـې خپـل اهـداف او ښکیلاکي داموته ورسره دي.

افغانانو ولیدل چې دامریکایانو داشغال لـه ړومبی ورځي څخه تر اوسه پورې کـرزي روانه جګړه څومره په هنر اومکار شکل توده وسـاتله،دامریکایـانو دهرجبر اوجنایـت پـه وړانـدې یـې دافغانـانو داحساساتو مخه کوم ډول فریبکاره ژبه ډب کړه. دافغاني فرهنګ جنازه یې دهندوستان دمجوسیانو اوګرنګیانو په اوږو پورته کړه،

دغرب دهرې کلیسالپاره یې پـه کابل اولویو ښارونو کې دفعالیت زمینه سازي وکړه. یومیلون باعزته اوباشرفه افغانان دده پـه واکمنی کې امریکایانو اودملي امنیـت دارمارانو شکنجه اووربړول، دوه لکه مظلـوم افغانـان دخـارجي لښـکرو اوملـي اردو داجیـرو پوځیـانو پـه حملو کې له منځه ولاړل. افغانانو دلوږې اوفقر لـه وجې خپـل اولادونه وپلورل. دټول افغانستان په کچه یوه صنعتي فابریکه اوشفاخانه چې افغانان دګاونډیانو له احتیاج څخه وژغورل شي جوړه نشوه، په داسې حال کې په کربونو ډالر دکرزي ترچپني اوچتر لاندې افغانستان تـه راغلـل او پر تـه لـدې چې دهغـه اودشـمال ټلوالې پـه شراکت دتورې مافیاګیډې پرې وپړسیدې چاپې درک او دمصرف ځای هم ونه لید.

دحیرانتیا خبره ده چې دیولسم سیپتامبر پیښـه پـه امریکاکې دامریکایي الوتکو په زریعه. له امریکایي هوایي ډګرونو ترسره شوه، ددې پرځای چې امریکاپه دغه تور کې خپـل امنیتي اواستخباراتي اورګانونـه لـه ګرېوانـه نیـولي وی اویـاې خپلـه شـیطاني تکنـالوجي ترپوښتني لاندې راوستي وی، چې دهغوی پـه شتون او نظارت کې ولې دومره لویه پیښه پلان، ترتیب اوترسره شوه. خوپه ټس اوهدف کې یې خوار افغانان اوغریب افغانستان ونیول شو.

کـرزی کـه پـه رښـتیادامریکایی شومو عزایمو نګهبـان او پلی کونکی نه وای، نووړاندې تردې چې امریکایانوپه افغانستان یرغل پیـل کـړی وای لږ ترلـږه خوبه یی امریکاتـه ویلـي وای چې افغانـان دسیپټامبر پـه پیښـه کې ندي ملوث دي. یو افغان هم باید شکنجه اوونه وژل شي.

خوهمدغـه کـرزی اودشـمال دمرتـدي ټلـوالي مشـران ووجـې دامریکایانوپه مخ کې یې رقصونه کول، دامریکایي جنرالانو غاړو ته یې هارونه اچول اودقهرماني لوړمډالونه اوطوقونه یې دهغوی په سینو ټومبل.

کرزي کـه رښتيادې ولس اوهيواداصالت، قـدامت اوملي خپلواکي تـه ژمـن واى، پـه هغـه وخـت کې چې دافغانستان دنيولو اوهضمولو لپاره دامريکاپه مشرى د۴۹ کفري اواسلام نـاهيوادونو اشر اوايتلاف جوړيده اوبوش کافر په لوړ اواز ويـل چې په افغانستان بريـداوبرغل دتروريزم پـه مقابـل کې پيليـدونکي جگـړه (صـليبي اومـذهبي جنـګ) دى، هلتـه دده خولـه اوژبـه ولې ګونګـه وه اودبوش دصـليبي جګـړې لـه تعبير څخـه کـرزي کـوم مفهـوم اوبرداشـت واخيست؟!!

دتيرو ۱۴ کلونوپه اوږدو کې دامريکااوغرب دمعتبره رسنيو له پانو اومهموسياستوالوله خولې چې دافغانستان دجګړې په باب کوم ډول اعترافات، تبصرې اوتحليلونه خپاره شول کرزي هغه په شداومدسره ولوستل اوليدل يې اوپه رڼاکې يې دااندازه لکه لمرور ته روښانه وه چې افغانستان ته امريکايان دڅه لپاره راغلي، خود کرزي ضمير هلته مړ اوافغاني تلخه يې شنده وه.

ايـاد ۲۰۰۲کـال دفبـروې پـه مياشـت کې مشـهور امريکـايي سياستوال او ليکوال دنيوزويک مجلې په کال ګڼه کې نه وو ليکلي چې پـه افغانسـتان کې روان جنګ دومره ساده اوسطحي نـدى چې تنها(تروريزم ضد) وګڼل شي، بلکې دغه جنګ ديوې عقيدې پـه ضدروان دى، هغه عقيده چې سيکولريزم نه مني اوداسلام هغه برخه اواحکام پلي کول غواړي چې غرب تـه دمنلو وړنـدي، نوموړي داهم ويلي وو چې غـرب تـه اسـلامي افکار اوعقايدلـه کمونيزم څخـه هم خطرناک اولوى تهديددى.

دغـه ډول دبرتـانيې پخـوانى ړومبـى وزيـرې (مار ګـټ تـاچر) دنوموړي هيواد دپارلمان يوې استماعيه غونډې ته پـه ۲۰۰۳ کال ونه ويـل چې موږ به دهغومسلمانانو په خلاف هم توندغبر ګون اوروپه ولرو چې ديولسم سيپټامبر پيښه يې محکومه کړې اوله موږ سره په ايـتلاف کې دريـدلي هـم دي، دهغې پـه خبـره دوى بـاورنلري دغـه مسلمانان که څه هم اوس زموږ متحدين اوخواخوږي ښکاري ترپايه دې له موږ سره ودريږي.

دامريکامشهورسناتور(جوزوف) په ۲۰۰۱ کال (سي اين ان) تلويزون تـه پـه خبرو کې وويـل چې موږ بايددتروريزم ضد جګړه اسلامي هيوادونو تـه وردننـه کـړو، هلتـه مخـالف رژيمونـه، ډلې اوافرادچې غرب ورڅخه ويره اوکرکه لري وځپو.

دغـه ډول (تومـاس فريـدمن) چې دامريکـايي مجلې (صيهو) ليکـوال اومبصـر دى پـه افغانسـتان ديرغـل پـه ړومبيـو اونيـو کې پـه صراحت په خپلې مجلې کې ليکلي وو چې روانه جګړه بايد په اسلامي هيوادونو کې پراخه اوهر اړخيزه شي، حتى دديني مدارسو په خلاف پيل شي اوپه نصابونو يې له سره کتنه وشي.

نـو مـخ پـه زوال کرزيـه! تـاخو دامريکـااوغرب درسـنيو اوسياستوالو دغه ټولې کرښې اوجملې په شداومد کتلې اوخاص خلک دې دهغو لپاره ګمارلي وو چې دافغانستان پـه بـاب دغربي رسنيو او څيړ ونکو نظريات اودريځونه مطالعه اومعلوم کړي، نوپه دومـره اوږده اوپلنـه مـوده کې دې ولـې خـولې تـه قلفونـه اچـولي وو اودامريکـااوغرب پـه شومو عزايمو دې کارنـه درلـود، اوس دې چې افغانسـتان دغـرب د تنصيرې اوعيسـوې پاپـانو پـه اوه مبـدل کـړ، دافغانستان لويشت لويشت خاوره دى، دامريکادقاتلې تکنالوجې په سکرين اوحافظه کې جيپي ايس او ځاى پر ځاى کړه اوتـه هم نور امريکايـانو تـه دکـار پـرزه نـه وې، نوايلـه اوس لـه امريکـايي خـوب اونيشي څخه رابيدار اوپوه شوې چې امريکاپه افغانستان کې سوله اوجوړه نه غواړي.

معلوميږي چې ستادغه خبرې هيڅکله په افغاني خواخوږۍ اودلسوزى ندي بنا، بلکې نور ددې ولس په زخمونو مـالګي دوړول غواړې اوضمناڅانته په خپل خيال اوسوچ کې ديوه برائت لفظي هڅه کوې، که اين خيالست، محالست، جنون.

بايدپه دې خبره ځان پوه کړې چې افغانان اوس سخت وبښ اوبادر کـه ولـس دي، پـه افغانسـتان کې چې امريکايـانو اوخـارجي لښکروسرته رسولي، دشمال ټلوالـه، ستارژيم اوچارواکي ورسره برابر شريک اومساوي سهم لري، که الله تعالى دعدل اوانصاف په مدار يوسوچه اسلامي نظام راوست تاسي يوهم دافغان ولس له ګرفـت اوپوښـتنو څخـه خلاصـيداى نشـي، اورمروبـه دشـريعت پريکړې ته مخ کيږې اود ۱۴ کلونوپـه اوږدو کې دهر ترسره شوي استبداد اوجرم ځواب به وايې.

خوست ولايت ته دنظامي چارو كميسون داستول شوي پلاوي مشر : محترم ملامحمدياسين اغا:

په خوست کې دښمن په خپلو مركزونوكې محصور او دعملیاتوكولو توان یې له لاسه وركړی.

(مركه كوونكى ، ملاخبيراحمدمجاهد)

پوښتنه : محترم اغاصاحب ، هركال دافغانستان داسلامي امارت دنظامي چرو كميسون له لوري دهيواد هرولايت ته يوباصلاحيته پلاوى استول كيږي ، كه تاسي په پيل كې ددغو پلاوو په اهميت ، موثريت او موخورڼا واچوي ښه به وي ؟

ځواب : تاسي ته معلومه ده چې الحمدالله په افغانستان كې داسې كومه سيمه اوساحه نشته چې هلته د امارت نفوذ اوسلطه نه وي اوداخبره هم له چاپټه نده چې اسلامي امارت دهيوادپه سطحه ملكي اونظامي تشكيلات او ژوندی اداري لري اودعام ولس په خدمت اوچوپړ كې شپه اوورځ بوختي اومصروفي دي اودولس مراجعه هم دومره زياته ده چې خلك په سلو كې لس فيصده مشكلات اوستونزي هم دكابل اجيررژيم ته نه وروړي ، ځكه هغوی پوهيږي چې ددې پرځاى مشكلات يې حل اوكم شي درژيم داړه ماران يې نور ورته زياته وي اوبډي اورشوتونه ترينه غواړي ، نو همدغه وجوهات دي چې دعام ولس مراجعه هم تړديره ځايه اسلامي امارت ته ده ، له بلې خوااداشغالګرو اوددوى دګوډاګيانو په مقابل كې دجهاد ، پاڅون اومقاومت بهيرهم له ۱۴ كلونو راهيسي ګرم روان دی ، نودغوټولو مسايلوته په كتو طبعاهغه دقيقه څارنه اودلسوزه اداره غواړي ، كه څه هم داسلامي امارت دملكي اونظامي چارو ادارو اوارګانونو ته چې څوك ټاكل كيږي ، زما دمعلوماتوله مخې دمحترمو مشرانو خاص تاكيداوهڅه داوي چې دولس په ژبه پوه ، خواخوږي اواهل مسؤلين وټاكي ، خو بياهم اسلامي امارت هركال دخاصو پلاوو په ټاكلو اولیږلو سره دخپلو نظامي مسؤلينو اوملكي ادارو كلنى كاركردګي اوله ولس سره دچال چلند موضوعات له نیږدي ګوري ، ترخپلې وسې يې دقيقه اومنصفانه څیړني كوي ،دغه هيتونه دامكان ترحده دولس دهري طبقې اوقشرسره له نيږدي ويني ، دهغوی نظريات ، شكايتونه اومشروع غوښتني اوري اوبيايې ديوه تفصيلي راپورپه شكل كې خپل مشرتابه اونظامي چارو كميسون مقام ته راوړي اوهغوى يې بيا په رڼاكې اړونده مراجعو ته هدايت كوي اومناسب ګام اوچتوي.

نوزما په فكر ددغو پلاوو له استولو خاص هدف دولس ستونزو اومشكلاتو ته ترخپل توان پوري داسلامي امارت دلوړو مقاماتو لاس رسى ، دمسؤلينو اصلاح اودجهادي امورو دلاګړنديتوب اوانسجام لپاره يوه موثره هڅه ده چې ترډې دمه يې الله تعالى په كارونو كې زيات خيراوبركت اچولى اومثمرنتايج يې لرلي.

پوښتنه : ویل کیږي ستاسي په مشري خوست ولایت یوباصلاحیته پلاوی تللی وو، داچي خوست دجرګو اومرکو ټاټوبی دی ، که مهرباني وکړی ، دولس اوطالبانو ترمنځ دتفاهم اومشوروا ومتقابلوهمکاریو په باب که څه راته ووایی چي دغه سلسله ترکومه بریده روان او موجوده وه.

ځواب : لکه تاسي چې ورته اشاره وکړه ، خوست ولایت په مختلفو ننګیالوقومونو اباد اوربښتیاهم دجرګو ټاټوبی دی ، اسلامي امارت چې په نوموړي ولایت کي پراخ حضور اونفوذ لري ، مسؤلین یې دقومونو په دیني اودودیزو اداتو اوعنعناتو پوه اوخبیرورونه دي ، له هغوی سره له نیږدې رابطه او تفاهم لري ،مونږ هلته دخپلو مسؤلینو خبري واوریدي ، هغوی ویل چې زیات ذات البیني مسایل دخلکو مونږ مربوطه قومونو اونیکو مشرانو ته ورلیږو ، هغوی ورته قناعت ښېونکي لار باسي اوله مونږ سره یې په مشوره حل کوي ، دقومونو هم له اسلامي امارت څخه کوم خاص شکایت نه وو ، بلکي دسیمي له مسؤلینو څخه په دې ټکي کې پوره رضایت درلود چي مشرانو ته په درنه سترګه ګوري ، دهغوی ترمنځ وحدت ، وروروليي اواخوت غواړي ، کومه لویه ستونزه چې دخلکو اوقومونو ترمنځ راشي دشریعت په رڼاکي یې فیصله کوي اودچا ناروا جانبداري نکوي.

پوښتنه : له اسلامي امارت څخه دعامو خلکو غوښتني اوهیلي څه وي که اشاره ورته وکړي؟

ځواب: عام ولس دشریعت په چوکاټ دحقوقي موضوعاتو په حل ټینګار لاره ، دمجاهدینو په صفوفوکي دزیاتي تصفیي غوښتنه درلوده ، دعامه المنفع بنسټونو ودانولو ته یې دزمینه سازي توقع درلوده اوپه خاص ډول یې تعلیم اوتربیي ته داسلامي امارت دمسؤلینو اومقاماتو په توجه اصرارکاوه ، چي نوی نسل رانه بې لاري اوناهل ونګرځي.

پوښتنه : په خوست ولایت کي ددښمن دنفوذ ساحه تاسي ته څومره ښکاره شوه ؟.

ځواب : داخبره په ډیرصراحت سره کولای شم چي په خوست کي دښمن الحمدلله سخت کمزوری ، ضعیف اوناتوانه وو ، مونږ په خوست کي تقریبا یوه میاشت تیره کړه ، ماچیري ونه لیدل اووامي نه وریدل چي دښمن دي دمجاهدینو په وړاندې چیرته جګړه اوعملیات ترسره کړي ، بلکي دامجاهدین وو چي په ښار سربیره به یې چي په کوم ځای کي لازمه وبلله ، پریکنده بریدونه اوعملیات به یې سرته رسول ، همدغه علت وو چې دښمن سره لدې چي پراخ پوځي تجهیزات او امکانات یې په لاس کې وو ، خوقطعات یې په خپلو مرکزونو کې محصوراوکلابندوو او چي لوی تدابیربه یې ونه نیول له ښاره به ولسوالیو ته نشو تللی.

پوښتنه : که کومه جالبه خاطره دسفرپه اوږدو کې درته مخي ته راغلي وي ؟

ځواب : سفرخو ټوله خاطره خاطره وي ، له نورو به تیرشو اویوه دغه خلاصه عجیبه به درته ووایم چې زه اوډپلاوي بل غړی اوملګري محترم مولوي عبدالهادي صاحب ، نیږدې یوه میاشت دخوست په اطرافو اواکنافو کې موکله په موټراوکله پیاده مزلونه اوګشت ګذاروکړ ، اوډیربلدهم نه وو باورکړی چې ددښمن له هیڅ کوم پاټک اوتلاشي سره مخ شوي نه یو ، یعني الله تعالی مو په دې ډول ساتندوی اومددګاروو اوهم دکابل رژیم دواک اوسلطي ساحه چي دوی یې لوړي لوړي دعوي کوي له همدې ځایه باید معلومه کړل شي.

امضای پیمان امنیتی و چند سخن دیگر

نویسنده: ذاکر جلالی

مترجم: ابو مصعب داوری

تقریباً از سال ۲۰۱۰ میلادی بدینسو بحث‌ها روی این معاهده جریان داشت، اکثریت جامعه مخالف این امضا بودند و هستند. اما تنها چند تن (که با امضای این معاهده منافع شخصی شان تامین می‌شود) طرفدار امضای هرچه زودتر این پیمان اند. این معاهده برای هر کس از زاویه خود مهم است، ولی چرا رئیس جمهور) معاهده) را امضای نمی کند؟ و اگر آنقدر مهم نیست که رئیس جمهور امضایش کند پس ده سال دیگر که خارجی‌ها اینجا (افغانستان) باقی می‌مانند، گپ ناچیز است؟ استدلال این طور شد که از طرف امریکا سفیر است. و ازین طرف هم باید یک مامور پائین رتبه باشد. وقتی که یک کشور چنین یک پیمانی را امضا می کند که در نتیجه اش سالانه چهارنیم ملیارد دالر بدست می آورد، پس چرا دو رئیس جمهور طی یک مراسم ویژه اقدام به امضایش نمی کنند؟ چرا برای امضای این معاهده مقامات آماده نمی‌شوند؟

در حکومت حامد کرزی وزیر انکشاف دهات و بعدها وزیر تعلیم و تربیه و اخیرا وزیر امور داخله، حنیف اتمر در تیم اشرف غنی برای وزارت امور داخله در نظر گرفته شده بود، چرا عجالتا مشاور امنیت ملی شد و امضای پیمان نخستین ماموریتش گردید؟ چرا وزیر امور خارجه و وزیر دفاع ملی از امضای معاهده عقب‌نشینی می کنند؟

امروز در ارگ ریاست جمهوری در مراسم امضای معاهده به هیچ یک از سوالات خبرنگاران پاسخ ارائه نشد، چرا؟ چرا جانبین به نقاط مبهم معاهده روشنی نینداختنند؟ این همه چرا اینقدر مجهول؟ اگر این معاهده برای افغانستان مهم باشد، و منافع درازمدت افغانستان را تضمین و صلح و ثبات را تضمین می کند، پس چرا برای امضای این معاهده (مفید) کسی آماده نیست؟ در جریان رقابت های انتخاباتی هریک از نامزدها به یک زبان گفتند که معاهده امنیتی را هرچه زود امضا می کنند. الان چرا رئیس جمهور اشرف غنی این شرف را به خود کمایی نمی کند؟ رئیس جمهور اسبق حامد کرزی چرا امضا نکرد؟

حامد کرزی نسبت به هر کسی دیگر از ماهیت این پیمان و کارکردن مشترک با امریکای‌ها خوب تجربه دارد، این معاهده را به این خاطر امضا نکرد که او می‌دانست که این معاهده نمی‌تواند از کشتن افغان‌ها جلوگیری کند. کرزی خوب می‌دانست که این معاهده ماشین جنگ را تیزتر ساخته و امیدواری‌ها به صلح را از بین می‌برد. یک شرط مهم طالبان خارج شدن نیروهای خارجی از افغانستان است، وقتی چنین یک پیمانی امضا گردد که در نتیجه آن ده سال دیگر خارجی‌ها اینجا (افغانستان) باقی می‌مانند، پس کی آرزوی صلح از طالبان را کرده می‌تواند.

رئیس جمهور اشرف غنی در مراسم تحلیف گفت که طالبان باید به مذاکرات سیاسی آماده شوند، ولی فردایش (امروز) چنین یک پیمانی را امضا کرد که به خاطر آن طالبان چندین برابر تعهد مبارزه را می کنند. چرا تا این حد تناقض؟ چرا اینقدر زود بر سخن خود قدم گذاشتند؟

مرکز مطالعات استراتیژیک کتاب (ارزیابی علمی و حقوقی معاهده) را نشر کرد، نمی‌دانم برخیها منافع و ضررهایش را نمی‌دانند و یا هم تجاهل می کنند.

ضررهایش، بسیار کوتاه

برای نخستین بار وقتی حامد کرزی رئیس جمهور اسبق از معاهده یادآوری کرد، آنوقت آنرا معاهده نخواند (پایگاه همیشگی) اش خواند، وقتی که حساسیت افغان‌ها را متوجه شد گفت: ما هیچ جای پایگاه دایمی نداریم. امروز هم اشرف غنی گفت که خبر پایگاه نادرست است. این قوت‌ها کجا سکونت خواهند داشت؟

برای ده سال آینده نیروهای امریکایی در نه نقطه مهم افغانستان نه پایگاه نظامی می‌داشته باشند، در معاهده گفته شده که آنها (علیه تروریزم) عملیات هم می کنند؛ ولی دیگر وضاحت داده نشده. قوای امریکایی مصئونیت قضایی می‌داشته باشند یعنی آنها اینجا کدام جرایمی را که مرتکب می‌شوند حکومت افغانستان صلاحیت محاکمه شان را نمی‌داشته باشد.

سفیر امریکا می گوید که ماموریت قوای باقی مانده آنها در افغانستان حفاظت از مرزهای افغانستان نمی‌باشد، بطور مثال اگر از جانب پاکستان راکت ها پراگنی صورت میگیرد، مسئولیت دفاع اش به دوش آن‌ها نیست.

در هیچ جای معاهده این تضمین داده نشده که امریکا سالانه چقدر به افغانستان کمک می کند، این واضح نیست. در معاهده گفته شده که ما کمک می کنیم. این تصریح نگردیده که چقدر کمک خواهد کرد. اینها چیزهایی است که بدگمانی‌ها و شکوک را به میان میاورد. قوای امریکایی حق دارند تا ضد تروریزم در فغانستان عملیات کنند، ولی این عملیات تعریف نشده که تروریست کیست؟ در مقدمه معاهده در بند نهم آن چنین آمده که جهت مبارزه علیه دهشت افگنی، ولی درین معاهده برای تروریست‌ها تعریف واضح وجود ندارد. آنها خود اعتراف می کنند که در افغانستان دیگر القاعده وجود ندارد، طالبان را هم آنها تروریست نمی خوانند، پس این جنگ را علیه کی می کنند؟

جنگ امریکایی است ولی تلفاتش افغانی، ده هزار قوای نظامی امریکایی در پایگاه‌های خویش جا به جا اند و به وسایل پیشرفته دشمنان خود را جستجو می کنند؛ تلفات از عسکر افغانی و طالب افغانی می‌باشد.

امریکایها نه پایگاه نظامی در نه نقطه استراتیژیک در افغانستان به خاطر کنترول منطقه می‌خواهند. این کار وسیله دست اندازی‌های قدرت‌های منطقه‌ای در افغانستان خواهد شد که در نتیجه آتش جنگ بیشتر از پیش شعلهورتر می‌شود.

با امضای این معاهده امیدواری‌های صلح محو می گردد. طالبان در موجودیت نیروهای خارجی با حکومت افغانستان مذاکره نمی کنند، وقتی که باقی ماندن ده هزار عسکر امریکایی درینجا یقینی شد، دیگر احتیاج مذاکرات باقی نمی‌ماند.

جلسه تنگین امضای معاهده

امروز که به خاطر امضای معاهده جلسه برگذار شده بود، به اعضای ارشد اشتراک کننده حالت سایکولوژیکی (روانی) عجیبی مسلط بود. تاثیرات این امضا و ایستاد شدن در چنین یک جلسه ای بالای رئیس جمهور از دور آشکار بود. به خاطر امضای این معاهده (کسب شرف) حنیف اتمر نامزد بود! این اتمر بود که این کار را توانست، وگرنه درین چند روز در داخل نظام جدید نمایشی در جریان بود که کی امضا می کند.

در جریان امضای معاهده رئیس جمهور، رئیس اجرائیه و هردو مقام را معاونانشان و رهبران جهادی در عقب ایستاد شدند. سخنگوی جلسه فاروق وردک گفت که) بزرگان عقب ایستاد شوند، تا آشکار شود که مردم افغان امضای این معاهده را می‌خواهند). به منطق فاروق وردک انسان شگفتزده می‌شود، آیا واقعا ملت افغان طرفدار این معاهده بودند؟ فاروق وردک دروغ گفت! رئیس جمهور اشرف غنی کوشش کرد تا مردم را قناعت دهد، به خاطر فریب دادن مردم مساجد را یاد کرد، گویی که مکان مقدس ما (مسلمانان) تنها و تنها مسجد باشد، اشرف غنی با صراحت سخن نگفت، تنها اظهار نمود که این معاهده مفید است؛ ولی نقاط مشخص اش را یاد نکرد. اشرف غنی متعلق به لغو این معاهده گفت): اگر خاک ما با کدام خطر جدی مواجه شود در آنصورت ما تقاضای ویژه کرده می‌توانیم. تقاضای ما مورد توجه قرار بگیرد.) اگر این معاهده مفید باشد و مردم واقعا مطمئن باشند، پس چرا اینقدر زود سخن از لغوش زده شد؟ غنی در رابطه به لغوش هم صریح سخن نگفت، تنها اینقدر گفت که ما (تقاضای ویژه (داریم.

در سخنان اشرف غنی نکته ای دیگرش این بود که کوشش کرد تا رئیس جمهور اسبق حامد کرزی را زمینه ساز این معاهده معرفی کند و پای او را نیز درین اقدام بکشاند. این همه گریز از مسئولیت بود، همه تلاش داشتند که بار را به بالای همه بیندازند و هیچکس به تنهایی مسئولیت را به گردن خویش نگیرد.

نخستین واکنش

مقامات در رسانه‌های گروهی واکنش افغان‌ها را خوانده باشند. این پاسخ مردمی بود به امضا کننده گان پیمان و طرفدارنش. تقریبا همه فعالان فیسبوکی از وقوع این حادثه غمگین بودند، تماماً این کار را وطن فروشی خواندند، هیچکس توان دفاع و همکاری را نداشت تماما به یک زبان این معاهده را رد کردند. شاید در دیگر وقایع این طور اتحاد نظر میان فعالان فیسبوکی افغانی نیامده باشد. به راستی که این وحدت نظر نمونه نداشت، عکس العمل‌های شان به صراحت نشان داد که از رئیس جمهور چقدر شاکی و ازش چقدر نفرت داشتند.

این فعالان نماینده گان مردم بودند. این یک عکس العمل مردمی بود. به فکر، شخصیت و حکومت اشرف غنی لعنت‌ها گفته شد.

دامام بخاري (رحمه الله) ژوند او اثار

دامير المؤمنين في الحديث، حجة المجتهدين اوشيخ الاسلام امام بخاري (رحمه الله) اصلي نوم محمد اود پلار نوم يې اسماعيل دی، نوموړی د۱۹۴ هق کال دشوال المکرم په ۱۳مه نیټه بخارا کې - چې داوسني ازبکستان یومشهور ښار دی - زیږیدلی دی. پلار یې ډیر متقي عالم ؤ، داحمد بن حفص (رح) په وینا دامام بخاري پلار (اسماعیل) چې ډیره شتمني یې په میراث پریښوده، دمرګ په وخت کې راته وویل چې: «زمادمعلوماتو په اساس زما په مال کې یو شکمن درهم لاهم نشته». بنایي همدا دحلالي نفقې برکت اولامل به وي چې خدای جل جلاله یې له زوی (امام بخاري رحمه الله) څخه ددین دومره لوی کار واخیست.

په ماشومتوب کې دامام بخاري له سره د پلار دشفقت سیوری پریوت، خومور یې خورا پرهیزګاره اوهوښیاره ښځه وه خپل زوی یې په ډیره ښه توګه وپاله ان چې بې اوداسه یې شیدې لاهم نه ورکولې. کله چې محمدبخاري دزده کړې جوګه شو مور یې دلیک اولوست په موخه مکتب کې داخل کړاو خپل یتیم زوی یې په دې هیله دعلم زده کړې ته وقف او هڅاوه چې خدای جل جلاله به ددین ښه خدمت ځنې واخلي. امام بخاري دلسو کالو په عمر ؤ چې دمبارکو احادیثو شوق مکتب ځنې پریښوداو په مختلفو ځایونو کې یې د احادیثو دزده کړې لټه پیل کړه.

امام بخاري په شپاړس کلنۍ کې دخپلې مور اوورور (احمد) سره مکې مکرمې ته ولاړ دحج داداکولو وروسته یې مور او ورور بیر ته بخارا ته ستانه شول، خوامام بخاري هلته پاته شو اوپه حرمینو شریفینو کې یې داحادیثو او نورو علومو زده کړې ته ادامه ورکړه، امام بخاري دمبارکې روضې څنګ کې د (قضيا الصحابة والتابعين اوالتاريخ الكبير) په نومونو دوه کتابونه تصنیف کړل. اوپه حرمینو کې تر دوه کاله تېر ولو وروسته بیر ته بخارا ته راستون شو.

امام بخاري د علم په طلب پسې بلخ، مصر، بغداد، کوفې، حجاز او..... ته سفرونه وکړل اودمختلفو استادانو څخه یې داحادیثو او نورو علوموشتمني تر لاسه کړه، حافظ ابن حجر په فتح الباري کې دامام بخاري داستادانو شمېر (۱۰۸۰) ښوولی دی. امام بخاري ډیر ذکي اود پیاوړي حافظې څښتن ؤ، په شپاړس کلنۍ کې یې دابن المبارک او وکیع کتابونه یاد کړل. محمدبن حمدویه دامام بخاري له قوله لیکي چې: دامام بخاري دوه لکه غیر صحیح او یولک صحیح احادیث یادوواودبخاري شریف احادیث یې دشپږ لکه حدیثونو څخه انتخاب کړي دي.

دبخاري استاد قتیبه بن سعید وایي: ماچې په خپل عمر کې څومره راویان اوفقهاء لیدلي دامام بخاري غوندې یوه اوذکي سړی مې نه دی پکې لیدلی. دنومیالومحدثینو وینا ده چې: تر اسمان لاندې دخدای جل جلاله پر ویړه مځکه یې دامام بخاري په شان په احادیثو پوه شخص نه دی لیدلی. لوی عالم محمد بن ابي حاتم الوراق وایي: «یوه شپه مې خوب لیده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مخکې امام بخاري تر شا ورپسې روان وي له کوم ځایونو څخه چې انحضرت صلی الله علیه وسلم قدم پور ته کړي بخاري پرهماغه ځای پښه کښیږدي».

دامام محمد بن اسماعیل (رحمه الله تر ټولو معتبر اومشهور تصنیف (صحیح بخاري) دامت دعلماوو په اتفاق سره دمځکې پر مخ تر قران کریم وروسته تر ټولو کتابونو اصح کتاب دی. شاه ولی الله دهلوي (رحمه الله) وایي چې: ترجامع بخاري مخکې داحادیثو کتابونه په څلورو بیلابیلو فنونو لکه: احکام، تفسیر، سیرت اوزهد کې لیکل شوي وو، خوامام بخاري همدغه څلور واړه فنون په جامع بخاري کې په مرفوع اومسند روایتونو سره راجمع کړي دي.

دصحيح بخاري دليکلو په اړه خپله امام بخاري وايې چي : الجامع (بخاري شريف) مي دشپږ لکه احاديثو څخه په شپاړس کاله موده کي تصنيف کړ اودځان اوخپل رب جل جلاله تر منځ مي حجة قايم کړ، محدثينوټول احاديث پر اتو برخو ويشلي دي (عقايد، فتن، احکام، تفسير، سير، رقاق، مناقب اوتاريخ) په کوم کتاب کي چي يادي شوي حصې جمع شوي وي جامع ور ته ويل کيږي، په بخاري شريف کي همدغه اته واړه برخي رايو ځاى شوي دي نوځکه جامع بخاري بلل کيږي. امام بخاري (رحمه الله) وايې ماچي به په خپل جامع بخاري کي کوم حديث جمع کاوه لومړى به مي غسل وکړ، بيابه مي دوه رکعته نفل اواستخاره وکړه او وروسته چي به مي دهمدې حديث په صحت او ثقه والي باندي بشه يقين شو بيابه مي وليکه.

ابن حجرعسقلاني دجامع بخاري ټول احاديث (۷۳۹۷) ګڼي البته ځيني علماء ددې شمېر سره څه اختلاف لري. دصحيح بخاري غير تکراري احاديث (۱۷۶۱) دي، په بخاري شريف کي د کتاب په نامه عنوانونه لکه: کتاب العلم او کتاب الايمان (۱۶۰) دي اودبابونو شمېر يې (۳۴۵۰) ته رسيږي.

په بخاري شريف باندي ډير زيات شروحات ليکل شوي چي ډير ي زياتي مشهوري شرحي يې عبارت دى دحافظ ابن حجر دفتح الباري، دحافظ بدرالدين عيني دعمدة القاري اودشاه انور شاه کشميري دفيض الباري څخه.

امام بخاري (رحمه الله) داصح الکتب (جامع بخاري) څخه علاوه لاندي نور تصنيفونه هم کړي دي.

تاريخ الکبير، تاريخ الاوسط، تاريخ الصغير، بر الوالدين، الادب المفرد، خلق افعال العباد، جزء رفع اليدين، جزء قراءة خلف الامام، کتاب الضعفاء، جامع الکبير، کتاب العلل، مسند الکبير، تفسير الکبير، کتاب الاشربة، کتاب الهبة، اسامي الصحابة، کتاب الفوائد، کتاب الوحدان، کتاب المبسوط او کتاب الکني.

دامام بخاري (رحمه الله) درس ته دليرو علاقو څخه خلک ور تلل اودعلم تنده يې په بخارا کي دامام بخاري په درسګاه کي ماتوله، ابن حجر عسقلاني دامام بخاري دشاګردانو په اړه ليکلي چي: «دامام بخاري څخه دصحيح بخاري درس (۹۰) زره شاګردانواوريدلى دى». دامام بخاري (رحمه الله) دذکاوت اوعلميت خبر تر ډيرو ليرو سيمواوحکامو پوري هم رسيدلى ؤ.

په بخارا کي دعباسي خلافت نائب امير خالدبن محمدالذهلي دامام بخاري څخه دهغه په قصر کي داحاديثو دتدريس غوښتنه وکړه خوامام بخاري يې غوښتنه رده کړه اوپه ځواب کي ور ته وويل چي: زه علم نه خواروم اودادعلم سپکاوى دى چي دباچاهانو دربار ته يې ورووړم. وروسته بياوالي ځني وغوښتل چي دکورنۍ غړوته يې دتدريس يوه ځانګړې حلقه جوړه کړي چي نوروطالب العلمانو ته پکي دګډون اجازه نه وي امام بخاري (رحمه الله) دوالي داغوښتنه هم رد کړه او قاصد ته يې وويل: داچي ځيني خلک به مي په درس کي حاضر وي او نور کسان به بيازما په درس کي دګډون اجازه نه لري جائز نه دي، که څوک دعلم شوق لري زمامسجد او کور ته دي راشي اوکه زما همدا کار دوالي په طبع برابر نه وي دتدريس مخه دي مي ونيسي چي دقيامت په ورځ دالله تعالى په دربار کي عذر ولرم.

له همدې کبله دبخارا والي امام بخاري (رحمه الله) ته دبخارا څخه دوتلوامر وکړ. د سمرقند خلکودامام بخاري (رحمه الله) څخه هلته دورتللوغوښتنه وکړه امام بخاري سمرقند ته په لاره څه وخت دخرتنک په کلي کي تم شو، وروسته چي يې سمرقند ته سفر پيل کړ دضعف له امله يې له خلکوڅخه په همدې ځاى کي دپاته کيدو عذر وغوښت، په همدې وخت کي امام بخاري دعا وکړه چي: «ياالله! ستادا پراخه مځکه راباندي تنګه شوه روح مي درقبض کړه»!، وروسته يې ارام وکړ اوپه همدې حالت کي يې روح له تنه والوت.

انالله وانااليه راجعون!

امام بخاي (رحمه الله) دڅه کم ۶۲ کالو په عمر په ۲۵۶ هجري قمري کال له دې فاني نړۍ څخه ودارالبقاء رحلت وکړ، په جنازه کي يې دسمرقند اونور سيمو ډيرو زياتو خلکو ګډون وکړ اودسمرقند څخه ۶ ميله ليري دخرتنک په کلي کي خاروته وسپارل شو دمقبرې څخه يې څو ورځي دمشکو بوى ولاړيده.

مأخذونه: [دليکوال يادښتونه، دفضيلت پګړى دمولوي محمدعمر خطابي تصنيف اوانټر نيټي پاڼي]

کلوړینې پاڼې

اختر او یتیم

(مولوي سمیع الله احرار)

زړه مې دردېږي نن مې بیا اشنا لیدلې اوښکې
دیوه یتیم له سترګو ورو ورو تویېدلې اوښکې
ښایي وریاد به وو نازونه د شهید بابا جان
باران باران یې په ګریوان را وروړلې اوښکې
شپه وه هرچا یو نازولی په ځنګل ویده وو
یتیم او موریې د ښو په تار پېیلې اوښکې
ډیوې هم کړله بدرګه ورسره ویې ژړل
آن ترسهاره یې په ګېډه څڅولې اوښکې
ورځ د اختر وه ماشومانو سترګې توري کړلې
دده له سترګو لا هماغسې رارتللې اوښکې
څوک به یې ونازوي څوک به یې په غیږ کې واخلي؟
څوک به یې وخندوي څوک به یې کړي غلې اوښکې؟
څوک به یې کېږدوي په سر د ترحم لاسونه
څوک به یې پاکې کړي له سترګو نه راغلې اوښکې
خدای مکړه داچې یې شي آه د عرش مالک ته عارض
هسې نه راشي زموږ په لوري قهرېدلې اوښکې
وه هاشمي احراره خدای دې کړه خادم د یتیم
د زړه په جام کې تولوه دغه سپېڅلې اوښکې

مرو

(حمید حقیقي)

مرو با پیروان پست شیطان
مرو با آشنایان یهودان
مرو اندر پی قوم دد و دزد
مرو خم خم بزیر چتر آسمان
مرو در درگه و دربار ظالم
مرو با دشمنان دین و ایمان
مرو با مردم بوزینه امثال
مرو با ظلم و استبداد یکسان
مرو از غیرت و همت فراتر
مرو از راه و رسم خود پشیمان
مرو از مجمع اهل محبت
مرو در راه بی تصمیم و حیران
مرو سنګر که باز آیی به جانان
مرو در تخت و دربار خبیثان
مرو از حق حقیقی سوی باطل
مرو از مسجد اندر کوه و دامان

خواب

(قاري سعید)

لا مو په سترګو کې یو خواب پاته دی
مرګیه مه راځه لږ تاب پاته دی
شو ګیرو هلې قافله راتم کړئ!
هاغه ویده عالیجناب پاته دی
چیرته اذان چیرته امام شهید دی
له چا مینار له چا محراب پاته دی
دوی خپل سوال ته سوالیه کېښوده
ملګرو وار مو دی ځواب پاته دی
داوښکو نرخ چیرې ارزانه نه کړئ
دې ملګرو کې لا آب پاته دی
زموږ د کلي طالب جان شهید شو
زموږ مسجد کې یې کتاب پاته دی
د سیرابۍ هیلې ستومانه نه کړئ
هرڅوک مخکې لا سراب پاته دی
تنهاکې مه شمیره مزل لنډوه
سعیده شیر انقلاب پاته دی

دحسن فلسفه

(عرفان الله عرفاني)

ښکلا پر تا تمامه یې دحسن فلسفه
پر تا باندې زېبا ده مدینه منوره

خوبان دجهان واړه ټول په تا باندې مین دي
معشوق یې دعشاقو عشق دې څومره کړي مزه

قرآن کې رب ستایلی یې په خلقٍ عظیم
شق القمر دې هم ده یوه ستره معجزه

دېره دې پر صفه شول څو دمینې طالبان
تا جوړه کړله مونږه ته دمینې مدرسه

ریښتونی پیغمبر یې مجاهد یې هم غازي یې
ګټلې تا پر هر میدان له کفره معرکه

دا توره دنیا ستا دمخ جلوو رڼا کړه
چې ته نه وې نړۍ باندې خوره وه توره شپه

له تا مخکې به خلکو عبادت کړو د بوتانو
چې ته راغلې شوه ماته دشرک هره بوت کده

غزاوو د اُحد بدر حنین کې دې جانانه
په تورو دې ملکو هم کوله بدرګه

ای کاشکې چې ملنګ دستا دکلي عرفاني وای
جارومې پر بڼو وای ستا ښایسته ښکلي روضه

اختر ته

(حافظ محمد قاسم زهیب)

له ښادیو مروریمه اختره
په غمونو باندې سریمه اختره

هم موخپل او هم پردي راته ګوابنېږي
دپښتو خاورې ددلبریمه اختره

دقرآن او دحدیث فیصله غواړم
ځکه داسې درپه دریمه اختره

هم مو کور او هم مو کلي بمبارېږي
چې دپاک الله عسکریمه اختره

نه سهار او نه ماښام رامالومېږي
لیونو نه هم بتریمه اختره

هم مو کروز او هم کلسټر په سر خوړلي
وران کابل او وران لوګریمه اختره

ملامت یمه بخښنه درنه غواړم
په راتګ دې ناخبریمه اختره

تیر زخمونه دکرملین جوړ شوي ندي
بیا کباب شومه سورغریمه اختره

زندانونه ولچکونه زولنې دي
زهیب هر ظلم ته سپریمه اختره

دسولې له نامه څخه څنګه استفاده وشوه ؟

په پاکستان داسلامي پخواني سفير ملاعبدالسلام "ضعيف"

که څه هم ما ځان له سياسي امورو څخه تر ډيره ليرې کړی دی او يوازې مې علمي کارونو ته توجه کړې ده، ليکنې مرکې او ملاقاتونه مې شاته کړي دي؛ خو دا ليکنه راته په دې خاطر اړينه ده تر څو سکوت دلالت پر رضاء باندې رانسي. د يوه مسلمان په توګه د داسې عمده اشتباه په وړاندې خپل نفرت ښکاره کړم کوم چې د سولې هيلې په ناهيلۍ بدلوي، د ګرانو هيوادوالو او هيواد د لاناامنۍ او ناخوالو سبب کيږي، همدارنګه د ناپايه جنګ اور ته لمن وهي.

رښتيا هم قدرت ته د رسيدلو لپاره ځيني کسان ډيرې وعدې کوي، مختلفې حربې کاروي؛ خو هدف ته په رسيدلو سره ځيني کسان کاملاً اړه بدلوي. کله خپلې وعدې هيرې کړي او کله په چالاکۍ سره ور ته غير مقبول ځواب ووايي.

زما په اند چې اشرف غني او د هغه ټيم قدرت ته د رسيدو سره يوځای آن په دوېمه ورځ هغو وعدو ته چې ګواکې دوی به خامخا هيواد ته سوله راولي او يا به د ده په قول که په دې کار سره بريالی نسي نو استعفا به ور کوي، په عمل کې منفي ځواب ووايه، رښتيا چې دا يو ډير سپيڅلی شعار وه، هغوی په رښتيا سره پوهيدل چې دا کړيدلی ولس تر ټولو اول سوله غواړي، هغوی سولې ته تر بل هرڅه اړتيا لري، هغوی د سولې راوستلو ته دومره تږي او انتظار دي لکه يو روژه نيونکی چې د ګرم باد په ګرمو او لوېو ورځو کې ماښام (روژه ماتي) ته تږی او انتظار وي. هغوی په دې سره هم پوهيدل چې دا ملت به خامخا د هغه چا و شاته ودريږي څوک چې د سولې د سپيڅلي

دالی سره ور ته ځان ښکاره کړي، مرسته به يې خامخا وکړي، که څوک ورڅخه د همدې هدف د پلي کولو لپاره مرسته وغواړي. خو دوی وهغه ته منفي جواب ووايه او له ابتدايي د چاخبره په ساکن سره سوله، هغه دا چې د امريکا سره يې هغه ناروا او غير اسلامي تړون په ډيره بيړه لاسليک کړ کوم چې د سولې په لاره کې تر ټولو لوی مانع دی، د امريکا سره امينتي تړون تر ټولو عمده عامل دی چې د سولې سره مستقيما ټکر لري.

سوله چې کله هم اړينه سې مانا يې دا ده چې د سولې لپاره چلينجونه سته او هغه بايد د لارې د خنډ په ډول ليرې سوي وای، چې يو مهم چلينج هم د کفري ښکيلاک د اشغالګرو موجوديت او شتون دی، چې د سولې په لاره کې تر ټولو لوی او ناانډوله چلينج دی، همدا موجوديت د جنګ عامل او د سولې لپاره چلينج دی، که څه هم د ګوتو په شمير کسان به د دوی د وجود څخه د ځانونو په ګټه غير مشروع استفاده کوي، خو دا هيڅکله د ټولنې د حقوقو شرعي نماينده ګې نسي کولای، زه په دې باور يم تر څو چې د بهرنيانو اشغال تر هر عنوان لاندې دوام لري، تر هغو به د سولې مخې ته غرونه پراته وي.

د حقوقي لحاظه هر افغان که هغه مخالف وي او که موافق وي د هيواد د ارضي تماميت مالک دی، د دغه ملکيت څخه يې هيڅوک نسي محروم کولای، د هر افغان بې

توافقه د هغوی پر خپل ملکیت باندي معامله کول یوازي دا نه چې غیر قانوني ده بلکه ظلم دی چې د سیاسي رقابت په بنیاد باندي منځ ته راځي او د یوه غوڅ اکثریت د محرومیت او محکومیت دوام غواړي.

د شرعي لحاظه زه په دې عقیده یم چې د امریکا شیطاني قوت به هیڅکله هم یوه اسلامي هیواد ته سوله رانه وړي او بالعکس به د قومونو، سمتونو، خلکو او حکومتونو او حتی د ورونو ترمنځ نفاق ته لمن ووهي چې بشه بېلګه یې خپله زموږ د هیواد دا ډول اوسنی غربي جریان دی، چې ټوله خون ریزي، ویجاړونه، مرګونه او ترورونه د دوی (بهرنیانو) په مستقیمه یا غیر مستقیمه لاسوهونه او لمسون سره جریان لري، امریکا د کمونیزم تر ماتې وروسته اسلامي نړۍ تر مستقیم هدف لاندي راوستلې ده او د هر هغه مسلمان په وړاندې محارب قوت کاروي چې د دوی د شیطاني د سیسو په وړاندې عکس العمل ښیي.

په داسي حال کې چې امریکایانو په افغانستان کې تر یولک اوپنځوس زره زیات مسلمانان په شهادت رسولي دي، د اسلامي شرایعو توهین یې کړی، په زرګونو هیوادوال یې د خپلو حقوقو څخه محروم کړي دي، تر درې لکه زیات ماشومان یې بې پلاره کړي او یتیمان کړي دي، تر یولک زیاتي تورسرې یې کونډې اورنډې کړي دي، په ملیونونو افغانان یې د کورونو څخه شړلي یا کور پریښودلو ته مجبوره کړي دي، په زرګونو کلي یې د خاورو سره خاورې کړي دي او تر اوسه جریان لري او داسي نور...

د امریکایانو د دوستۍ یا همکارۍ داسي سند چې د افغانانو د نیولو، توهینولو، بندي کولو، کور ته ننوتلو آن د وژلو لاښه جواز ورکول سي هیڅ ډول قانوني او شرعي جواز نه لري او داسي قرارداد که فرد کوي، که یې ټولنه کوي، که یې مسؤل اوغیر مسؤل کس کوي، د قران او سنت لخوا مردود دي او زه یې د یوه مسلمان او افغان په صفت نه د مسلمانانو په ګټه بولم، نه یې د سیمي او ثبات لپاره په ګټه بولم، بلکه دا د سولې او ثبات د نه راوستلو، د جنګ د اوږدولو، د فرقه یې، سمتي او نورو نفاقونو د ډیریدلو عامل ګنم، له همدې کبله یې غندنه په سختو ټکو سره کوم.

په درناوي
عبدالسلام ضعیف
کابل افغانستان

موږخوداستادانو فتواوو تر دغه ځايه ورسولو

ملا جنت ګل

پر کابل توغندي وريدل؛ هرلورته دبمونواوماتمونو شورماشور و؛ فضا ګردونو پر سر اخيستې وه؛ دوينو اوبردو لوغړن بويونه و؛ پر کابل ښارداستادرباني په مشري دمجاهدينو واکمني وه؛دکابل ښار اوشاوخوا ټولې پوستې او وسلوال ګروپونه دنظار شورا وو،چې مشري يې فقيد احمدشامسعودکوله.

څنګه چې په اول کې دمجاهدينوتر مينځ دشوې معاهدې له مخې حضرت صبغت الله مجددي دوه مياشتي وروسته استاد برهان الدين رباني څلورمياشتي دجمهوري رياست لپاره منل شوي وو

خو داهل حل وعقد په نامه دخپلوقوماندانانوديوې غونډې دفيصلې له مخې استاد رباني دتلپاتې جمهوررئيس تاج پرسر اېښي و،چې استادسياف يې پخپله فتوا هرمخالف باغي ګڼه. دا داستادرباني درژيم وروستي کلونه وو،دطالبانوتحريک هم دهيوادپه جنوب کې سر راپورته کړی و.

موږ دحرکت له يوه قوماندان سره کابل ته ولاړو،هلته ستره محکمه دحرکت انقلاب اسلامي دتنظيم په برخه رسيدلې وه،دا وخت لادحرکت تنظيم درباني له رژيم سره خپله مقاطعه نه وه اعلان کړې.

موږ سترې محکمې ته لاړو،دماسپښين له لمانځه وروسته ارګ کې دقوماندانانوغونډه وه،موږهم له خپل مشرقوماندان صيب سره ارګ ته ولاړو،اول ځل و،چې ښاغلي استادسياف مې مخامخ وليد؛ لاس مې ورسره ميلاو کړ اودا راته يوستر اعزاز و،چې له استادسياف سره مې مخامخ مصافحه وکړه؛ دحديثو استاد،دجهاد رهبر اوداسلامي دولت له سترچارواکی سره مې مخامخ ليده کاته وشول!!!

استادسياف راغليوقومندانانوته اوږده او جالبه وينا وکړه.دا وخت طالبان نوي نوي په کندهارکې پيداشوي و،هلمند اوزابل ته يې هم سرايت کړی و. استاد يې په اړه دخپلې ويناپه يوه برخه کې وويل: ..."دا دامن فرشتي دي،ددينې مدرسو پاک زړي ځوانان دي.دوي دفساد دور کولو او امن راوستلو لپار راپاڅيدلي دي،اسلامي دولت به ددوي پوره مرسته کوي...

همدارازاستاد په راغليو قومندانانو اوسر ګروپانوغږ وکړ:چې دکابل ښارداسلامي دولت دباغيانو لخوا داسې محاصره ده(اشاره يې دښاغلي حکمتيارپه مشرۍ داسلامي حزب ځواکونوته وه)لکه داحزاب په پيښه کې چې مدينه منوره دمکې دمشرکينو لخوا محاصره وه،خوبري الله جل جلاله دنبي عليه السلام اوصحابه وو په برخه کړ اومشرکين سرټيټي په تيښته مجبور شول،نو موږ باور لرو چې بري به داسلامي دولت دځواکونوپه برخه وي،داسلامي دولت هر عسکر اوهر پوليس هغه مقام لري، کوم مقام چې داحزاب په پيښه کې صحابه وو لاره...

پدې وخت کې دنظار شورى، يوسر ګروپ چې فولادي جامپرېې په تن و اوبرګ دسمال يې په غاړه اوپکول يې پر تندي اېښی و،له ځايه پاڅيد اودتکبير ناره يې وکړه،په ټول تالار کې دالله اکبر دغږونو زوږ پورته شو،استاد پسې زياته کړه:..."اى داسلامي دولت مجاهدينو،عسکرو اوپوليسو!تاسې دمديني دانصارو اودمکې دمهاجرو صحابه کرامو په څېرياست اوتاسې مخالفين دمکې دمشرکينو مثال لري،ستاسي دبوټونو ګردونه به اسماني فرشتې صفا کوي اوستاسي په سترګو ددوزخ اور حرام دی، ځکه تاسو داسلامي دارالخلافة ساتنه اوڅارنه کوئ...

ماښام دستري محکمې ودانۍ ته راغلو، په غوږونو کې مې داستادسیاف دوینا اغیزلا پاتې و، کابل مې ترپام مدینه وه اوهغه هم دپیغمبرپه مبارک دور کې، دماخستن پرړووی مې ترخوا دکابل دمرافعې یوه قاضي فکر وړی ناست و، ترڅنګ ناست یوبل ملاته یې په ټیټ اوازڅه وویل. وریسې یې څک څک وکړ، ماهم غوږونه څک کړل، قاضي دوباره په ټیټ اوازڅه وویل چې ورسره ناست ملا په ځواب کې ترې وپوښتل: "څلورسره یې له شرمولو وروسته یې مړې کړې دي؟قاضي: هو! شیرعلم اوممتازپخپل لاس وژلي دي اوس غم داده چې استادیې سخته دفاع کوي،بس په مړه اورکې یې بیا اورلړونې وواهه؛ اوس به یې زور ترنوورو پښتنو وزي...

ددوی له خبرو چې کله راته جوته شوه چې داستادسیاف وراره اویوستر قومندان ددشتي برچي له سیمې دهزارګانو څلورتورسرې تښتولې اوبیایې له بې عفتۍ کولو ورسته مړې په ډیران غورځولې، غوږونه مې درانه سول، دحیرت اوکرکې څپه راباندې خوره شوه، چې داڅه اورم؟

په سباخبره نوره هم روښانه سوه، سباسهاردپوهنې وزارت له یوه کابل مېښتې رئیس سره مخ شوم، چې زما دپلارپخوانی دوست و، په دې اړه مې په حیرت پوښتنې ترې شروع کړې، هغه زماحیرت ته حیرت یوړ..."وراره! ته خوبیخي په بله دونیاکې اوسې، داړول کیسې نن سبا دکابل روزمره خبري دي، ته به لدې هم خبرنه یې چې ددغوقومندانانو دوطاقونو اوامنیتي پوستو له لاسه انجوني له بامونوځانونه غورځوي اوبوې یکې له شپږمم پوړنه ځان راګذارکړ!..

درئیس صیب دخبرو سره زما په غوږونو کې داستادسیاف پروني جملې یوځل بیاتکرارشوې: " ستاسې دبوټونو ګردونه به اسماني فرشتې صفاکوي اوستاسې په سترګو ددوزخ اورحرام دی ځکه چې تاسو داسلامي دارالخلافة ساتنه اوڅارنه کوئ!..."

دماښوم په څیرمې درئیس صیب په خبروکې ور ودانګل: ولې دمجاهدینومشران پرې خبرندي؟...رئیس لکه دخپوخبروپه پریکون چې ناراحته سو، په تریوتندي یې راغبرګه کړه:

مشران– مشران! مشران یې پخپله مشري کوي، دورځې دمرګونو اوراکټونو باران وي، دشپې عزتونه لوټ کیږي؛دلته دښاردامنیتي!؟پوستوسره نږدې کورونه ټول کډې باروي اوپه ښارکې دمازیګره وروسته خلګ په ځان پوري دروازې قلفوي...داخو زما ددوست دولتي رئیس خبرې وې، خودځو ورځو په تیریدو مې ډیرڅه ترسترګو تیرشول اوډیرڅه مې واوریدل، دکابل ښار راته دوحشت اوظلمت یو ژوندی انځور وګرځید، دملي امنیت یوه مامور داستادسیاف دزوی عبدالستار کیسه هم راته وکړه چې دڅونوروملګروسره یې له نشې نه په بیهوشه حال کې له ډیرونواوړه شواهدوسره په یوه کانتینر کې موندلی و اوبیایې داستادسیاف له تماس نه وروسته خپل کورته وړی و!

داسې خلګ مې هم ولیدل چې دکابل ښار دیوه وحشت ځپلي اوکم بخته وګړي په لاس کې یې دوخت درئیس جمهور استاد رباني هغه مکتوب هم لیدلی و، چې پرې لیکلي و"محترم قومندان صاحب لطفا زنش بتی..."خوقومندان یې بیاهم ښځه پخپله پوسته کې په زورساتله!

دا داستاد سیاف پرژبه دنړۍ دترټولومتشریع رئیس جمهور لخوا خپل ماتحت فردته لیکلی حکم و! هغه هم دکابل په ښار کې، همدا په دارالخلافة کې داسلامي قانون واکمني!؟ وه.

یوې پوستې له پل چرخي سره په اولاد ناناروغه میرمن یرغمل کړې وه، میړه ته یې قومندان ویلي و، چې ته له پوستې دباندې انتظار وکړه، مونږ ښځې په هرحال کې لیدلې دي، خوبودغه صحنه مولانده کتلې چې ماشوم ترې څنګه زیږي!!!

داړول په سلګونو پیښې چې هغه وخت زماغوندي خلګوته یوازې څومعلومې وي، خواوس دنړۍ تاریخونه پرې شاهدي ورکوي؛دتاریخ په پاڼوکې په تفصیل سره ساتل سوې اودنړیوالوبشرې اداروپه اسنادوکې په دقت سره ثبت دي.

داحقیقت اوس له هیچاهم پټ ندی، دسیاف دپیرڅو لخوا دهزارګانو دتورسرو عفت لوټول اودمزاري اوخلیلي دوسلوالو لخوا دپښتنومیندو سینې غوڅول؛رقص مرده اودژوندیوانسانانوپه سرونوکې میخونه ټکوهل، نن هم هرځای په مثال کې یادیږي!

دا داستادسیاف دهغه وخت دارالخلافة؛اسلامي دولت اومتشریع او واکمن رئیس جمهور وو، چې نن هم پرې شخوند وهي!

په حقیقت کې استاد دتاریخ له اوسپنیز دیوال سره خپله ورسته ککره جنګوي، چې دخپلومازغوله شاربلوپرته بله لاس ته راوړنه نلري.

استادته دتاریخ محاکمه هم نرمه ښکاري اوداسي فکر کوي چې دابه هم دنړیوالو استخباراتوپه څیر دخپلوګټولپاره دده تورمخ ورته سپین کړي.

داخودنړیوالواستخباراتوکرشمه وه چې دسره کمونیزم په زندان کې چې دمکتوبونوچپړاسیان اوجوماتونوعادي ملایان پکې داخوانیت اواسلام پالنې په تور ترپلیګونه ورسیدل، خواستادسیاف نه یوازې ترې روغ رمټ رخصت شو، بلکې دتورخم ترپولې په ډیر درناوي بدرګه هم شو!

زه په پیښور کې دمجاهدینو دحکومت پرمهال دسیاف کومې غونډې ته نه یم ورغلی اونه مې هغه وخت مخامخ داستاد کومه وینا اوریدلې، خو داستادهغه درنې وینـاوې مې ترغوږه رسیدلې چې ویـل بـه یـې: ..." لـه افغانسـتانه وروسـته بـه بیـت المقـدس ازادوو، دروس لـه مـاتې وروسـته بـه دامریکامقابلـه کوو؛ ظاهرشا کافردی، کـه مـا دغـرب ملاتـړ وکـړ، نوهغـه وخـت تاسوپوه شئ چې زه یالیوني شوی یم اویاګمراه!!!

داډول ویناوې دهغه په ځیني رسالو اوکیسټونو کې اوس هم پیـداکیږي اوداسي زرګونـه خلـګ اوس هم ژوندي دي، چې پخپلوغوږونویې ترې اوریدلې دي.

داستاد دوینوو اوفتواوو دومره زور وو، چې دعربي شیخانوزیاته برخه بسپنه به داستادخزانې ته تله. داسي هم شوې چې کوم شتمن عرب دمرستې لپاره میلونونـه ریالـه مرسته دټولوتنظیمونو لپاره راوړې وه خو استادترې ټوله یوازې ځان ته تروړلې وه!

داستاد "یاسر" مرحوم وراره همایون چې اوس پـه لنـدن کې اوسیږي اودسیاف یوبـل قومنـدان ضـابط خانـدوران چـې اوس هـم ژونـدي دي، دوې دواړه کیسـه کـوي چـې دسـعودي او کویـټ دوه ډیرسترشتمن شیخان پیښـورته دمجاهـدینو دمرستې لپاره راغلي وو. استاد "یاسر" سیاف تـه پـه تلفون خبر ورکړ، چې ډیرستر شتمن شیخان راغلي اولومړی له تاسره لیدل غواړي، سیاف ورتـه وویـل چې په پیښور کې نه ورسره وینم زه به لاړشم دزازیومرکزتـه، دوې هلتـه ماپسي را ولیږه، دپکتیـا د زازیوسیمې ته څیرمه دپاکستان په خاوره کې دسیاف نظامي مرکز و، هلته په غره کې یـو دوه امنیتي پوستي هم وې، چې دموټرلاره هـم ورختلې وه، همـایون وایـي عربانوتـه مـو وویـل: استاد سیاف پـه جهادکې مصروف دی، پیښورته نشي راتلای، هغه هیله لري چې تاسو دهغه لیدلوته هلته ورشئ.

هغوي پدې خبره نورهم لیوانه شول، استادیاسرپه جیپ موټرکې زه لـه عربانوسره زازیوتـه پـه سیاف پسي واستولم، سـیاف ویلـي ووچې کلـه عربـان دزازیومرکزتـه دوه یـادرې کیلـومتره نـږدې شي، ماته دې دچیپ ډریوروپه مخابره خبر راکړي، هم هغـه ووچې مرکزتـه لـه رسیدو وړانـدي مـو استادته خبر ورکړ، خوکله چې مرکزته راغلو استاد نه و. لاندې یې کس درولی و. هغه راته اشاره وکـړه چې سیاف دتپې په سر کې "زیکویک" ته ختلی هلته ورشئ، زه حیران شوم چې دامیلمانه اودتپې سر دابیاڅه لوبه ده!

موټرمې کومـک تـه واچـاوه اوپـه اول ګیر کې دتپـې سـرتـه روان سـوم، چې دتپـې سـرتـه نـږدې سوم، دیوکس سر مې ولیدچې دتپې له بره یې لاندې یوازې سترګې راښکاره کړې اونور ورک شـو، لدې سره سم دزیکویک غرشواوپیرونه یې پیل کړل.

دزیکویـک ډزونـو موږتـول پـه ویـره کـې واچولو، دتپې په سرکې مې موټر ودراوه، پـه هـواکې تـه کومـه الوتکـه شـتـه اونـه یـې اثرښـکاري! خواستادسیاف دزیکویک په څوکۍ کې ناست دی اوتـش هـوایي پیرونـه کوي، خړګردونـه وربانـدې ګرځـي اودغـه ایـه شـریف پـه لـوړ اوازتکراروي (ومارمیتَ اذ رمیتَ ولکن الله رمی)

زه پوه شوم چې استاد داټوله مصنوعي لوبه دې ته جوړه کړې چې میلمانه عربان تراغیز لاندې راولي.

له یوې شیبې وروسته استاد دزیکویک لـه مسنده راکوزشو اوعربانوتـه یې مخ وراوړه، پـه عربي یې ورتـه وویـل: ښښنه غواړم، دملحد دښمن الوتکې ترسرحد رااوښتې وې اوغوښتل یې چې زموږ مرکزونه بمبار کړي، خومابیرته وزغولې.

څرنګـه چې دواړو عربـانو تراوسـه اسـتادپه شکل نـه پیژاند، ماتـه یې مخ راواړاوه چې داخـوک دي، ماورته وویل داپخپله سیاف دي، عرب په څیر ورته وکتل، سترګې یې له اوښکوډکې شوې، غیږیې ورکـړه اوپـه زرغـوني اوازیـې ورتـه وویـل: "انـت سیاف !والله الان وجدنا امیر المونین"

(ته سیاف یې!؟ په الله قسم چې موږ اوس رښتینی امیرالمومنین پیداکړ)

همایون وایي چې میلمانه عربان دسیاف له دغه ډول حالت نه چې پخپلـه پـه الوتکو ډزې کوي دومره زیات متاثره شول، چې له ځانـه سره راوړې

هغه ټولې نقدي پيسې اوليکلي چيکونه چې له ټولو تنظيمونو سره د مرستې په نيت يې راوړي وو، ټول يې يوازې استادسياف ته تسليم کړل.

مازيګر ته بير ته سياف له پيسو او چيکونو سره يو ځای پيښور ته ځان را ورساوه.

دا ډېرې ډيرې خاطرې د استادسياف سره دنړدې پاتې شويو کسانو پر ژبو دي، خو موږ د لته پدې يوه کيسه اکتفا وکړه.

استاد ياسر مرحوم ويل يوه ورځ پير سيداحمد ګيلاني ته ورغلم او په بحث کې مې اعتراض ورانډې وکړ، چې ټول تنظيمونه اسلامي منشور لري او دا يو ته ليبرال يې او غرب ته نږدې يې!

پير صيب راته ويل ياسره، زه منم چې ته مخلص يې، ولې زه چې څه په زړه لرم هغه په خوله وايم او دريځ مې واضح ده، منافقت نلرم.

خو په الله قسم که ستاد تنظيم مشر "سياف" په زړه کې اسلام او اسلامي نظام غوړي، هغه دخپل جاه جلال او واکمنې لپاره بوخت دی، په هر نظام او دهرچا په غلامي کې که دهغه شخصي منافع وو، هلته به وي، او دهغه اوسنۍ ديني اودعوتي بڼه اودعوه يوازې يو فريب اودام دی.

استاد ياسر به ويل چې د پير صيب دغه خبره د کابل کړښه ثابته شوه.

اوس چې پخپله د سی ای ای مامور "ګيري شرون" پخپلو خاطرو کې روښانه کړه چې څنګه يې په ګلبهار کې سياف ته ډالر و د ور کړي په بدله کې دهغه مرسته او فتوا ترلاسه کړه!

چې په پايله کې سياف دا تجينر عارف او ممتاز په ملتيا سميز قومندانان دي ته وهڅول چې په کلبهار کې د امريکايي جنګي الوتکو لپاره د هوايي ډګر وي په رغولو کې مرسته وکړي تر څو امريکايان پر کابل عاجله بمباري شروع کړي، دده تر څنګ ديو بل ستر استاد له امريکانه ګيله پدې وه چې امريکايي الوتکي ولې زما د فتوا سره سم پر افغانستان درانه بمونه نه غورځوي!

افغانستان ته د امريکايانو له راتګه وروسته، استاد سياف تر ننه د امريکا او ناټو دجګړې ترشا ولاړ دی او هيڅ ډول سوله نه غواړي

د طالبانو او احمد شا مسعود ترمينځ د سولې يوستر خنډ هم د استادسياف دريځ او فتوا وه، سياف ته نږدې سرچينې دا هم وايي چې څو ځله مسعود له طالبانو سره سولې ته مايله شو، خو د سياف مشوره او فتوا ددې کار خنډ شوه.

که له دغو استادانو سره دخپلې خاورې، خپل ملت او خپل دين غم واي، نو دجګړې دتوديدو پر ځای به يې دجګړې دسړيدو هڅې کړې واي.

خو حقيقت دا دی چې زموږ د ملت غميزه ددغو استادانو منافقانه دريځونو او اجرتي فتواګانو هم د ومره اوږده کړه.

يو وخت چې دسعودي او کويټ ريالونو وو، نو استادسياف دجلوز و په کيمپ کې دجنازې لمونځ په جهر کاوه، دکابل دجوماتونو محرابونه يې غلط ګڼل او په هرچايې دمشرک ټاپه لګوله!

دا دريالونو په بدل کې فتواوې وې، خو کله چې يې په کابل کې درباني دجنازې امامت کاوه هلته بيا حنفي سو!

درباني دواکمنۍ په دور کې له روسيې نه دچاپيدونکو افغانيو له کانتينره به چې سياف ته خپله برخه تسليميدله، نو هغه وخت بيا درباني مخالفين د استادسياف په فتوا باغيان وو، او س چې بيا له ګلبهار تريغمانه دډالرو بنډلونه راشروع شوي نو استاد سياف دايساف او ناټو مفتي او دامنيتي سند دامظا لپاره دلال وګرځيد!

کاشکې زموږ ددغو استادانو فتواوې زموږ دغميزو دختميدو لپاره وي؛ دوينو توپيدو دمخنوي لپاره وي؛ کوم رښتينی معيار او هدف يې لرلای، دا ديرش کاله موږ ددغو استادانو فتواوې او رو چې هره يوه دبلې ضد وي.

دترکيې ولسمشريزې ټاکنې

اوپکې داردوغان برياليتوب

شهبازوی

دترکې دتېرې مياشتې په ترسره شويو ولسمشريزو انتخاباتو کې رجب طيب اردوغان بريالی اعلان او دترکې نوی ولسمشر شو.

د ولس ۷۵ سلنې پدې انتخاباتو کې ګډون کړی و چې ۵۲ سلنه رايې اردوغان او ۳۸ سلنه يې دمخالفو ګوندونو ګډ نوماند احسان او غلو ترلاسه کړې.

دلته خبره دافغانستان دانتخاباتو په څېر نه وه چې پکې دقدرت حريصو ګټونکو او بيلونکو څېرو ځانونه نړي، او ملت ته رسوا او په شرمونو شرمول بلکې احسان او غلو اردوغان ته دبرياليتوب مبارکي ورکړه او هيله يې څرګنده کړه چې داردوغان پدې نوي دور کې به دترکې دپرمختګ سفر جاري پاتې شي.

په ترکې کې به له دې وړاندې ولسمشر دپارلمان دغړيو له لورې ټاکل کېدلو خو دا ړومبی ځل دی چې پکې نېغ په نېغه دولس درايو له لارې ولسمشر ټاکل کېږي ؛ پدې انتخاباتو کې ګټونکې شخصيت طيب اردوغان هغه شخصيت دی چې په ۱۳ کلونو کې (دکله نه يې چې دعدل او پرمختګ ګوند جوړ کړی) دصدراعظمۍ او ولسمشرۍ په څېر سترو منصبونو ته په ترسره شويو انتخاباتو کې په نهم ځل کاميابېږي چې دادترکې په تاريخ کې ساری نه لري .

طيب اردوغان غواړي چې ددې نه پس په ترکې کې دواک اصل منبع ولسمشر وي يانې پارلماني نظام په صدارتي نظام بدل شي ، دلومړي وزير واک راکم او چوکۍ يې تردېره حده نمايشي بڼه ولري؛اردوغان ددې چوکۍ لپاره دباندنيو چارو وزير داود اوغلو ټاکلی ؛ داوداوغلو چې داردوغان په ملګرو کې ده ته تر ټولو نېږدې ګڼل کېږي ددې نه پس به دطيب اردوغان دعدل او پرمختګ ګوند مشري هم دهمده په غاړه وي.

دعدل او پرمختګ ګوند چې په ۲۰۰۱ کې رامنځته شو؛په وروستي کال په ترسره شويو عامو انتخاباتو کې يې برياليتوب ترلاسه او بيا په هرو ترسره شويو انتخاباتو کې يې کاميابي په برخه او له تېرو ۱۳ کلونو راهيسې پرترکې حاکم دی .

دا مسلسل برياليتوب او حاکميت يې ځينې تنان په خپلو ليکنو کې داسې تعبيروي لکه چې دترکې د ولس په افکارو کې دمثبت بدلون او پراخ مذهبي تمايل يواځنۍ پايله چې وي حال دا چې خبره داسې نده .

دا دخوښۍ ځای دی چې ترکې کې داسلام دنشأة ثانيه نښې رابښکاره شوي؛داسلامي شعايرو قدر مخ په زياتېدو دی؛دسيکولرزم پرضد نفرت او اسلامي لار ښوونو ته ژمنتيا هم ورو ورو په خلکو کې ډېرېږي او دولت هم په تېرو ۱۳ کلونو کې داسلام او مسلمانانو په ګټه ګڼ اقدامات ترسره کړي دي خو ددې هر څه سره سره لا هم په ترکې کې دسيکولرزم ريښې پوره کمزورې شوې ندي او په ۷ لسيزو کې ترکرغېړن چتر لاندې پيدا شوي او راستر شوي ترکان دومره ندي بدل شوي چې څوک دې ورته داسلام په نوم رايې وغوښتلای شي او يا دې کوم ګوند ته يواځې له همدې امله زياتې رايې ورکړي چې اسلام خوښی دی .

موږ دا منو چې دترکې ديندارې طبقې به دنيوي خبرې په پام کې نه وي نيولې او يواځې داسلام سره دميني پرښسټ به يې رايې ورکړې وي خو دترکې عامو خلکو دعدل او پرمختګ دګوند

دمشرانو ،اخلاص ددوئ خدمت ،دفساد پر ضد اوږدې مبارزې ،ټولنيزو اصلاحاتو، دترکې داقتصادي پرمختګ لپاره کاميابو پروګرامونو او هڅو ته لېدلې او له همدې امله يې هرځل زياتې رايې ورکړيدي.

اردوغان چې په ۱۹۹۴ کې دسياست ډګر ته راووت او داستنبول ښاروال شو دا دده لپاره دخدمت ، ښه شهرت ،مقبوليت او په مستقبل کې دبرياليتوبونو دترلاسه کولو ښه موکه وه چې ده هم ددې ښې موکې نه ښه ګټه پورته کړه او هغه ټول څه يې ترې ترلاسه کړل چې بايد ترلاسه کړي يې واى .

استنبول دنړۍ دمشهورو ۱۰ښارونوڅخه يو دى خو داردوغان دراتلونـه وړانـدې ددې ښار حالت پر هغه لور روان شوى وچې نورېې دشريفو وګړو لپاره داوسېدو قابليت له لاسه ورکاوه؛ لـه هرڅـه پکې دقماربازۍ مرکزونه ،نايټ کلبونه ،دشراب څښلو اوفحاشۍ اډې زياتې وې؛ بدامني پکې دې حد تـه رسېدلې وه چې په رڼا ورځ به هم لاروکوڅو کې خلک لوټ کېدل او ککړتيا يې دومره زياته شوى وه چې دلته دسيلانيانوراتلل ورځ تربلې کمېدل: اردوغـان چې داستنبول ښاروال شوپه ډېر زړورتـوب يې دفسادواوټولوبداخلاقيو دمخنيوي لپاره عملي ګامونه پورته کړل پدې لارکې يې دولسمشرخنډ کېدل هم ونه منل او نه يې هم دهغه څه پرواولرله ؛دومره مثبت بدلونونه يې رامنځته کړل چې پـه ترکې بـه دښه ماموريه صفت هغه دنمونې په توګه وړاندې کولای شو.

داچې داستنبول دښاروال په صفت دهغه همدې خدمتونو هغه تـه ښه شهرت وروبښلو نـو چې هغه کله په ۲۰۰۱ کې دعدل او پرمختګ ګوند بنسټ کېښود نو پـه راتلونکي کال کې پـه ترکې کې پـه ترسره شويو انتخاباتو کې يې حيرانونکې کاميابي ترلاسه کړه او هغه دلومړي ځل لپاره دترکې لومړی وزير شو؛ د ۲۰۰۷م پـه ترسره شـويو انتخاباتو کې يو ځل بيا د عدل او پرمختګ ګونـد بريـاليتوب ترلاسه او طيب اردوغان د دوهم ځل لپاره دترکې لومړی وزير شو او په دريم ځل چې بيا پـه۲۰۱۱م کې انتخابات ترسره شول نوسره له دې چې مخالفينو ستر اتحاد جوړ کړی او د طيب اردوغـان دراپرزولو لپاره يې ډېرۍ زياتې هڅې کړې وې خو بيا هم د طيب اردوغان ګوند دانتخاباتو ګټونکی شو ،طيب اردوغان په دريم ځل هم د ترکې لومړی وزير شو او خپلې درې واړه قانوني دورې يې د يوبه بل پسې په پرلپسې ډول پوره کړې .

د طيب اردوغان د دې ټولو کاميابيو ترشا د هېواد دهر ډول پرمختګ لپاره د هغـه نـه ستړی کېدونکې پرلپسې هلې ځلې دي ؛هغه او د کار ډلې يې د هر برياليتوب نه پس د تېر ځل نه په راتلونکي کې په زيات اخلاص دډېر خدمت په هوډ کار پيل کړی، تل يې خپل مستقبل ته کتلي دي : ماضي يې هېره کېيده او که راياده کړی يې ده نويوازې د دې لپاره چې پکې شوې خطاګانې پـه راتلـونکي کې بيا تکرار نه شي.

په ۲۰۰۲م کې چې د عدل او پرمختګ ګونـد واک تـه ورسېد، تـر ننـه پـه واک کې دی ؛پـه دې تېـرو ۱۳ کلونو کې چې دې ګونـد پـه ترکې کې کوم پرمختګونـه اصلاحات او مثبت بدلونونـه رامنځتـه کـړل فهرست يې ډېر اوږد دی چې پدې کوچنۍ مقالې کې د ټولو يادول ناشوني دي خو کـه يـوازې اقتصادي پروګرامونو او پرمختګونو ته ځغلنده کتنه وکړو نو هغه هم خورا ستر ، له تمو ډېر پورتـه او حيرانونکي دي، د طيـب اردوغـان همـدې کاميـابو اقتصـادي پلانونو که له يوې خوا په اقتصادي لحاظ داوروسته پـاتې ترکيـه پـه پرمختلـې ترکې بدلـه کـړه نـو بـل لورته يې په ولس کې د اردوغان په محبوبيت کې تر ټولو زياته ونډه ادا کړه ؛ واک تـه درسېدلو سره سم طيب اردوغان سـترې ملي پـروژې پيـل او پـه عـالي نظم او لوړو تخنيکي مهارتونو يې تکميل کړې؛پـه زرونو کلومتره نوي سرکونه يې جوړ کړل؛ پـه ترکې کې يې بين المللي هوايي ډګرونه ۵۰ته ورسول او پـه استنبول کې يې دملياردونو ډالرو په لګښت دسمندر لاندې داسې ستر تونل جوړ کړ چې دځمکې لـه لارې يې آسيا داروپـا سره وصل کړه؛دا تونل چې پـه يـو وخـت کـې دلاريـو،مـوټرو او اورګـاډي دتېرېـدو ظرفيـت لـري نـو ترکـې تـه دځمکـې لـه لارې دسـيلانيانو پـه راتلـو کې ډېـر زيـاتوالى راغلـی او دتجارتي مالونو په صادرولو او واردولو کې هم ډېره اساني راغلې چې لـه املـه يـې دترکې اقتصاد تـه بې سارې ګټه رسېدلې ده.

دترکې اقتصاد چې دسخت تنزل ښکار و د اردوغان دراتلو سره سم يې پرمختګ پيل کړ او چې له جرمني پرته پـه ټولې اروپـا کې اقتصـادي بحران رامنځته شوى و په همداغه شپږ ورځو کې هم دترکې اقتصادي وده له ۵ فيصده لوړه وه؛ داردوغان په تېرو ۳ دورو کې داسې کلونه هم راغلي دي چې اقتصادي وده پکـې دچـين داقتصـادي ودې برابـره يـاني ۱۰ فيصده ته لوړه شويده ؛ پـه ۲۰۱۲ کې دترکې اقتصـاد دنړۍ دترټولو تېزو اقتصادونو څخه يو و؛ په نړيواله سطحه دترکې اقتصاد ۱۷م اقتصـاد ګڼل کېږي خـو اردوغان په پوره باور سره وايي چې ډېر ژر به دترکې اقتصاد دنړۍ دلومبۍ کرښې پـه ۱۰ اقتصـادونو کې شمېر شي او تر ۲۰۲۵ پورې به دهر اوسېدونکی کلني عوايد په اقتصادي لحاظ دنړۍ دترټولو پرمختللې هيواد داوسېدونکو د کلني عوايدو نه کم نه وي.

دنړۍ په کبو ټولو هیوادونو کې بې کارۍ ورځ تربلې زیاتېږي خو ترکې کې برعکس دکار مواقع ورځ تربلې زیاتېږي نو ځکه دلته په باسواده ځوانانو کې دبې کارۍ کچه د ۱۵٪ نه ۹٪ ته راکوزه شویده او نور هم دراکوځېدو په حال کې ده.

دترکې بانکي نظام دومره په خپلو پښو ولاړ او ځواکمن دی چې هغه اقتصادي بحران چې دنړۍ ډېرې سترې اداري یې دیوالیه کړې وې دترکې په بانکي نظام هیڅ ډول ناوړه اغیزه نه وه شوې؛ په ترکې کې پولي انفلا سیون د ۳۰ فیصده نه ۷،۴ ته راکوز شویدی چې له امله یې په ترکې کې دګرانۍ کچه ډېره راټیټه شویده.

ترټولو مهمه دا چې دآی ایم ایف په نوم دیهودو نړیواله مالیاتي اداره چې دسودي قرضونو له لارې یې داسلامي نړۍ ټول هیوادونه یرغمال کړیدي ترکیه یې هم مقروضه وه خو طیب اردوغان دخپلې صدراعظمۍ دوروستۍ دورې دپای ته رسېدو نه وړاندې دا ټول پورونه ورخلاص کړل چې حجم یې ۲۳،۵ ملیاردو ډالرو ته رسېدلو او ترکیه یې ددې وړ وګرځوله چې اوس ترې نوموړې اداره پورونو غوښتلو ته اړ ده.

اردوغان یواځې دښارونو نه بلکې دښارونو او اطرافو دواړو پرمختګ ته برابره توجو کړیده نو ځکه ددې هیواد زراعت هم دومره وده کړیده چې له لارې یې ملي بودیجې ته راتلونکي عواید د ۶۲ ملیاردو ډالرو نه اوړیدلي دي.

دیادولو وړ ده چې ۲۰۱۳ کال دعدل او پرمختګ ګوند لپاره دازمایش نه ډک کال و؛ په غازي پارک کې چې دولت دیوې سترې پلازې جوړولو اراده درلودله ددولت ددې پلان پرضد مخالفین راپورته شول او دا یې پلمه کړه چې دپلازې دجوړیدا له امله دښار په ککړتیا کې ډېروالی راځي؛ دوی ددولت پرضد ستر لاریونونه وکړل او هڅې یې وکړې چې دتقسیم څلور لارې دتحریر په څلور لارې بدل کړي خو پرې ونه توانېدل؛ لویدیځ چې داسلام او مسلمانانو سره دطیب اردوغان او دهغه دګوند خواخوږي نه شي زغملای (اوداخواخوږي ورته دعثماني خلافت دوارثې ترکې هغه دور وریادوي چې دنیمې اروپا نه پر زیاتې واکمنه وه) رسنیو یې پدې مظاهرو کې دتېزوالي دراوستلو لپاره ډېرې هڅې وکړې خو دترکې ولس دخپل صدراعظم ترشا ودرېدلو او لاریونونه دناکامۍ سره مخامخ شول.

بیا په دسمبر کې ددولت پرضد دلویدیځ له لورې دستر ولګښتونو له لارې درامنځته شوي فتح الله ګولن تحریک زور واخست چې هغه هم دناکامۍ سره مخامخ شو.

بیا چې دسمبر کې داردوغان دکابینې په څوورزیرانو په مالي فساد کې دښکیلتیا تورونه ولګېدل نو ګومان نه کېدلو چې دطیب اردوغان دولت به بچ شي خو په ولس کې دزیات محبوبیت او دده دفراست په برکت ددې ابتلاء نه هم هغه بریالی راووت.

دکمال اتاترک نه دطیب اردوغان دړومبي ځل صدراعظم کېدو پورې به په ټولو چارو کې دپرېکړو اختیار دفوځ په لاس کې وچې اردوغان په تېرو ۱۳ کلونو کې په ډېر هوښیارتوب په ملکي چارو کې دفوځ واک تقریباً ختم کړ او دفوځ ټوله توجو یې فوځي چارو ته واړوله نو ځکه ویل کېږي چې دکمال اتاترک نه پس به اردوغان دترکې ترټولو زیات قدرتمن ولسمشر وي ځکه چې نیغ په نیغ دولس له لورې دټاکل کېدلو او په اساسي قانون کې دبدلون نه پس به دترکې دواک او سیاست محور اردوغان وي.

هو! واک به ټول داردوغان په لاس کې وي خو پدې شرط چې همدا ترکیه وي او پکې اردوغان وي؛ ماته داسې ښکاري چې دترکې اوسنی حالت او اوسنی حاکمیت اسرائیلو امریکا او نورې غربي نړۍ ته دزغم وړندی نو ځکه یې دنظام ړنګولو لپاره په ۲۰۱۳ کې ډېرې هڅې وکړې خو خدای کول چې ناکام شول؛ په ترکې کې دننه دګډوډۍ راپیدا کولو دناکامۍ نه پس اوس پدې هڅو کې دي چې دبېرون نه ترکې ته مشکلات پیدا کړي نو ځکه یې په ډېرچل او هنر دترکې ترسرحداتو جګړه وررسوله او له حده زیات فشار یې پرې راوستی تر څو داسلامي دولت دجنګیالو پر ضد جوړشوي اتحاد کې ورشامله شي؛ طیب اردوغان چې پدې اتحاد کې دهراړخیزو تاوانونو نه ښه خبر دی پدې اتحاد کې دشاملېدو نه انکار کوي نو دا به په راتلونکې معلومه شي چې په خپل دې انکار اردوغان کلک پاتې کېدلو او دسترو تاوانونو نه دترکې پر ژغورلو بریالی کېږي او که دفشارونو په مقابل کې مورال بایلي او غوښتنې یې مني.

باید دا یادونه وکړم چې څو کاله دمخه چې طیب اردوغان په ډاووس کې یو کانفرانس کې داسرائیلو ولسمشر شمعون پیرس ته دفلسطیني کوچنیانو دقاتل لقب ورکړ او دکانفرانس نه احتجاجاً راووت نو پدې موضوع مې یوه مقاله خپره شوې وه چې مې پکې دطیب اردوغان ددې اقدام ستاینه او دګڼو نورو مثبتو کړنو یادونه کړې وه چې یوشمېر مجاهدینو ملګرو ته یې خوند نه و ورکړی او

ويلې يې وو چې دهغه چا ستاينه ولې کېږي چې عسکر يې دغاصبو ناټو فوځونو په صف کې په افغانستان کې شتون لري؟

ځه دا پر ځای اعتراض بولم :زموږ خپل سکه ورور چې دصليبيانو په صف کې ولاړ وي دصليبيانو په نظر ورته ګورو نو دناټو په صفونو کې دترکې فوځيانو ته به څرنګه پدې نظر نه ګورو او ولې به يې دناټو دفوځونو سره دلته راتلل او شتون نه غندو؟

خودلته خبره دنسبي ښه والي او بدوالي ده ؛ ځه دا نه وايم چې داردوغان دننۍ ترکې نظام اسلامي شويدی :نه دا وايم چې واک ته دعدل او پر مختګ دګوند رسېدو سره سم په ترکې کې اسلامي انقلاب راغلی دی او نه هم پدې عقيده يم چې دسيکولرزم پر ضد دلته جهاد اعلان شوی اوګيني اردوغان ددې جهادستر اتل دی.

ځه ايله همدومره وايم چې دطيب اردوغان اوسنۍ ترکيه دکمال اتاترک دترکې نه ډېره ښه ده او طيب اردوغان پر اسلامي نړۍ دمسلطو ټولو حاکمانو نه ښه دی. دکمال اتاترک هغه ترکيه چې يکې ددينې زدکړو ټولې اداري تړل شوې وې :په اذان کولو يکې بنديز و؛يکې ددينې شعايرو سخت سپکاوی کېدلو ؛ فحشا ،بې حيايې او نور منکرات يکې دلويديځ دنامسلمانو هيوادونو نه هم زيات وو اوس په هماغې ترکې کې ددينې زدکړو مرکزونه خلاص شوي اوورځ تربلې يکې زياتېږي

؛جوماتونه يکې اوس ښه ډېراوپه عبادت آباد دي؛مذهبيتوب يکې ښه وده موندلې؛ دفحشا او بې حيايې دمخنيوي لپاره ګڼ اقدامات ترسره شوي وآن دپارلمان غړې مېرمنې هم پټ سر پارلمان ته راځي.

کمال اتاترک دلويديځ دخوشالولو اوکفري نړۍ ته دترکې دنېږدې کولو لپاره تردې حده تلی و چې ويل يې (نعوذبالله من ذلک) دترکې نه مو دخدای جنازه وويستله خو داوسنۍ مشر طيب اردوغان ټولې هڅې دغرب دغلامۍ نه دترکې دراويستلو اواسلامي نړۍ ته دنېږدې کولو دي؛په تېرو ۱۳ کلونو کې چې ددې لپاره هغه دجرأت نه ډک کوم اقدامات کړيدي فهرست يې ډېر اوږد دی چې دلته دټولو راوړل ناشونی دي او موږ دترکې په اړه ليکنو کې دټولو نه يادونه کړې هم ده؛ يواځې دپيل دوه ځو او ننو ورځو دجرأت نه ډکو دريځونو يادونه کوو منځ پرې قياسول اسان دي.

طيب اردوغان چې واک ته ورسېدلو هغه مهال دامريکا په مشرۍ کې صليبي اتحاد دمسلمانانو پر ضد جنګ اعلان کړی او پدې لړ کې يې افغانستان ديرغل لاندې راوستی اواشغال کړی و داسلامي نړۍ يوهېواد هم دامريکا سره دمرستې نه انکارنه کاوه بلکې په يو يو تليفون ورسره يوځای کېدل او ورته يې اډې هم ورکولې خو واک ته دطيب اردوغان درسېدو نه لږه موده پس چې په ۲۰۰۳ کې امريکا پر عراق يرغل کولو نو دطيب اردوغان نه يې پر عراق دحملو لپاره په کلکه اډې وغوښتې خو طيب اردوغان يې په ډېر جرأت دا غوښتنه رد او ددې ستر جرم دارتکاب نه يې ځان وژغورلو.

اوس چې پرغزې وحشي اسرائيلو حملې کولې داسلامي نړۍ ټولو حاکمانو دشرم نه ډک دسکوت روژه نيولې وه خو طيب اردوغان په پرلپسې ډول داوحشي حملې غندلې او دهټلر دظلمونو نه لوي ظلم يې ګڼلو؛ بيا عربو مشرانو دغزې اوسېدونکو ته کفنونه راستول خو طيب اردوغان دغزې دټپيانو پسې مصر ته دترکې نه طيارې واستولې داټپيان په دومره قدر ترکې ته راوړل شول چې داستقبال لپاره يې دانقرې هوايې ډګر ته دباندنيو چارو وزير داود اوغلو او دخپلې مېرمنې سره يوځای راغلې و.

داخوان المسلمين ځنې مشران چې دخپل هيواد نه تبعيد شوي او په قطر کې دمهاجرت شپې ورځې تېروي دقطر دولت يې دقطر نه دويستلو پرېکړه کړېده؛په نړۍ کې يو اسلامي هېواد هم دوئ ته پناه ورکولو ته ندی تيار خو طيب اردوغان دلويديځ دخفګان هيڅ پروا ونه ساتله او ښه په جرأت يې اعلان وکړ چې که دوئ ترکې ته راتلل غواړي دترکې غېږ ورته خلاصه ده او موږ يې په ورين تندي استقبال کوو.

دداعش پر ضد اوسنی جوړ شوي اتحاد سره ۱۰ اسلامي هيوادونه يو ځای شول؛امريکا دترکې نه بيا بيا وغوښتل چې دې اتحاد کې دې شامل شي خو طيب اردوغان دامريکا دخفګان پروا ونده ساتلې او تراوسه لاپدې اتحاد کې دشامليدو نه انکار کوي.

بس ځه په ترکې او دترکې په اوسنو مشرانو کې په همدې نسبي ښه والي باندې اعتراف کول دانصاف غوښتنه بولم خو که دکوم ورور رايه ددې خلاف وي دهغه دملامتولو او درايې د ردولو حق يې ځان ته نه ورکوم خوصميمانه غوښتنه ورځنې کوم چې دانصاف غوښتنې دې نه ردوي .

داسلام نړیوال قانون!

لومړی برخه: داسلامي نړۍ نامتو څېړونکی او عالم ډاکټر محمد حمیدالله (رح)

ژباړه: شهاب منصور

انټر نیشنل (نړیوال) لپاره اردو کې "بین الاقوامي" لفظ کارول کېږي، خو په دې سربېره ما قصداً "بین الممالک" لفظ استعمال کړ، لومړی به زه دا توجیه وکړم، چې اصلاً قانون دسلطنتونو ترمنځ داړیکو تضمین پخاطر جوړېږي، دجنګ او امن په دواړو صورتونو کې، دسلطنت وګړي ور سره سرو کار نلري، یعني په نړیوال قانون کې ددوه قومونو داړیکونه بحث نه کېږي، بلکې د دوه مملکتونو او هېوادونو له معاملاتو او ګټېو وټو نه بحث کېږي، له دې وجې زه په اُردو ژبه کې "دنړیوال لپاره د"بین الممالک" اصطلاح ته په "بین الاقوامي" ترجیح ورکوم، ځینې د"بین الملل" لفظ هم کاروي، خوهغوئ داتیروتنه له دې وجې کوي چې :د "ملت" معنی په قوم کوي، نه سلطنت ؛خو کله نه کله عربي کې د"بین الدُول" لفظ هم کارول کېږي، دا زما په نظر زیات سهي دی، ولې دلته دولت دمملکت په معنی دی! ددې لنډې توجیه وروسته داصلي موضوع په اړه عرض کوم:

څنګه چې ما وړاندې داصول فقه بحث په ضمن کې عرض دا کړی و، چې اصول فقه یو داسې علم دی، چې وړباندې مسلمانان وياړلی شي، په ورته توګه د نن ورځې موضوع یعني "بین الممالک (نړیوال) قانون" هم یو داسې علم دی چې په نړیوالو دمسلمانانو لورینه اوپیرزوینه ده اوورته اول مسلمانانو وجود ببنلی، دا یوه عجیبه غوندې دعوه ده! ولې هر کله چې داقانون ددوه خپلواک حکومتونو دخپلمنځي اړیکو سره تړاو لري اوخپلواک حکومتونه نن نه؛ بلکې له زرګونو کلو راهیسي په انساني ټولنه اوبشرې ژوند کې شتون لري، وړاندې هم دانسانانو ترمنځ جنګونه پیښیدل او هم یې ترمنځو سوله یز اړیکې جوړوو، له دې وجې دا وینا چې نړیوال قانون دمسلمانانو مرهون منت دی او ورته یواځې مسلمانانو وجود ببنلی؛ لږ سپیناوي ته اړتیا لري، که مونږ په اصل کې ددې علم په پیل لږ غور وکړو، نو اعتراف به وکړو، چې رښتیا هم ددې پیل له حکومتونو وړاندې د خلکو نه شوی دی، هر فرد پخپل ځای خپلواک دی، له دې وجې ددې قانون د پیلېزې بنسټ دوګړو له خپل منځي اړیکو کول پکار دي، خو مونږ دعلمي اړتیاوو په وجه یې دافرادو له خپل منځي اړیکو سره نه تړو. بلکې د را وروسته زماني نه یې شروع کوو، دافرادو (وګړو) نه وروسته دوروروليو او کورنیو زمانه راځي، هره کورنۍ اوروروليدبلې کورنۍ او وروروليسره اړیکې لري، چې دا هم په یوه معنی نړیوالتوب رامنځته کوي، هر کله چې یوه کورنۍ پخپل ځای خپلواک وي، په ورته توګه به بله کورنۍ هم دمساوي خپلواکۍ نه برخمنه وي او خپلمنځي اړیکې به لري .دکوموا اړیکو لپاره چې قوانینو اوقواعدو ته اړتیا وي، خو مونږ هغو ته پام نه کوو. او وایو چې دهغو حیثیت دومره اهم ندی. چې ددې علم دشان سره مناسب وي .ددېنه وروسته قبیلوي دوره پیلېږي، په یوه قبیله کې ګڼې کورنۍ او وروروليټولې وي، مونږ په تاریخ کې وینو چې قبیلې تل خپلواک وي، مثلاً داسلام څخه وړاندې په عربو کې هره قبیله هم دومره خپلواک وه څومره چې نن سبا لوی حکومتونه دي، هغوئ نه یواځې دامن په چارو کې بلکې دجنګ په حالت کې خپلواکې وي، دهرې قبیلې سردار اومشر کولی شول چې دبلې قبیلې په خلاف جګړه اعلان کړې وه. یا یې ورسره سوله کړې وه، لوظنامې اوتړونونه یې کولی شول. غرض داچې هغه ټول کارونه یې سرته رسول کوم چې نن ورځ دیو سلطنت یا یو خپلواک حکومت ځانګړ تیاوې ګڼل کېږي، خو په یوه نه یوه وجه زمونږ دعلم څښتنانان دقبایلو دوره له پام غورځوي، اودنړیوال قانون پیل له حکومت نه کوي. اګر که هغه یو ډېر کوچنی حکومت هم وي.

مملکت یا حکومت اول دیوه ښار (city state) په بڼه جوړ شوی، غالباً انګریزې مصنفین (لیکوالان) له ښاري دولت نه شروع په دې وجه کوي، چې وړاندې په یوه زمانه کې یونان کې ښاري حکومتونه جوړوو، دهغو حکومتونو تر منځ جنګونه هم راتلل، دامن تړونونه اولوظنامې یې هم لاسلیکولې، په هر صورت هر څه چې و، له اسلام نه ډېر پخوا یونان کې ښاري حکومت شتون لاره، خو دا یواځې تر یونان

پورې خاص نه و، بلکې دنړۍ په هره برخه کې مونږ ته په نظر راځي، حتی چې په عربو کې هم داسلام څخه وړاندې ښاري حکومتونوشتون لاره،په عربو کې قبیلي هم میشت وې اوښارونه هم وو، دقبیلې اوښار توپیر داسلام څخه وړاندې هم و، هغه مهال به زیاتره قبایلو کوچ کاو، هغوئ په کوم معلوم کلي کې نه اړول ، په یوه ځای یې کال دولس میاشتې نه تیرولې، خو ددې ترڅنګ ښارونه او کلي هم ودان وو، چیرې چې دخلکو کوچیاني ژوند نه وو، نو په دې توګه مونږ ته په عربو کې قبیلې اوښاري حکومتونه ترستر ګو کیږي، غالباً یونان به هم یو وخت داسې و، خو دکومې زمانې په حالاتو چې غربي مصنفین بحث کوي، په دغه زمانه کې هلته ښاري حکومتونه جوړوو،یعنې خلکو په کلیو کې ژوند کاوو، په هر صورت دبحث لاندې علم پیل له هغه دورې نه کیږي چې کله انسان دفرد کورنۍ ، ورروولۍ او قبیلې نه په تیریدو په هغه پراخه حلقه یعنې ښاري حکومتونو کې میشت شو، زه به داعرض وکړم که چیرې یواځې دفرد معامله دفرد سره وي ، هغه به کمزورې وي،لیکن دمیرمنې او سړي یوځایوالی کورنۍ جوړوي، ورورولي جوړوي، څو خپل منصبي فرایض سرته ورسوي او دیواځیوالي په ځای دوه تنه وي، هغوئ دخپل هر دښمن که هغه دفطرت مظهر وي یا یې هم جنس انسان وي یا کوم ښاروی وي ددې ټولو په مقابل کې هغوئ یو څواک ګرځي دهغه وروسته کله چې وګړوته هم محسوس شي، چې مونږ دوه دوه نوروته شکست ورکولی شو، کوم دوه چې له مونږ نه زیات ځواکمن دي، نو سوچ یې وکړ

چې غوره داده چې موږ دزوجینو په ځای (میړه اومیرمنې) په ځای په لویه ورورولۍ کې اووسو، ترڅو دنورو دوه وګړو مقابله په اسانه وکړو، ددینه کورنۍ پیدا شوه ، هرکله دا ولیدل شول چې کورنۍ هم ډیره ځواکمنه نه وي، بلکې کمزورې وي،دیوې کورنۍ مقابله دبلې کورنۍ سره راځي، ځینې وخت یوه دبلې مقابله نشي کولی،نو له کورنۍ څخه یې په یوه پراخه دایره کې یعنې قبیله کې ژوند غوره دی ، داجتماعیت (خپل شمیر زیاتول) رجحان دنړیوال قانون او بشري فطرت یوه بنسټیزه اړتیا ده،له دې وجې دکورنیونه په تیریدو دقبیلو نه په تیریدو انسان په ښاري حکومتونو کې ژوند پیل کړ، ولې په یوښار کې څو قبیلې اوسیدې، ددې نتیجه دا شوه، چې هغه بیا ځان دبسته قبیلې په مقابل کې هم خوندي ګڼه او دښار په څنډو اوپولو کې ددیوالو نو جوړولو موخه دښاري دفاع چارې تنظیمول او په ښه ډاډ هلته ژوند کول و

دپخواني یونان په تاریخ کې د ښاري حکومتونو اړیکې داسې و،چې دهغو په اساس زه دیته تیارنه یم چې هغه دنړیوالو قوانینو په توګه اومنم، دیونان ټول اوسیدونکي له یونسل څخه وو، دټولو ژبه هم یوه وه دین یې هم یوو، خوپه جلا، جلا ښارونو کې میشت وو، هر ښار پخپل ځای ازاد اوخپلواک و، خپل منځ کې یې جګونه هم کول، خو غربي مصنفینو دویناوو له مخې دیونان دښاري حکومتونو ترمنځ که ځینې معین قواعد وو، نویواځې دخپل نسل یونانیانو ترمنځ داړیکو او رویو په اړه وو، هر خپلواک یونانۍ دولت دبل یوناني دولت سره په څو قواعدو عمل کاو، د پاتې نړۍ سره داړیکو په اړه د خپل صوابدید پرته هیڅ معین اصول اوقواعد نه درلودل، که کله به کومه پیښه وشوه، په اړه یې دپوښتنې حق چاته نه ورکاوه، دیوناني قانون خامي دا وه چې هغه یواځې دمحدود شمیر خلکو په اړه وو، نور ټول انسانان یې وحشیان ګڼل، یونانیانو نړیوال ددې وړ نه شمیرل چې ور سره په هغو ټاکلو اصولو او مقرراتو عمل وکړي، هغه معین اوټاکلي قوانین چې دخپلو وطنوالو او هم نسلو په اړه وو، هغه موږ ته نن د وحشت نه ډک ښکاري،دنړیوال قانون لړ کې هغه پخواني مثالونه چې مونږ یې په یونان کې مومو، چیرته چې ښاریانو به دامن او جنګ دواړو په حالت کې په هغو عمل کاوه، په سهي معنی نړیوال نه وو.

ددې وروسته دغربي مصنفینو په اند دنړیوال قانون لړ کې درومیانو ددوره هم دیادولو وړ ده، په دغه دوره کې هم ښاري حکومتونه پاته نه وو، روما ښار چې په پیل کې یوخپلواک ښارو، دیو پراخ سلطنت دپلازمینې بڼه یې درلوده، کوم چې داروپا څخه علاوه تر شمالي افریقا او دآسیا ترځینو سیمو غځیدلی و، په دغه دوره کې هم جنګونه کیدل او دامن لپاره تړونونه هم لاسلیکیدل، خو زه دغه دوره دنړیوال قانون لپاره موزون نه بولم، ددې وجه دا ده چې دانګریزي مصنفینو دویناوو له مخې :رومی سلطنت که جنګونو کې په ټاکلو قواعدو عمل کاوه خو رومیانو سره یې کاوه ،دنورې نړۍ سره نه، یواځې دهغو حکومتونو او سلطنتونو سره چې ور سره یې تړونونه درلودل، مثلاً : دیو سلطنت سره یې اړیکې به جوړ کړل،که دبل سره به یې په څه وجه جنګ پیښ راغی، هغوئ یې ددې وړ نه ګڼل چې ور سره په هغو معینو قوعدو عمل وکړي، دپاتې نورې نړۍ لپاره یې هیڅ ټاکلی قانون نه لاره، یواځې پخپل ذاتي صوابدید یې عمل کاوه، په یومثال سره به تاسو ته ښکاره شي، چې حقیقت څه ډول و:په لومړۍ زمانه کې له جنګ نه وړاندې دجنګ اعلان ضروري ګڼل کیده، دهغه طریقه دا وه، کله به چې لښکر روان شو او ددښمن خاورې ته به ورسید، یو پادري یا مذهبي مشر به نیزه ددښمن په خاوره کې خښه کړه ،دا دجنګ اعلان و، په دې سره به جنګ شروع کیده.

وروسته چې کله رومي امپراطورۍ پراخه شوه، او ددښمن تر پولو تګ په اوونیو امیاشتو وخت نیواو پادري ته دلښکر سره دومره اوږد سفر سخت کوونکی و ددې اسانه حل یې دا راوویست چې دروم په دولتي خزانه کې یې دمختلفو هېوادونو خاورې په بوجیو کې کېښودې، هر کله به چې د کوم هېواد خلاف دجنګ اعلان ته اړتیا وه، له خزانې به یې دهغه هېواد دخاورې ډکه بوجۍ راوویسته او پادري به پکې نیزه ښخه کړه ،داسې عجیبه اوناشنا خبرې مونږ په بشري تاریخ کې لولو، خو ددې موضوع په اړه نه یواځې داعرض کول ضروري دی، چې مونږ درومیانو دوره دنړیوال قانون لپاره مناسب نه بولو، دهغوئ قانون که څه هم دجنګ او امنیت په اړه وو، خو هغه دټولې نړۍ لپاره یوشان نه وو، دنړیوال قانون مشهور انګریز مورخ "اوپن هایم" په دې موضوع یو لوی کتاب لیکلی ، هغه یوځای لیکي: درومیانو دوره کې دبهرنیو هېوادو ذکر یا دهغو دمعاملاتو په اړه بحث نه ضروري دی اونه یې ګنجایش شته، دهغه دا رایه درومیانو په دې دعوه بنا ده، چې: نړۍ درومیانو کره او درمیانو ملکیت دی، څوک دخپل کاله دننه نړیوال قانون نه جوړوي، له دې وجې هغه وایي: درومیانو دسلطنت په دوره کې درومي سلطنت سره اړیکي لرونکو هېوادو پر ته له اجنبي هېوادو نو سره په اړیکو کې دنړیوال قانون سوال هم نه پیدا کیده.

دهغه دورې وروسته په تپوب وهلو اروپایي تاریخ لیکونکي لیکي: نړیوال قانون په څوارلسمه عیسوي پیړۍ کې پیل کېږي، په دې منځ کې چې کومه شانداره اسلامي دوره تیره شوې هغه نه یادوي، په هر صورت کوم قانون ته چې غربي لیکوالان پر مختللی نړیوال قانون وایي، زه تیار نه یم چې هغه دنړیوال قانون په توګه اومنم، دنه منلو وجه داده چې: تر ۱۸۵٦ از کال اروپا کې په ټاکلو قوانینو یواځې دعیسوي سلطنتونو تر منځ عمل روان و، دغیر عیسوي دولتونو لپاره په هغو ټاکلو قواعدو عمل کول ضروري نه وو، په ۱۸۵٦ از کې په لومړي ځل اروپایي عیسوي سلطنتونو اعتراف وکړ، چې ددې قواعدو اطلاق په یوه غیر عیسوي دولت ترکیه هم کېږي، بیا شاوخوا شپیته اویا کاله وقفه تیره شوه، بل دویم هېواد چې اروپایي حکومتونو دنړیوال قانون لپاره اهل تسلیم کړ هغه جاپان هېواد و، کله چې هغه د ۱۹۰۵ از په جنګ کې روسي ته شکست ورکړ، دهغه وروسته لومړی نړیوال جنګ پیل کېږي، هغه وخت ځیني نور سلطنتونه هم ددې لپاره اهل وګڼل شول او په دې لړ کې یې ځیني شرطونه کېښودل، چې دهغو دپوره کولو وروسته هغه هېوادونه د "لیګ اپ نیشنز" غړي ګرځول، ددویم نړیوال جنګ وروسته د "لیګ آف نیشنز" ځای ملګرو ملتونو (ملل متحد) ونیو، چې دغړیتوب ترلاسه کولو لپاره یې داشرط کېښودل شو، چې دنړۍ هیڅ هېواد دخپل ذاتي حیثیت له پلوه دنړیوالې ټولنې غړی نشي کیدای څو لړ ترلړه دوه داسې هېوادونه چې هغه دواړه وړاندې دملګرو ملتونو غړیتوب ولري ملاتړ او وړاندیز ونکړي او داډاډ ورنکړي چې رښتیا هم دا یو متمدن هېواد دی، نړیوال قوانین مني او ددې مستحق دی چې ورسره دنړیوال قانون سره سم عمل و شي.

په دې حالاتو کې زه خپل هغه لومړی وینا بیا تکراروم چې نړیوال قانون دڅو خاصو قومونو لپاره ندی، ددې اطلاق دټولې نړۍ په هېوادو یوشان پکار دی او ددې قانون پیل له مسلمانانو څخه شوی ،اوس هم دمسلمانانو سره هغه قانون شته ، دبل چا سره نشته ما اوس عرض وکړ چې اوس مهال هیڅ دولت دملګرو ملتونو غړیتوب ترهغې نشي ترلاسه کولی څو دوه وړ اندې غړي حکومتونه یې وړاندیز او سپارښتنه ونکړي او دا ذمه وانخلي چې دا رښتیا هم یو متمدن سلطنت دی، ددې برعکس په اسلامي قانون کې داتوپیر او امتیاز شتون نلري، چې یو هېواد دمسلمانانو په معیارونو اوقواعدو عمل کوي او که نه ، حتی مونږ ګورو چې که یو دښمن مونږ سره ناانساني چلند وکړ، بیا هم مونږ دهغه سره دخپلو قواعدو سره سم بشري او انساني چلند به کوو، په دې حالاتو کې زه په دې ویلو کې تا مل نه لرم چې دهېوادونو تر منځ قانون چې په حقیقت کې هم دهېوادونو تر منځ وي او قانون هم وي دهغه پیل له مسلمانانو څخه شوی دی او څنګه شروع شو؟ دا قانون هم درسول الله (ﷺ) له سیرت نه سرچینه اخلي، ولې کله چې په مکه معظمه کې داسلام ځلانده لمر را پورته شو، په پیل کې ډېرې ستونزې وې، ولې دمسلمانانو سره کوم جلا هېواد نه و، مسلمانان ددښمن په ښار (مکه) کې اوسیدل، او مونږ ددې په اړه ویلی شو چې دا د یو حکومت دننه دبل حکومت شکل و، یعنې مسلمانان دمکې ښار دننه میشت ول، لیکن دمکې ښار دپخواني نظام لاندې نه وو، دمکې ښار دپخواني واکمن اطاعت یې نه کاوه، هم دمکې ښار چې کوم قوانین وو، دهغو اطاعت یې نه کاو، بلکې دخپلې هرې اړتیا لپاره یې رسول الله (ﷺ) ته دحاکم او دا الله (جل جلاله) داستازي په توګه رجوع کوله، دمسلمانانو خپل جلا قانون و، خپله جلا ټولنه وه، زه به دا هم ووایم چې داسلام په پیل کې دمکې ښار دیو ښاري دولت بڼه درلوده، په قریشو کې ځیني ازادې قبیلې وې کومو چې کوچیانې ژوند کاوه او په قریشو کې ځیني قبیلې وې، چې هغه دمکې ښار کې میشت وې، ددغسې ښارونو په اړه تر دې مهاله ډېر کم کار شوی دی، البته دمکې او طایف په اړه ځیني معلومات لیکل شوي دي البته دمدینې ښار په باب ډېر لږ معلومات داسې مندل کېږي چې هغه داسلام دلومړي دور پورې اړه ولري. نور بیا

د ملکي تلفاتو د مخنیوي ادارې لوړ رتبه غړی حافظ مولوي محب الله ګرمسیری:

ددې ادارې له جوړېدو سره سم مو ټول ولایتي مسولین په دې پوه کړل چې د ملکي تلفاتو مخنیوی یو لوی شرعي مسئولیت دی

پوښتنه: له هرڅه وړاندې که زموږ لوستونکو ته ځان ورمعرفي کړئ، مننندوی به مو یو

ځواب: زما نوم مولوي ګرمسیري دی، د ملکي تلفاتو د مخنیوي ادارې عضویت لرم، في الحال ددې ادارې په نمایندګۍ غواړم چې ستاسو یو لړ پوښتنو ته ځواب ووایم او ددې ادارې د جوړښت، صلاحیت او فعالیت په هکله تشریحات ورکړم.

پوښتنه: د ملکي تلفاتو د مخنیوي ادارې په اړه که معلومات راکړئ، دا اداره د کوم کمیسیون برخه ده، څومره تشکیلات لري او کاري ساحه یې څومره پراخه ده؟

ځواب: د ملکي تلفاتو د مخنیوي اداره د نظامي چارو د کمیسیون په چوکاټ کې یوه باصلاحیته اداره ده ددې ادارې د کار ساحه ټول افغانستان دی، یعني په درست هیواد کې د ملکي تلفاتو پېښې تعقیبوي او پلټنه یې کوي ددغې ادارې مشرتابه هیئت دوه حلقې لري چې هره حلقه یې یو رئیس او څلور تنه اعضاء لري.

پوښتنه: د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ادارې د تاسیس بنیادي علت او هدف څه و، او آیا د کوم هدف لپاره چې دا اداره جوړه شوې خپل هدف ته په رسیدو کې کامیابه ده او که لا هم نورو هڅو ته اړتیا شته؟

ځواب: چې کله امریکایي ځواکونو او د نړۍ ټولو کفارو په ګډه سره پر هیواد په پراخه کچه یرغل پیل کړ نو سمدستي مجاهدینو د الله جل جلاله په نصرت او خاص کومک سره ددوی په وړاندې جهادي عملیات پیل کړل، څرنګه چې په جهادي عملیاتو کې وسلې کارېږي نو د دښمنو عسکرو ترڅنګ په دې جهادي عملیاتو کې د عامو ملکي افغانانو د وژل کیدو او متضرر کیدو احتمال هم موجود و، څرنګه چې د عامو مسلمانانو ژوند ساتل زموږ دیني وجیبه ده ددې لپاره چې د ملکي خلکو د متضرر کیدو مخه نیول شوې وي دغه اداره تاسیس شوه.

بله دا چې امریکایي ځواکونو او ددوی متحدینو په هیواد کې د نظامي یرغل سربیره د مجاهدینو په وړاندې له منفي تبلیغاتو او پروپاګند نه ډیر کار اخیست، مجاهدین یې د ملکي خلکو په وژلو تورنول چې بیا به دغه تبلیغات د ملل متحد د مربوطه ادارو له خوا د رسمي راپورونو په توسط نور هم تائید او پر مجاهدینو به یې پېره اچول کیدله، په داسې حال کې چې په تیرو دیارلس کلونو کې امریکایي ځواکونو یې شمیره بشري ضد جنایتونه ترسره کړي چې ددې خبرې تصدیق څو ورځې وړاندې د ایمنستي انټرنیشنل رپورټ هم وکړ چې په دې هکله یې نشر کړ.

دښمن غوښتل چې د داسې افواهاتو او تبلیغاتو په ذریعه اسلامي امارت تجرید او له اولس سره یې درز پیدا کړي، د ورته تبلیغاتو د مخنیوي او د ملکي خلکو د ناحقه وژني او ځوروني د بشپړ مخنیوي په موخه د اسلامي امارت د رهبري شورۍ دغه اداره تاسیس کړه.

ددې ادارې له جوړیدو سره سم موږ له مرۍ ټول ولایتي مسؤلین او دغه راز د سیمې مجاهدین د بیلابیلو غونډو او مجالسو په ترځ کې په دې پوه کړل چې

ملکي تلفات یو لوی شرعي مسئو لیت دی او داسلامي امارت مشرتابه مقام ته دمنلو اوزغملو ورنه دي بناء تاسو باید ددې کارپه مخنیوي کې ډیرجدي واوسئ.

پوښتنه: که له یوې خوا افغانستان او سنی جهاد د پخوانیو جهادونو او یا دنړۍ د نورو برخو د جنگونو په نسبت د ملکي تلفاتو له اړخه لږ تلفات لرونکی دی چې دا یو ښه زیری دی، خو له بلې خوا لا هم دملکي تلفاتو زړه بوږنوونکي پیښې رامنځته کیږي، ولې تراوسه دداسې پیښو مخنیوی نه دی شوی؟

ځواب: داخبره رشتیاده چې اوس هم په ځینوموارد وکې ملکي تلفات رامینځته کیږي خو باید ووایم چې مجاهدینو نهایي هڅه کړې چې مخه یې ونیسي اما ددښمن ځیني جرمي کړنې ددې باعث کیږي چې په جګړه کې ملکیان متضرر شي، مثلا دملکی خلکو سپر گرځول د خارجي یرغلګرو یو تاکتیک دی، دوی همیشه هڅه کوي داولسي خلکو په منځ کې ځان محفوظ وساتي، دوی چې کومي سیمې ته داخلیږي، نوماشومان په ځان راټولوي، هغوی ته شیریني او لوبوشیان ورکوي، حتی په ځینو سیمو کې یې ماشومان داسې روږدي کړي چې ددوی ټانګونو ته منډې وروهي، دوی هڅه کوي په دې ډول ځان دمجاهدینو له حملو محفوظ وساتي، دغه راز داسې ډیر پیښ شوي چې مجاهدینو په یوځای ماینونه ښخ کړي وي، عام خلک یې خبر کړي خوامریکایانو دلارې دصفا کولو لپاره ولسي خلک یا د ملکی خلکو موټر ترمخ کړی وي، چې په دې صورت کې هم ددښمن دکړنو له امله ملکي خلکو ته زیان رسیږي

اویا چې کله یوه پیښه پر عمومي سړک رامینځته شي نو اشغالګرځواکونه دپیښې ځای تر ډیره وخته بند کړي چې بالاخره خلک تر ډیرانتظ رورو سته دعمومي سړک نه لاره بدلوي او پرخامه لاره روان شي چې په همدې وخت کې دسپرلیو موټر داحتمالي ښخ کړای شویو ماینونو ښکارشي او عام تلفات رامینځته شي.

خوترټولو ډیراوزیات ملکي تلفات په تیرو دیارلس کلونو کې دا شغالګرو ځواکونو له لوري داولسي خلکو په کورونو کې دشپې عملیات او بې رحمه ړنده بمباري وه چې نژدې اتیا فیصده ملکي تلفات دهمدې ناروا عملیاتو په نتیجه کې رامینځته کیدل چې دورتو تلفاتو له امله دکابل اداري او خپله حامد کرزي په لس ګونه ځله له اعتراف کړی.

له بلې خوا داخلي عسکرو خصوصا اربکیانو په دې وروستیو کې دعامو خلکو په هستوګنځایونو کې پوستي اچولي اویاعام خلک اوحتی ماشومان دناخبرتیا پرمهال له ځانونو سره په خپلو موټرو کې دماینونو څخه دحفاظت په موخه سپروي چې داهم په دې وروستیو کې دملکي تلفاتو یولوی لامل ګرځیدلی دی خو زموږ دتحقیقاتو له مخې په داسې مواردو کې دپیښې عاملین دښمن بلل کیږي نه مجاهدین ځکه مجاهدین یوازي ددوی موټرپه نښه کوي هغوی په دې نه وي خبرچې ددوی په موټرو کي به اولسي خلک ناست وي.

یا ځیني وخت مجاهدین ددښمن په هغو امنیتي پوستو بریدونه کوي چې هغوی بالکل داولسي خلکو دکورونو په مینځ کې پرتي وي په داسې مواردو کې هم ددښمن ځواکونه پړه بلل کیږي هغوی په دې خاطرچې کله پردوی وسله وال برید وشي نو دوی سمدستي دوارخطایي له امله پرشاوخوا خلکو ناتاره ډزې پیل کړي چې داهم په دې وروستیو کې دملکي تلفاتو یو بل لوی لامل ګرځیدلی دی.

پوښتنه: کله چې ددشمن لخوا ملکي خلکو ته تلفات رسیدلي په هغه صورت کې تاسو کوم اقدامات کوئ؟

ځواب: کله چې ددښمن لخوا ملکي خلکو ته تلفات رسیدلي په هغه صورت کې هم د ملکي تلفاتو د مخنیوي اداري سیمې ته د خواخوږۍ لپاره هیئت لیږلی دی

ته رسولي او هغوی په هم هغه وخت په رسنيو کې اعلان کړي دي.

پوښتنه : دبشري حقوقو مؤسسات، په افغانستان کې د ملل متحد نمايندګي يوناما او نورې نړيوالې ادارې چې کله د جګړې دبشري ناورينونو په اړه ارقام او احصايې خپروي، نو هميشه وايي چې د ملکي تلفاتو تر نيمايي زياتې پيښې د مجاهدينو لخوا رامنځته کيږي، تاسو دې قضاوت ته په کوم نظر ګورئ او که دا راته ووايئ چې د ملکي تلفاتو زيات تره پيښې د کوم جهت لخوا رامنځته کيږي ؟

ځواب : ددوی قضاوت بې له شکه يو طرفه او غيرواقعي دی ځکه چې دوی هغو پيښو ته چې د مجاهدينو تر کنټرول لاندې سيمو کې رامينځته کيږي معلومات اولاس رسی نلري او نه هم د هغو پيښو په اړه دوی ته پوره معلومات وي چې د اشغالګرو له لوري د مجاهدينو تر کنټرول لاندې سيمو کې د عملياتو په پلمه ترسره کيږي نو ځکه ددوی په راپور مونږ ډير باورنشو کولای چې دا راپور به څومره له حقيقته ډک وي.

پوښتنه : په جګړه کې کله ناکله د مجاهدينو لخوا د ملکي تلفاتو پيښې رامنځته کيږي، په داسې صورت کې ستاسو اصول څه دي کوم مجاهدين چې د ملکي خلکو له ژوند سره بيباکي کوي، تاسو ورسره څرنګه چلند کوئ ؟

ځواب : د ملکي تلفاتو د مخنيوې اداره کولای شي چې د خپل ورسپارل شوي اتلس ماديزه تصويب شوي طرزالعمل(کړنلاري) له مخې ټول هغه مجاهدين ،دلګۍ مشران او مسؤلين چې دد ښمن سره د عملياتو پروخت د ملکي تلفاتو په مخنيوي کې پاتې راشي او يابې پروايي وکړي ،راجلب کړي ،تحقيقات ترې وکړي او موضوع يې وشرعي محاکمو ته د مشرتابه مقام له هدايت سره سم راجع کړي اوورسره د خپل نظامي صلاحيت له مخې د پيښو عاملينو ته د سلب صلاحيت سربيره سخته سزاورکړي چې د دې ادارې له جوړيدو سره سم موږ حتی واليان احضار کړي او ډيردلګۍ مشران ،ولسوالان او دغه راز مسؤلين مجاهدين د ملکي تلفاتو سره د بې پروايي په صورت کې له کاره ګوښه کړي او دوسيې مو و شرعي محاکمو ته راجع کړې دي.

پوښتنه : کوم ملکي کسان چې په جهادي عملياتو کې متاثره کيږي، يا ژوند له لاسه ورکوي اسلامي امارت ورسره کوم ډول چلند کوي ؟

ځواب : د پيښې سره سم مو د موضوع د څيړلو لپاره د پيښې ځای ته يو خاص هيأت ليږلی او متضررينو ته مو تسلي ورکړی او تر پيښې وروسته مو د اسلامي امارت مشرتابه مقام ته د متضررينو سره د نقدي کومک پيشنهاد کړی او تر لاسه شوی نقدي کومک مو پر خپل وخت ورته رسولی دی او هغه عاملين مو چې دوی راته

مثلاً : د شعبان لسمه کال ۱۴۳۴هـ ق ۲۵ د جوزا ۱۳۹۲ هـ ش باندې د بغلان ولايت د دوشي ولسوالی د کيله ګۍ د کفترخانې په سيمه کې په عام ميشته کورونو باندې د ښمن له لوري ناتاره د هاوان بريدونه پيل شول چې د ورځې د لسو بجو څخه تر ماښامه پورې يې دوام وکړ. په ترڅ کې يې پنځلس (۱۵) تنه عام مسلمانان زخميان شول او د يوه کور دری ماشومان پکې شهيدان شول. په شهيدانو کې دوه هلکان او يوه کوچنۍ ماشومه شامله وه د خلکو سره د خواخوږی او غم شريکۍ لپاره سيمې ته يو هيئت وليږل شو ، د اسلامي امارت پيغام او تسليت متضررينو ته ورسول شو.

همداراز ۱۴ د ربيع الاول کال ۱۴۳۵هـ ق د جدي ۲۲ کال ۱۳۹۲هـ ش سره سمون وخوري د پروان ولايت د سياه ګرد په ولسوالۍ د وازغر په سيمه کې امريکايانو او د مزدورې ادارې ګډو قواو ځمکنی او هوايي عملات وکړل چې په ترڅ کې يې (۲۰) وګړي شهيدان کړل او ګڼ شميريې ټپيان کړل د ملکي تلفاتو د مخنيوي دارې د امريکايانو د ظلم او د عامو مظلومو مسلمانانو د درد او غم اواز او راپور په خپل وخت د اسلامي امارت ويندويانو

په ګوته کړي هغوی موږ په ډیرلږ وخت کې توقیف کړي ترهغو چې متضررینو قناعت نه وي کړی عاملین د پیښې زموږ سره بندیان وي او د پیښو زخمیان موږ په داخل کې د سره صلیب له لارې تداوي کړي او کچیرې صعب العلاج وي بیا موخارج ته د تداوی په موخه لیږلي چې ټول مصارف یې زموږ په پیشنهاد اسلامي امارت له بودیجې څخه ورکول کیږي. دغه راز په داسې پیښو کې چې عاملین مجاهدین وي او عامو خلکو ژوند پکښې له لاسه ورکړی وي بیا موږ ددوی یتیمان دیوې خاصې خواخوږۍ له امله د اسلامي امارت د شهیدانو او یتیمانو ادارې ته معرفي کوو ترڅو هغوئ فورمه ورکړي او په ټاکلي وخت ورسره نقدي کومک وکړي.

پوښتنه: ددې لپاره چې د ملکي تلفاتو مخه نیول شوي وي ، عامو خلکو ته مو سپارښتنې او هدایات څه دي ؟

ځواب: ټولو هیوادوالو ته مو سپارښتنه داده چې په خپلو سیمو کې د مجاهدینو هدایات په ټینګه رعایت کړي، که مجاهدینو په کومو سیمو کې له ګرځیدو منع کړي وي، باید ورنشي، ترڅو خدای مکړه متضرر نه شي، دغه

راز دد ښمن له عسکرو ،ټانکونو او د هغوی له تاسیساتو او پوستو څخه لرې وګرځي ترڅو ورته په جګړه کې ضرر ونه رسیږي.

دغه راز مو له ټولو هیوادوالو څخه غوښتنه داده چې کله داسې یوه پیښه رامینځته شي چې د مجاهدینو د عملیاتو په نتیجه کې عامو خلکو ته پکښې مالي او یا ځاني زیان واوړي نو لطفا دې زموږ اداري ته په دې شمیر ۰۷۰۷۹۱۸۳۸۴ زنګ راته ووهي او د موضوع ټول جزئیات دې راسره شریک کړي او د دوی د معلوماتو سره سم دې هغه عاملین هم راته په ګوته کړي چې د دوی له نظره هغوی پړه بلل کیږي

پوښتنه: تاسو وویل چې د اسلامي امارت مجاهدینو د ولسي خلکو ژوند ته په ډیر ارزښت قائل دي په دې اړه که یو څو مثالونه یا جالبې خاطرې راته ذکر کړئ ؟

ځواب: په دې هکله تر ټولو د امیرالمومنین حفظه الله په پیغامونو کې د ملکي تلفاتو په مخنیوي کې توصیې د اولسي خلکو ژوند ته د ټول امارت په سطحه د ارزښت یوه ښه بیلګه بللای شو.

دغه راز د مشرتابه مقام له لوري په دې وروستیو کې له والي صاحبانو سره په یوه مهم مجلس کې داسې حکم ورکول شوی چې: د ملکي تلفاتو مخنیوي ته باید ډیره توجه وشي په دې برخه کې مجازات بایدوي ،ملکي خلکو ته زیان رسول د جهاد له اهدافو سره سخت ټکر او لوی جرم دی ،ټول مسؤلین دې ډیره زیاته او جدي توجه وکړي چې د اسلامي امارت د مشرتابه مقام له لوري ورته توصیې او هدایات پرخپل اولس د خاصې لورويني یوه ښه نمونه ده.

او یوه بله ښه بیلګه د اولسي خلکو ژوند ته د نظامي مجاهدینو د ارزښت داده چې کله یوه پیښه رامینځته شي نو موږ سمدستي هغه یو شمیر مجاهدین چې زموږ له نظره دوی پړه بلل شوي ،راغوښتي دوی بیله ځنډه راغلي او غاړه یې موږ ته کړه کړي او راته ویلي یې دي چې څرنګه تاسو حکم کوئ موږ ورته حاضر یو که مو توقیفه وئ او که مو وهئ او که مو دو سیه و شرعي محکمې ته راجع کوئ. دغه راز د خلکو په وړاندې د مجاهدینو د احساس مسؤلیت یوه ښه بیلګه داده چې په ۰۳-۰۸-۲۰۱۳ نیټه د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د عصمت بازار په سیمه کې مجاهدینو یو شمیر اولسي خلک ولیدل چې د ماینونو پرخوا راروان وو ،په همدې وخت یو مجاهد چې سیمه یې ښه پیژنده یوه ډیره بیړه پر موټرسایکل سپور شو ترڅو پرسړک راروان خلک خبر کړي چې په لاره کې ماینونه دي ،نو کله چې مجاهد وروان شو نو په لاره کې خپله دیوه شارټ کړای شوي ماین ښکار او شهید شو او دغه راز ډیر ځله داسې پیښې رامینځته شوي چې مجاهدین یو ځای ماین ښخ کړي خو د دې په خاطر چې پر اولسي خلکو انفجار ونه کړي نو شپې ورته ساکوي ترڅو بغیره هدفه انفجار ونه کړي.

داسلامي دولت

پرضد نوی فوځي اتحاد اوږدې جنګ پايلې

حسن مومند

نن د ستمبر په ۱۹ مې نېټې چې د عراق د روانو حالاتو په اړه مې د څو کربښو ليکلو ارده کړې له رسنيوو مې واورېدل چې د فرانسې ولسمشر فرانسوا اولان اعلان وکړ چې په عراق کې به داسلامي دولت دجنګيالوپرضدهوايې حملې پيل کړي خو عراق ته دځمکنوفوځونو د لېږدولو هيڅ اراده نه لري.

محترمو لوستوالو ته به معلومه وي چې د اسلامي دولت دډلې پر ضد په عراق کې دعملياتو لپاره دامريکا په مشرۍ کې د۴۰ هېوادونو يو اتحاد رامنځته شوی چې د مصر، سعودي عربستان او قطر په څېر دمهموهېوادونو په شمول پکې ۱۰ اسلامي هېوادونه هم شامل دي ځکه چې د عراق او ليبيا پر ضد دتېرو جنګونو برعکس داځل دامريکا لپاره داسلامي دولت پر ضد دجنګ لپاره داروپانه هم وړاندې دخليجي هېوادونو حمايت راجلبول ضروري و؛ داسلامي دولت پرضد دحملو لپاره جوړ شوي اتحاد د تېرې دوشنبې په ورځ په فرانسې کې يوه غونډه درلوده چې پکې د۲۰ هېوادونو منډوبينو ګډون کړی و؛ له دې غونډې نه ۴ ورځې پس د پنجشنبې په ورځ دسعودي عربستان په مهم ښار جده کې د ګڼو عربي هېوادونو د باندنيو چارو وزيران هم سره راټول شوي ووچې د امريکا دباندنيو چارو وزير جان کيري هم پدې غونډې کې ګډون کړی و چې د اسلامي دولت پر ضد دامريکا دطرح شويو عملياتوپې ګډونوال خبر کړل او په تطبيق کې يې د دوئ د مرستې غوښتنه وکړه.

امريکا داسلامي دولت پر ضد داتحاد جوړولو لپاره هماغه وسيله په کار اچولې کومه يې چې د افغانستان او عراق پر ضد د يرغلونو پر مهال د اتحاد د جوړولو لپاره په کار اچولې وه؛ د امريکا ولسمشر بارک اوباما څو ځلې ويلي دي چې داعش نه يواځې په سيمې کې د امريکا ګټو او دوستو هېوادونو ته ستر خطر دی بلکې د امريکا خاورې او ولس ته يې هم خطرونه متوجې کېدای شي نو ځکه امريکا اړتيا لري چې د داعش د لمنځه وړلو لپاره د يو ستر اتحاد قيادت وکړي.

د ۱۱ ستمبر د پېښې د ديارلسم کال د پوره کېدو په مناسبت د امريکا ولسمشر بارک اوباما ولس ته په خپل خطاب کې وويل چې امريکا ته کومې ډلې ګواښونه کوي هغه يوه ډله به هم د نړۍ په کوم ګوټ کې پناه ونه مومي.

اوباما زياته کړه چې اسلاميدولت خطرناک سرطان دی چې د له منځه وړلو لپاره به يې ټول وسايل په کار واچوي؛ د امريکا ولسمشر خپل ولس ته ډاډ ورکړ چې د دولت اسلاميه پر ضد جنګ کې به د امريکا د ځمکنو فوځونو زړه نه وي. اوباما زياته کړه چې د اسلامي دولت پر ضد که کانګرس د عملياتو اجازه ور کړه دا به د خوښۍ وړ خبره وي خو که يې منظوري ورنکړه بيا هم موږ د عملياتو کولو حق لرو.

له دې امله چې د امريکا په لاس روزل شوي عراقي فوځ د اسلامي دولت د مجاهدينو په مقابل کې په عملي ډګر کې ماتې وخوړله د امريکا ولسمشر بارک اوباما اعلان وکړ چې هېواد يې ۴۷۵ نور فوځيان عراق ته استوي تر څوعراقي فوځ بياله سره وروزي او په عملی جنګ کې ور ته سلا مشورې ور کړي.

اسلامي دولت چې داعش يې زورنوم دی اوپه همدې نوم زيات شهرت لري د شام او عراق ډېری پراخې سيمې يې تر خپل کنترول لاندې راوستې دي او پدې تازه ورځو کې يې د دوه امريکايي ژورنالسـتانو سـرونه پـرې کـړل د دوئ دځپلو لپاره امريکا د عراقي فوځ او کردي مليشو سره ډېرې زياتې مالي او نظامي مرستې کړيدي خوعراقي فوځ او کردي مليشې دواړه داسلامي دولت دمجاهدينو دمقابلې جوګه شوي ندي نو ځکه د بغداد اداري نه يواځې داچې په عراق کې دننه يې پـه خپلـو مخـالفينو د امريکـا او نـور لويديځ د حملو سره مخالفت ندی ښودلي او نـه يـې د عـراق د خپلـواکۍ ضـد عمـل ګڼلی بلکې د عراق ولسمشر فواد معصوم ويلي ووچې امريکا او متحدين يې بايد ژر داسلامي دولت پـه ځنګيـالو بريدونـه وکړي ؛ که په بريدونو کې تاخير وشو نو شـايد ډېـرې نـورې سيمې هـم دنومـوړو جنګيالو تر ولکې لاندې راشي.

دبغـداد اداري نـوي صـدر اعظم حيـدر العبادی هـم داسلامي دولـت تـه د مـاتې ور کولـو لپـاره دنړيوالـو مرسـتو غوښتنه کړيده.

اسـلامي دولـت د بشار الاسـد د حکومـت ړنګولـو اوپـه شـام کـې هـم د اسلامي دولت قائمولو په موخه داسدي مليشو پر ضد جنګېږي اوددې هېواد ګڼې سيمې يې نيولي دي خو سره لـه دې هـم بـارک اوبامـا پـه خپلـې وينـا کـې دبشار الاسد داداري سره دمرستې کولو امکان رد کړ او ويې ويل چې موږ داسد په اداري اعتماد نه شو کولای نو موږ د دې اداري سره نه بلکې له داعش پر ته داسد د دولت پر ضد دنورو جنګېدونکو ډلو سره مرستې کوو.

نوداچې امريکا داسد اداري سره له مرستو کولو انکار کړيدی اسد هم دامريکا په مشرۍ کې د ۴۰ هيوادونو نه دجوړ شوي اتحاد له لورې دسورې په خاورې دداعش ياالسلامي دولت پر ضد دعملياتو سره خپل سخت مخالفت ښودلی دی او ويلي يې دي چې دسورې نه داجازې اخستلو پر ته که دداعش پر ضد جوړ شوي اتحاد دسورې په خاورې کې پر داعش حمله وکړه نو موږ به بريد کونکو ته جواب ور کړو او په حملو کې شاملې طيارې به رانسکورې کړو.

دشام اتحاديانو روسې او ايران هم په شام کې داسلامي دولت پر ضد دامريکا پـه مشرۍ کې داتحاديانو بريدونو سره مخالفت ښکاره کړيدی:ايران ويلي چې امريکا دتروريزم دځپلو په پلمه دشام خپلواکي تر پښو لاندې کول غواړي او روسې ويلې دي چې دملګرو ملتونو د امنيت شورى له منظورۍ ور کولو پر ته په شام او عراق کې پر داعش حملې ناقانونه دي نو ځکه ور سره سخت مخالفت ښکاره کوو.

زماپه اند نه يواځې په عراق کې نه بلکې په عراق اوسورې دواړو کې په اسلامي دولت دامريکا حملې يقيني دي : ځه په پوره باور سره وايم چې دامريکا ددې حملوسره دايران اوسورې مخالفت له زړه ندی :دهر چاپه لاس چې وي خوايران اوسوريه داسلامي دولت ځپل غواړي او تر کومه چې دروسې خبره ده نو که روسيه په رښتيا هم مخالفه وي وي به خومخالفت يې تش په نوم مخالفت دی هيڅ قوت اوشدت نه لري : ډېر ژر به په عراق کې امريکا پر داعش بريدونه پيل کړي اوچې دبريدونولړه غوندې مثبته نتيجه هم رامخې تـه شي نوبيابه دچانه داجازې اخستلو اودمخالفت ياموافقت ډېر والر لوپر ته ډېر ژر پـه سورې کې هم پر داعش حملې پيل کړي :دابه دامريکا داسې حملې وي چې دايران ،روسې اوسورې پـه شمول به يې دنړۍ يو هېواد هم مخالف نه وي ؛ايران اوسوريه يې شايد علني تائيد هم وکړي خو که تائيد يې نکړي نولږ تر لږه مخالفت به يې هم ونکړي.

لنډه داچې په عراق کې پر اسلامي دولت دامريکا يرغل يقيني دی پکې نور دشک ځای ندی پاتې خو آيا داجنګ به امريکاته ګټور ثابت شي اوپکې به ګټې کاميابي ترلاسه کړي ؟ دادشک ځای او ددې ور دی چې پرې خبره وشي.

دجنګ دپيل نه لا دمخه دامريکا يو ضعف بلکې شکست بايد ومنل شي چې هغه دداعش سره دمخامخ کېدواو په مقابل کې يې دځمکني جنګ نه تېښته ده چې دا يواځې دداعش نه بلکې په ټوله کې دټولې نړۍ دمجاهدينو او په ځانګړي ډول دافغانستان او عراق دمجاهدينو لپاره دډېر ستر افتخار خبره ده.

په افغانستان او ورپسې عراق چې امريکا اومتحدينويې يرغل کولو هغه مهال خويې په سـونوزره فوځيـان دمجاهدينوپر ضـد دجنګېدوپـه موخـه دې دواړو هېوادونو تـه رالېـږلي وو او رسماً تر اوسه په نه دواړو هېوادونو کې د امريکا سرتيري حضور لري.

خواوس دامریکا او فرانسې ولسمشران بیا بیا خپل ولس ته اطمینان ور کوي چې جنګ به یې یواځې هوایي وي او داسلامي دولت پر ضد جنګ ته به هیڅکله هم ځمکني فوځونه ونه لېږي.

دادواړه ولسمشران ولې اړ دي چې ولس ته دا ډول اطمینان ور کړي؟ ځکه چې دافغانستان او عراق په اوږدو جنګونو کې دنرمو، نازکو او نازولو امریکایي او نورو لویدیځوالو فوځونو بزدلي او دمجاهدینو په مقابل کې په ځمکنو جنګونو کې ددوئ کمزوري، ټیټ مورال، شکست او پراخه ځاني ضیاع د امریکا او نورو غربي ولسونو او دولتونو مخې ته ده نو ځکه یې یقین ته پرېوتې ده چې دنړۍ په یو ګوټ کې هم ددوئ فوځیان دمجاهدینو په مقابل کې دجنګېدلو توان نه لري او دمجاهدینو مقابلې ته یې وړاندې کول یواځې ضایع کول دي چې دې ضیاع ته نور دا ولسونه نه دي تیار نو ځکه دولتي مشران دېته اړ دي چې ووایي موږ دداعش پر ضد دځمکني جنګ لپاره هیڅکله هم خپل فوځیان نه استوو.

نوبې له یو فیصد شکه باید ووایو چې ددولت اسلامیه په مقابل کې دامریکا شکست یقیني دی؛ داچې زموږ مخې ته ژوندۍ بېلګې شته نو ډېرو دلایلو وړاندې کولو اړتیا نشته بس همدومره کافي ده چې ووایو دامریکا شکست ځکه یقیني دی چې دافغانستان داشغال پر مهال امریکا داوس په پرتله په هر لحاظ ډېره قوي وه او چې رښتیا ووایو عزایم یې هم ډېر لوړ وو؛ ټوله نړۍ ورسره مل وه؛ چاپې دشکست تصور هم نه کاوه؛ مقابل لوری یې ډېر کمزوری دښمن ګڼل کېدلو او رښتیا هم چې داشغال نه پس دامریکا پر ضد دمسلح مقاومت دپیل په ورځو کې دجنګ په ډګر کې دطالبانو شمېر ډېر کم او دوسایلو په لحاظ ډېر کمزوري وو خو دافغانستان همدا غریب او دوسایلو په لحاظ کمزوري مجاهدین دومره ځواکمن شول چې دټولې غربي کفري نړۍ پر ضد یې د ۱۳ کلونو اوږدې مودې لپاره جنګ جاري وساتلای شو؛ ټول غربي ښکېلاک یې په ګونډو کړ او لویه امریکا یې سره دټولو متحدینو تېښتې ته اړ ایستله.

همدا راز چې امریکا عراق اشغال کړ یکې دمجاهد نوم هم نه و؛ داشغال نه پس دلته مجاهدین راپیدا او بیا دومره ځواکمن شول چې امریکا او بر تانیه دشکست سره مخامخ او دعراق نه یې تېښتې ته اړ کړه.

اوس چې امریکا د ۱۳ کاله پخوا امریکا نده پاتې بلکې په هر لحاظ ډېره کمزورې شوې؛ په تېرو ماضي کې یې په دوه ډګرونو کې ماتې خوړلې ده؛ په اړه یې داتصور له منځه تللی چې دا یو نه ماتېدونکی ځواک دی او دمجاهدینو په مقابل کې یې مورال تر دې حده غور ځېدلی او ترې دومره وېرېږي چې وایي،، موږ یې دمقابلې لپاره ځمکې ته خپل فوځیان نه رالېږو... نو داسې امریکا به دهغه داعش په مقابل کې څنګه ماتې نه خوري کوم چې دنړۍ تر ټولو منظمه او قوي ډله ګڼل کېږي.

هو! دهوایي حملو په پیل کې شاید مجاهدین ډېر ځاني تلفات ومومي؛ دسترو ټولو نیول شویو ځایونو نه به کېدای شي شاتګ ته هم اړ شي؛ ستر او معلوم مرکزونه به یې هم له منځه ولاړ شي او له سترو داسې حملو به هم وځي چې یکې به زرونو یا سونو تنان ګډون وکړي ځکه چې دا باید ومنو چې بې پیلوټه الوتکې دامریکا ډېره کامیابه وسله ده؛ هدف نه خطا کوي ځاني تاوان زیات رسوي او مجاهدینو یې لا ضد ندی موندلی.

خو له دې پرته به امریکا او متحدین یې هیڅ تر لاسه نکړي؛ دداعش په مقابل کې چې کفري نړۍ څومره متحده کېږي او دداعش ځاني قربانۍ چې څومره زیاتېږي هغومره به یې محبوبیت په مسلمانانو کې ډېرېږي؛ داسلامي نړۍ ځوانان او مالي مرستې به په داعش راماتېږي او دداعش په اړه چې کوم بدګومانونه، شکوک او شبهات په مسلمانانو کې شتون لري هغه به ورو ورو له منځه ځي چې په دې سره به دداعش ریښې په نړۍ کې نورې هم خپرې او مضبوطې شي چې بیا به داوس په پرتله داعش ډېر ځواکمن او دامریکا او نور لویدیځ لپاره ډېر ستر او خطرناک دښمن وي.

نولنډه داچې امریکا چې دډېر لوی غرور، ډېر و زیاتو او تر ټولو عصري وسایلو سره یوځای یې دعراق خاورې ته فوځونه راکوز کړل خو داوس په پرتله دکمزورو مجاهدینو په مقابل کې یې سخته شرمونکې ماتې وخوړه له نوېه همدې عراق کې چې اوس مجاهدین خوراډېر قوي دي په مقابل کې به یې داماتې خوړلې او مورال بایللی امریکا جنګ څه وګټي؟ امریکا به دداسې ماتې سره مخامخ شي چې بیا به دجنګ نوم وانخلي او همدا به یې په تابوت وروستی میخ شي. ان شاءالله تعالی

د شهید مولوي دستګیر صاحب

عبدالرؤف حکمت

ژوند او کارنامو ته کتنه

دامریکایي یرغل په خلاف د جهاد یوه توده او دښمن ځپونکي سیمه د هیواد په شمال غرب کې دبادغیس ولایت و، دا ولایت که څه هم دجهادي خوځښت په وړاندې خورا ډیر موانع او مشکلات په کې موجود و، چې له دې جملې په سیمه کې د امریکاپلوو ټوپکي قومندانانو او وسلوالو حاکمیت، ددښمن فشار، دوسلو، جهادي امکاناتو نه موجودیت او دهیواد په جنوب کې له ګرمو جهادي سیمو څخه لریوالی او دمجاهدینو محاصره حالت د یادولو وړ دي.

خو له دې ټولو موانعو او مشکلاتو سره سره ددې ولایت غیور اولس او ایثارګر مجاهدین وتوانیدل، چې د یرغل له آزمون سره ډغرې ووهي، د موانعو او خنډونو حصار مات کړي اوددښمن په وړاندې دجهادي خوځښت یو پایدار سنګر رامنځته کړي.

بادغیس د جهاد په تیره لسیزه کې د هیواد په سطحه یو نوموتی او غلیم ځپونکی سنګر و، چې بیا بیا په کې دښمن سخت تلفات ولیدل، سره له دې چې دبادغیس د جهادي فتوحاتو په امتیاز کې ټول هغه مجاهدین او مجاهد اولس شریک دی چې په تیرو لسو کلونو کې یې قرباني ورکړې، خو یو کس چې په دې ولایت کې د جهادي خوځښت محرک او مبتکر بلل کیږي اود بادغیس ولس ورته د خپل جهادي لارښود په سترګه ګوري شهید مولوي دستګیر صاحب و، هغه څوک چې په خپل جرأت، ایمانداری، اخلاص او قرباني سره یې په بادغیس کې نه یوازې دعلني جهاد بنسټ کیښود بلکې جهاد یې ددې ولایت ګوټ ګوټ ته وغځاوو او اولس یې دجهاد هراړخیز ملاتړ ته تیار کړ.

راځئ دلته څوشیبې ددې مخور مجاهد په ژوند پیښنو وغږیږو.

مولوي دستګیر رحمه الله

مولوي دستګیر د حاجي اصل خان زوی د حاجي فیض محمد خان لمسی په قوم پښتون / نورزی په ۱۳۹۷ هق کال کې د بادغیس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ د چلونک په کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی.

نوموړي دماشومتوب په مهال لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې ترسره کړې، وریسې یې د بالامرغاب د جهاندوستې په سیمه کې دمولوي محمدوزیرصاحب په نامه د سیمې له یوه مخور عالم څخه دیني تعلیمات ترلاسه کړل، وروسته نوموړي د بدغیس ولایت په مختلفو سیمو کې دغه راز د هرات، فراه، کندهار او هلمند په ولایاتو کې په مختلفو دیني مدارسو کې خپله دديني زده

کړو لړۍ تعقیب کړه، د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال ډېره موده د هرات ښار څهار راهي مستوفیت ته نږدې د یوې مدرسې ناظم و او هم یې خپلې دیني زده کړې تعقیبولې.

په ۱۴۲۷ هـ ق کال کې نوموړي د د دیني علومو څخه د فراغت سند د پاکستان د بلوچستان ایالت په مرکز کویټه کې د شالداري له مشهورې مدرسې څخه ترلاسه کړ، د همدې سیمې د مشهور عالم شیخ الحدیث مولوي عبدالواحد صاحب څخه یې د احادیثو د اجازې په اخیستلو سربېره د فضیلت سپین دستار وتاړه.

په بادغیس کې د علني جهاد پیل

مولوي دستګیر صاحب د نوي ځوانۍ له مهاله جهادي جذبه درلوده، د نوموړي نږدې ملګری مولوي حیات الله اکبري وایي: د امریکایي یرغل په لومړنیو کلونو کې چې مولوي دستګیر صاحب په هلمند ولایت کې درسونه ویل له هغه وخته یې په جهادي عملیاتو کې شرکت کاوو، نوموړي خپل جهادي ژوند په هلمند او کندهار کې له جهادي فعالیت څخه پیل کړ.

په بادغیس کې سره له دې چې جهادي کارونه له وړاندې پیل شوي و، او په دښمن خال خال بریدونه روان و، خو دې ولایت ته د مولوي دستګیر صاحب له راتګ مخکې جهادي کارونه ډېر کم او په مخفي ډول و، مجاهدینو وسلې، امکانات او منظم تشکیلات نلرل خو په ۲۰۰۷ م کال کله چې مولوي دستګیر صاحب له دیني علومو فرغ او په لومړي ځل یې په خپله سیمه کې جهادي فعالیت پیل کړ په خپلو هڅو سره یې په دې ولایت کې یو بشپړ جهادي انقلاب راووست.

د نوموړي یو ملګری د بادغیس د مقر ولسوالۍ اوسیدونکی مولوي عبدالقدوس چې د جهادي خوځښت په پیل کې یې ملګری و د اسې کیسه کوي: مولوي دستګیر صاحب خپل کار په ډېرو ابتدایي هڅو پیل کړ، په لومړي ځل چې کله نوموړي د جهاد اقدام کاوو نو تش لاس و او یو میل وسله یې هم په لاس کې نه درلوده، له ده سره یوازې زما په شمول څو تنه نور ملګري وو، لومړی دوسلو د پیدا کولو لپاره د بالامرغاب د پنیرک په کلي کې یوه پخواني جهادي قومندان ملاګلاب الدین ته ورغلو چې دوسلو کومک راسره وکړي، هغه دې خیر یوسي دوه میله کلاشینکوف یې راپیدا کړل، بیا د همدې ولسوالۍ د غورتو د سیمې مولوي بازمحمد صاحب یو میل راکټ راکړ، په دې توګه موږ یو څو نور ملګري هم د وخت په تیریدو سره پیدا کړل او په همدې درې میله اسلحه باندې مو جهاد پیل کړ، یو وخت چې شمیر مو ۱۲ کسانو ته رسیدلی وو، لومړی مو په سیمه کې د دښمن د یوې NGO په ساتونکو برید وکړ بله شپه مو د بالامرغاب په ولسوالۍ برید وکړ او بیا مو په مختلفو پوستو بریدونو ته دوام ورکړ، لومړی مو کارونه یوازې د شپې کول خو د وخت په تیریدو سره مو غنیمتونه ترلاسه کړل، ملګري مو نور هم زیات شول او د وسلو له اړخه بسیا شوو، دلته نو بالامرغاب ته نږدې یو غرنۍ سیمه ده په نامه د (حوض کبود) دلته موږ مرکزیت جوړ کړ، او کله چې په بادغیس کې زموږ د دې جهادي قوي مرکزیت اوازه خپره شوه، نو له مختلفو ولسوالیو څخه خلکو له موږ سره روابط جوړ کړل، نو په دې توګه د مجاهدینو شمیر هره ورځ په زیاتیدو وو خپل علني عملیات مو نورو ولسوالیو لکه مقر، دره بوم او نورو سیمو ته هم وغځول او ډېرې پراخې سیمې مجاهدینو فتحه کړې.

مولوي حیات الله اکبري وایي: په پیل کې د بادغیس د مجاهدینو مشري د مولوي عبدالرحمن په غاړه وه او مولوي دستګیر د نوموړي د محاذ د نظامي مسؤل په حیث دنده اجراء کوله، د نوموړي په راتګ سره په بادغیس کې علني جهادي کارونه پیل شول، مثلا نوموړي په لږه موده کې د بالامرغاب د سالوچار په سیمه کې په پوسته برید وکړ، وروسته یې د بالامرغاب په ولسوالۍ حمله وکړه د مقر ولسوالۍ په مرکز یې عملیات وکړل، د بالامرغاب د اڅکزو په سیمه کې یې

ددښمن په کمپاین برید وکړ، چې دې عملیاتو ددښمن سخت عکس العمل راوپاراوو او له هرات او بادغیس له مرکز څخه یې لویه قوه بالامرغاب ته راوسته ،د مولوي دستګیر صاحب په مشرۍ مجاهدینو د جوی کار د تنګي په سیمه کې له همدې قوې سره جنګ وکړ ،دښمن شکست وخوړ او بیرته د ولسوالي په خوا وتښتیدل او مجاهدینو په همدې سیمه کې دښمن ته دفاعي کرښه جوړه کړه،دښمن چې په همدې جنګ کې شکست وخوړ نو پخوانی رعب او هیبت یې له منځه لاړ له همدې سره په ولس کې عمومي دجهاد جذبه راپورته شوه، او جهاد بشپړ علني شکل غوره کړ.

مولوي حیات الله صاحب وایي: مولوي دستګیر صاحب د ګوتو په شمیر څو تنو ملګرو سره جهادي فعالیت پیل کړی و، چې وسلې یې هم نه درلودې خو دوه کاله وروسته دنوموړي له شهادته بعد چې دمجاهدینو احصایه واخیستل شوه دنوموړي تر قومنده لاندې یوازې دمسلحو بالفعله مجاهدینو شمیر ۳ زره تنو ته رسیده.

مهمي جهادي کارنامي

د جهاد له علني کیدو وروسته د بادغیس ولایت په لراوبر کې دمولوي دستګیر صاحب تر نظامي مشرۍ لاندې جهادي عملیاتو زور واخیست یوازې د ۲۰۰۷ م کال په جریان کې په دښمن ۵۲ اغیزمن عملیات ترسره شول دغه راز په ۲۰۰۸ م کال کې جهادي عملیات تردې هم زیات شول، په لاندې کرښو کې د مشت نمونه خروار په توګه څو هغو جهادي عملیاتو ته اشاره کوو چې دمولوي دستګیر صاحب ترمشرۍ لاندې یې صورت نیولی.

د جوی کار په سیمه کې له جنګ څخه وروسته د مرغاب د بوکن په سیمه کې د داخلي او خارجي عسکرو یوه قوه چې د غورماچ په خوا روانه وه، مجاهدینو وربانديې برید وکړ چې په نتیجه کې یې ددښمن ۱۸ مرې په میدان پاته شول،۵ رینجر موټر ترې مجاهدینو ونیول یو خارجي ټانګ او دوه رینجر چې د جګړې په سیمه پاته وه امریکایانو بمبار کړل،مجاهدینو یوشمیر داخلي عسکر ژوندي ونیول او ډیرې وسلې یې هم غنیمت کړې، په دې جګړه کې چې کوم عسکر ژوندي پاته شول امریکایانو دڅرخکو په واسطه له سیمې پورته کړل او په دې توګه یې قوه له منځه لاړ، په دې جګړه کې ددښمن د بمبار له امله ۷ تنه مجاهدین هم شهیدان شول.

د مرغاب د منګان په سیمه کې چې دښمن غوښتل پوستې جوړې کړي،د مولوي صاحب په مشرۍ مجاهدینو وربانديې برید وکړ چې په نتیجه کې یې دښمن ته د سر دزیان په اړولو سربیره ۲ رینجر موټر او نور غنائم هم مجاهدینو ونیول ددښمن عسکر له سیمې وتښتیدل او پروګرام یې کاملا ناکام شو.

د بالامرغاب د مرکز په شاوخوا کې چې دښمن د محاصرې په حالت کې وه، یو ځل یې غوښتل چې عملیات وکړي په همدې موخه د ولسوالۍ له مرکز څخه راووتل خو مجاهدینو یې په وړاندې مقاومت ته ادامه ورکړه دې جګړې نږدې یوه هفته دوام وکړ چې په پای کې دښمن غوڅ شکست وخوړ او بیرته پرشا وتښتید.

مولوي دستګیر سره له دې چې د جهاد په پیل کې هم یو ځل په کندهار کې ددښمن لخوا نیول شوی او لنډ توقیف یې تیر کړی و ،د ۲۰۰۸م کال په لومړیو کې ددښمن لخوا په هرات کې ونیول شو او د کابل دپلچرخي زندان ته انتقال شو ،نوموړي شاوخوا اوه میاشتې په زندان کې تیرې کړې ،څرنګه چې مولوي صاحب د بادغیس په عام اولس کې فوق العاده محبوبیت درلود دبادغیس ولایت قومي مشرانو ،مخورو او علماء کرامو دنوموړي دخلاصون لپاره هڅې پیل کړې، تردې چې د ۷۰ کسانو یوه لویه ډله کابل ته لاړه او له حکومته یې په کلکه غوښتنه وکړه چې مولوي صاحب راخلاص کړي، څرنګه چې دبادغیس ټول اولس دنوموړي په ملاتړ ولاړ و، حکومت مجبورا نوموړی له زندان څخه خوشی کړ.

له راخلاصیدو وروسته چې مولوي صاحب خپلې سیمې ته ستون دعامو خلکو او مجاهدینو له خورا پراخ هرکلي سره مخامخ شو، دعیني شاهدانو په وینا د مولوي صاحب راخلاصیدل په سیمه کې دیوه ولسي جشن به حیث تجلیل شول حتی عامو خلکو ډیر دشکرانې خیراتونه وکړل، ځکه نوموړي د یوه مخلص مجاهد په حیث د ولسي خلکو په زړونو کې ژور ځای خپل کړی و، دسیمې دخلکو اومجاهدینو په غوښتنه نوموړی د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا دبادغیس ولایت د عمومي جهادي مسؤل یا والي په حیث وټاکل شو، نوموړي دامارت دمشرتابه له لارښوونو سره په سیمه کې دولسوالیو نظامي او ملکي تشکیلات، کمیسیونونه ،محاکم اونور ادارات له سره منظم کړل او په بادغیس کې منظمه جهادي اداره رامنځته شوه.

د مقر ولسوالی

اوسیدونکی مولوي صدیق الله وایي: په همدې مهال دښمن غوښتل چې د مقر ولسوالی په سنجیتک سیمه کې چې د بادغیس دمرکز قلعه نو په ۱۰ کیلومتری کې پرته ده ،پوستې جوړې کړي،مجاهدینو ددښمن له دې پروګرام سره مخالفت وکړ او دښمن ته یې اجازه نه ورکوله چې

دغلته پوستې جوړې کړي، په دې مهال دښمن د سیمه ایزو پخوانیو ملیشو او حکومت پلوه اولسي خلکو سره په ګډه په مجاهدینو هجوم ورووړ نه یوازې یې سیمه ایز مجاهدین تر برید لاندې ونیول بلکې د مجاهدینو او دهغوی دملاتړو مالونه یې هم چور کړل، کورونه یې وسوزول او دمجاهدینو دسیمې عام خلک یې په هجرت کولو او غرونو ته په تیښتیدلو اړ کړل، په دې برید کې دحکومتي ملیشو په لاس ۲۰ تنه عام مؤمن هیوادوال شهیدان شول او بې اندازې مالونه یې لوټ شول، دغه مهال چې مولوي دستګیر صاحب په بالامرغاب کې دهمدې جهاد پلوه اولسي وګړو د دفاع لپاره یې مجاهدین همدې سیمې ته راوستل او ددښمن له ملیشو سره یې جنګ پیل کړ، دې جګړې یوه هفته دوام وکړ، چې په نتیجه کې دحکومت پلوه ملیشو د مشر عثمان بیګ په شمول ګڼ لوټماران ووژل شول او یاده سیمه بیرته مجاهدینو له ملیشو څخه تصفیه کړه، په دې توګه دسیمې بې ځایه شوي خلک بیرته ځای په ځای شول او حکومت پلوه ملیشو داسې شکست وخوړ چې بیا یې کله هم دداسې هجوم فکر ونه کړ، په دې حادثه کې چې مولوي دستګیر صاحب دعام اولس د ملاتړي او مرستندوی په حیث راڅرګند شوی و او ولسي خلکو ته یې نجات ورکړی و په سیمه کې دمجاهدینو په حق کې اولسي اخلاص نور هم زیات شو.

د مولوي دستګیر صاحب جهادي کارنامې خورا ډیرې دي خو هغه کارنامه یې چې ډیره خبرسازه شوه ،هغه په ۲۷/۱۱/۲۰۰۸ میلادي نیټه په بالامرغاب ولسوالی کې پیښه شوه.

مولوي حیات الله وایي: له هرات څخه ددښمن یوه خورا ستره قوه چې ۱۰۰ پوځي موټر به په کې وه د بادغیس مرکز ته راغله او له هغه ځای څخه یې د عملیاتو په نیت دبالامرغاب په خوا حرکت وکړ،مجاهدینو ددې قوې د ماتولو لپاره په سیمه کې پوره امادګي نیولې وه،قوه چې د منګان سیمې ته راورسیده لومړی ورباندې همالته برید وشو،خو له هغه ځای څخه چې راتیره شوه د اکازو د جوی نو په سیمه کې مجاهدینو ورته د سرک په دواړو خواوو کمینونه نیولې وه، کله چې دغه قوه پوره دمجاهدینو سیمې ته ننوته مجاهدینو ورباندې برید پیل کړ، دغه جنګ چې غرمه پیل شوه ترمازیګره په کې ددښمن قوه په بشپړه توګه تارومار شوه،، په دې عملیاتو کې ددښمن د لسګونو موټرو له جملې ګڼ دمجاهدینو په لاس تخریب شول او ۲۱ رینجر ۲ اکمالاتي موټر چې په وسلو بار وو روغ رمټ مجاهدینو ونیول ، په دې عملیاتو کې ددښمن ۴۵ تنه عسکر ووژل شول او تر ۲۰ ډیر ژوندي ونیول شول په دې جګړه کې مجاهدینو دومره وسلې او مهمات غنیمت کړل چې ترراتلونکو دوو کلونو پورې ورباندې مجاهدین چلیدل

په دې عملیاتو کې مجاهدینو ته په لسګونو میله سپکې وسلې، هاوان، هشتادو دو، دهشکې، ثقیل ماشیندار او نور ډول ډول وسلې په لاس ورغلې.

دې عملیاتو ته یوازې په نړیوالو مطبوعاتو کې غوغا جوړه کړه بلکې په کابل کې یې په حکومتي کچه هم سخت مخالفتونه او اعتراضونه راوپارول، مطبوعاتو ولیکل چې دا په تیرو څو کلونو کې حکومتي قواوو ته تر ټولو درنه ضربه وه، له دې عملیاتو سره په نړیوالو مطبوعاتو کې د مولوي دستګیر صاحب نوم د اصلي طراح په توګه یاد شو، نو ځکه خارجي او داخلي دښمنان متوجه شول تر څو دغه قهرمان غازي په شهادت ورسوي.

مولوي حیات الله اکبري وایي له دې عملیاتو وروسته د کرزي د حکومت د استخباراتو مرستیال ډاکټر عبدالله لغماني مولوي صاحب ته ټیلفون راوکړ او رسما یې د مرګ اخطار ورکړ، مولوي صاحب ورته وویل چې څه مو له وسه کیږي ویې کړئ، زه داسې څوک نه یم چې له مرګه وډار شم.

شهادت یې

مولوي دستګیر صاحب د دښمن تر سخت تعقیب لاندې و، تردې چې د ۲۰۰۹ کال د فبرورۍ په ۱۲ مه چې د ۱۴۳۰ هق د صفر المظفر له ۲۱ سره سمون خوري د دښمن په بې رحمانه بمبار کې په شهادت ورسید.

مولوي حیات الله اکبري وایي: مولوي صاحب د ولسي خلکو د مشکلاتو او عرایضو له اوریدلو او لازمو کارونو د ترسره کولو نه وروسته ماښام زموږ کور ته راغی او د څو تنو نورو مجاهدینو سره یو ځای یې همدلته په میلمه ځای کې شپه شوه، په دې شپه طیارې بیخې زیاتې ګرځیدلې ځرنګه چې مولوي صاحب ستومانه و د ماخوستن د لمانځه له اداء کولو وروسته سمدستي ویده شو، زه هم کور ته لاړم خو د شپې لس نیمې بجې شاوخوا یه وې چې ناڅاپه دروند بمبار وشو.

کله چې راووتو الوتکو د میلمنو ځای په نښه کړی و او دری بمونه یې پرې غورځولي و، چې یو په کوټه او دوه نور هم ورته نږدې لګیدلي وه، په بمبار کې یوازې یو تن په زخمي حالت کې ژوندی پاته و او د مولوي صاحب په ګډون اوه تنه مجاهدین په شهادت رسیدلي و.

په شهیدانو کې د بادغیس ولایت یو تکړه مجاهد معاون بازمحمد هم وه مولوي دستګیر هم چې په ځیګر یې د امریکایي بم پرخچه خوړلې وه په شهادت رسیدلی و، نوموړی چې په جنازه کې یې ګڼ شمیر خلکو او ملګرو ګډون کړی و، په خپل پلرني کلي کې خاورو ته وسپارل شو، د نوموړي یو زوی ترشا پاته شو چې دده د شهادت په مهال یې عمر ۸ میاشتې و.

خاطرې او یادونه

مولوي دستګیر په دې سربیره چې یوه زړور، مخلص او تکړه مجاهد و د سیمې په سطحه او د مجاهدینو په منځ کې یې د یوه مشر په حیث غیر معمولي محبوبیت درلود چې همدا یې د کامیابۍ راز و، ملا یارمحمد اخند چې د نوموړي له نږدې ملګرو څخه دی وایي: مولوي دستګیر صاحب په بادغیس کې خورا زیات محبوبیت او نفوذ درلود، د هغه د عامه محبوبیت وجه دا وه چې هیڅ تعصب یې نه درلود، قوم پالنه، ډلګۍ پالنه او نور تمایلات په کې نه و، له هرڅه سره یې د شریعت په رڼا کې چلند کاوو، خپل جهادي مسیر ته خورا وفادار و او همیشه یې خوښوله چې د خپل اولس په منځ کې واوسي، له هغوی سره همیشه په رابطه کې و ځان یې تر عامو خلکو لوړ نه باله او همدا نږدې تعلقاتو په دې باندې د اولس باور پوخ کړی و، کله چې نوموړی له زندانه راخلاص شو نو د بادغیس په عام اولس کې داسې خوشالي ګډه وه لکه د هر کور کوم غړی چې راخلاص شوی وي.

مولوي حیات الله اکبري صاحب هم همدې خبرې ته اشاره کوي او وایي: په هماغو شپو کې مې له یوه عام سړي څخه واوریدل چې په خپلو مرحومو قریبانو

پسې مې دومره خیراتونه ندي کړي لکه دمولوي صاحب د راخلاصیدو په خاطر مې چې وکړل ،مولوي اکبري صاحب زیاتوي: کله چې مولوي دستګیر صاحب بندي و، زه او مولوي اسمعیل صاحب یوې لرې دښتې سیمې ته چې مالداران په کې اوسیږي لاړو او هلته د مالدارانو دکیږدیو په منځ کې په یوه لوڅ جومات کې چې یوې کیږدۍ ته نږدې و کیناستو او له عامو خلکو سره مو مجلس کاوو، په همدې کې یوې زړې ښځې له کیږدۍ څخه راغږ کړ، او پوښتنه یې وکړه چې مولوي دستګیر نه دی راخلاص شوی؟

مور ځواب ورکړ چې تراوسه نه دی راخلاص. په دې سره هغه بوډۍ ښځه ژړا واخیسته او ورسره یې دمولوي صاحب د راخلاصیدو لپاره دعاګانې پیل کړې، مور یې غږ اورید او په داسې عجز یې دعاګانې کولې چې حتی مور یې ورسره وژړولو.

مولوي حیات الله صاحب وایي: دمولوي دستګیر کورنۍ جهادي کورنۍ ده، دنوموړي پلار چې دروسانو په مهال مجاهد و پخوا وفات شوی او دامهال یې یوازې مور ژوندۍ وه، دمولوي صاحب مور یوه خورا دینداره او غیرتي ښځه ده چې خپل زامن یې په جهادي روحیه سمبال روزلي دي، دمولوي دستګیر له شهادت وروسته دده یو بل ورور هم په جهاد کې شهید شو او کله چې مور دفاتحې لپاره ورغلو نو مور یې راغله مور یې مور ته وویل چې دوه زامن مې په جهاد کې شهیدان شول خو تراوسه ما وربانديې ژړلي نه دي.

په دې مهال د مولوي دستګیر صاحب زوی چې کوچنی ماشوم دی راغی، د هغه په سر یې لاس تیراوو او ویل یې چې زه خپل زامن او لمسیان د جهاد لپاره لویوم او تربیه کوم، او دوی مې د الله تعالی لارې ته وقف کړي خو که دوی شهیدان شول په خپله هم حاضره یم چې د الله تعالی ددین لپاره وجنګیږم.

د نوموړي نور ملګري او هغه مجاهدین چې مولوي دستګیر صحب سره یې نږدې وخت تیر کړی په دې خبره متفق دي چې نوموړی یو مخلص مجاهد او اغیزمن مشر و، چې ترپایه یې خپل جهادي کردار په ډیر ښه ډول ترسره کړ.

غربي تحلیلګران چې زیاتره دامریکا اوغربي هېوادونو اهداف تبلیغوي، دهغوئ له منځه لوی شمیر دامریکا او نورو خارجي قواوو له وتلو وروسته دطالبانو دبري امکانات زیات بولي!! هغوئ داهم مني چې طالبان دپخوا په نسبت ښه روزل شوي، چې څرګنده بېلګه یې دامریکا اوبرتانیې مجهزو ځواکونوته شکست ورکول دي.دا داسې نمونه ده چې دطالبانو په ښې پخې جنګي تجربې اوورتیا باندې له پوهیدو سره مرسته کوي اوجوتوي چې طالبان پخپلو عزایمو او بریاوو به ترډېره حده باور ولري.

او په مقابل کې دکرزي د اردو او پولیسو روزنه سربیره په دې چې بیدریغه لګښتونه وربانديې شوي اوورته ګڼې اسانتیاوي اسباب هم برابر دي. آن داچې دعیاشیو مستیو اوفحشاوو لړ کې یې هم ورته فرصتونه برابر کړي دي، ددې باوجود دهغوئ جنګي روحیه هغسې تانده نه بریښي ، څنګه چې دطالب جنګیالیوده دکرزي داردو اوپولیسو په لیکو کې زیاتره جنګیالي پر نشه یې توکو هم معتاد ګرځیدلي ، دهغوئ ترشا چې دامریکا اوناټو ملاتړ نه وي ډېر مقاومت نشي کولی اکثریت کوښښ کوي دجنګ له ګرمو شیبو ځانونه په یوه اوبله بهانه وباسي

حالت رنجاننده تلویزیون ها

حالت تلویزیون های افغانستان بسیار رنجاننده است . کانال های تلویزیونی افغانستان که به هیچ اصل جامعه افغانی پایبند نیستند ، از مسیر شرم و حیاء آنقدر عقب مانده اند که حالتش از برداشت اکثریت مردم خارج شده.

تنها چیزیکه بیشتر این مردم را می رنجانند قربانی میلیون ها افراد به نام اسلام و جهاد می باشد ، انسانها خون می ریزانند تا به قیمت خون خویش نتیجه مطلوب را بدست آورند.

اروپا به خاطر رسیدن به تمدن و مدنیت قربانی بزرگی را داده است .ولی در نتیجه تمدنی را به دست اورد که از مسیر انسانیت بسیار عقب مانده است و کوشش میکند که از روئ عقده، همین تمدن را به ملیت های دیگر جهان خصوصا به جهان اسلام جبری کند.

عقده به این خاطر گفتم که ، این خاصیت فطرت بشر است که وقتی یک انسان یک چیز قیمتی خویش را از دست دهد توان و طاقت داشتن آنرا در نزد رقیب خود ندارد . بی حیائ غرب از مرز گذشته و به چنین یک مرحله داخل شده که دیگر کنترول کردنش. سخن از توان بالا است.

امروز همین سخن به مردم شرق تطبیق شد و در حال تطبیق شدن در افغانستان جریان دارد . افغانستان جامعه سنتی دارد ، سنتی به این معنا نیست که میان حیا و بی حیائ تفکیک قایل نیست. افغانستان پیشرفت میخواهد و به آن ضرورت دارد و این به آن معنا نیست که ترقی پرده شرم و حیاء را پاره نموده و به هیولائ تبدیل شود که تمام ارزشها و نورمهائ بشری را زیر پای و محو کند

نظام حاکم افغانستان ماشین کهنه و بیکاره دیموکراسی وارداتی را پوش جدید داده ، ولی اصلا همان نظامی است که هدف اساسی اش از بین بردن ارزشهائ فطری بشری است. عده ئ از افراد خاصی حکومتی که در ترویج فساد رول عمده را بازی میکنند ، پیاده کننده گان همین دموکراسی وارداتی اند . در ماده اول قانون رسانه های وزارت اطلاعات و کلتور چنین آمده است : قانون نامبرده در روشنی احکام و اصول دین مبین اسلام ، به تعقیب ماده سی و چهارم قانون اساسی ، و با رعایت ماده نوزدهم اعلامیه جهانی حقوق بشر به خاطر استقلال بیان و فکر و تامین حقوق و جهت تنظیم فعالیت رسانه ها وضع گردیده است . ولی در توضیح اهداف همین ماده از اصول و ارزشهائ اسلامی چیزی در ک ندارد.

سخن از اصول و احکام اسلامی درینجا بسیار مضحک است . آنها تنها اینجا حروف احکام و اصول اسلامی نوشته اند تا پروسه رسمی و تشریفاتی را طی نموده و به ملت چانس گیله کردن باقی نگذارند . (اسلام - احکام اسلامی ، اصول و ارزشهائ اسلامی در صفحات دوایر دولتی تنها نامهائ نمایشی اند و دیگر حقیقتا به نام اسلام چیزی وجود ندارد.

در تلویزیون و رادیوها معیار پروگرامها کیفیت علمی نیست ، بلکه معیار فحشاء ، بی حیائ ، ساز و سرود و بی شرمی شمرده میشود و هریک تلاش میکنند که از دیگران گوئ سبقت را ببرند . آواز خوانهائ تاجکستان ، ازبکستان ، پاکستان و هند را می آورند و به صورت به مردم نشان میدهند که اذهان مردم به فحاشی مایل گردد و طوری برابرش میکنند که گویا این یک فن و هنر انسانی است و انسانهائ خوشبخت ازین بهره خواهند برد.

برنامه هائ مترادف بی حیائ و بی شرمی (ستاره افغان و صدائ افغانستان (در تلویزیون طلوع از جمله برنامه هائ اند که هدف شان تنها از بین بردن نسل جدید و رقاص ساختن آنها است . درین برنامه ها تمام معیار ها و ارزشهائ اسلامی و افغانی قربانی جام و مغان و پیاله و شراب و روسپی ها میشود . یکروز در همین برنامه کدام آواز خوان که در بستر قضائ آوازهائ شیطانی دیگران نشسته بود ، اورا (آواز خوان) را مخاطب ساخته و گفت که : من باور دارم که خدا در گوش تو به جائ آذان موسیقی خوانده است . (اگر در نقل قول اشتباه شده باشد پیش از پیش بخشش میخواهم) . مفتی هائ کابل نشین به این شیطان بزر گ فتوائ کفر دادند و اینرا توهین و تحقیر بزر گ به اسلام و شعایر اسلامی خواندند . ولی این فتوی را باد طوری برد مثلیکه از سر زانی ها و قطاع الطریق و دزدان برده است . این فتوی جائ را نگرفت و این شیطان را به میز محکمه نکشاند.

اینجا و آنجا که قطارهای آواز خوانان و رقاصه ها را می بینم که در آنها یک انقلاب به میان امده . طوریکه قبلا جا به جا ایستاد بودند ولی اکنون با آنها رقص میکنند . قبلا مخفیانه بود ولی اکنون آشکارا است . قبلا گوشت بدنش معلوم نمیشد ولی الان شرمگاهش هم معلوم میشود.

برنامه Rumi Awards در کانال تلویزیونی آریانا پروگرام بزر گ بی حیائ ، فحاشی و دشمنی با اسلام را به پیش می برد که هدفش گرد آوری آواز خوانان در سال یک مرتبه می باشد . پروگرام نامبرده ، چند سال نخستین در هند دایر میشد ولی امسال در کابل در باغ بابر دایر شد که همزمان با روز مر گ مسعود بود . تصاویر اکت هائ پروگرام نامبرده را بی بی سی نشر نموده که الان هم در صفحات انترنتی موجود است

چند سخن دارم ، نخست اینکه مولوی جلال الدین رومی رحمه الله یک عالم بزر گ دینی و متصوف بود ، بنام وی این پروگرام در شان وی بسیار بی ادبی بزر گ است . دایر نمودن این پروگرام بنام وی هر سال با اشتراک فاحشه ها ، برهنه ها و روسپی هائ برهنه توهین بزر گ به علماء است که نه دولت و نه هم مردم درین باره چیزی کرده اند.

دوم اینکه این نشر و ترویج فحاشی و بد اخلاقی و برهنگی است که به این و آن نام بالائ ملت افغانستان تحمیل میشود.

سوم : با استفاده سوء از نام علماء و روحانیون و در زیر چتر این عمل نا مشروع و غیر افغانی را مشروعیت و افغانیت میدهند . آنها تلاش دارند طوری ذهنیت سازی کنند که گویا تصوف العیاذ بالله رقصیدن را می گویند و رقص کدام کار خلاف (شرع) نیست.

آنها باید بدانند که افغانستان تنها شهر کابل نیست و افغانها تنها همین گروه انگشت شمار نیست ، که آنها رسم و رواج ، کلتور و فرهنگ افغانستان را به جهانیان پیشکش کنند . آنها هیچگاهی از افغانانان و فن و هنر افغانی نمایند گی کرده نمیتوانند . این فحاشی به نام افغانی باید بند شود . این تنها صدائ من نیست این صدائ هر افغان است که پدران و اجداد شان به خاطر استقرار شریعت در هر کوه و دره خون ریزانده است.

دتلې د ۱۵مې پر غل او افغاني تاریخ...!

(بشیر)

دثور ۷مې او دجدې ۶مې په څېر دتلې میاشتې ۱۵مې نیټې هم مظلوموافغانانو ته بدمرغی، ناخوالې، جنګونه، مرګونه او وحشتونه راوړل، په دې ورځ وحشي صلیبي ښکېلاک (امریکا) له ټولو انساني اصولو او مقرراتو نه په ښکاره سرغړونه زموږ دناپېیلې اسلامي هېواد په مقدس حریم تجاوز وکړ داوله تیرو دیارلس کلوراهیسې زموږ د هېواد او ملت پر ضد صلیبي جګړه په قوي شدت سره دوام لري، زموږد ښارونو، کلیواوباندو په لارو او کوڅو کې دامریکا اوناټو وحشتګر په شوبلو اوټانکونو سپاره ګرځي، زموږ ملې ازادۍ هغوئ یرغمال کړې،ملې عنعنات او اقدار مو تر پښو لاندې کړي، دهېواد ټول ستر اتیژک بندرونه او پولې دهغوئ لخوااداره کېږي، په هوایي ډګرونو اوپوځي تاسیساتو اشغالګر ولاړدي، په هر ځای اوهره لار چې هغوئ درومي افغان وګړي له هغه ځایه دتیریدو او هلته دودریدو حق نلري، که هر څوک ودرید هغه دترهګر په نوم وژل کېږي، زموږ په هوایي قلمرو اوفضاء کې دامریکا جنګي الوتکې په نڅاوو الوتې کوي اورابانډې پاسپوس بمونه راوروي، چې ترې هیڅ افغان ماشوم لوی، ځوان، نارینه او میرمن خوندي نده، په دې سره امریکایان جبر االفغان ملت دخپلې ناروا تګلارې منلو ته ور بولي او ورباندې خپلې مردودې ارادې او پریکړې تحمیلوي.

نن ورځ دهېواد په هیڅ یوه برخه او سیمه کې دافغان ځان، مال اوناموس خوندي ندی، هر وخت چې وغواړي امریکایې داړماران دخلکو په کورونو داړې اوچاپې غورځوي او ورباندې د ظلمونو غرونه راړوي.

زموږ په ملې شتمنیو اوطبعې زیرمویې هم چور اوتالان ګډ کړیدی، له غرونو مو یورانیم او نادره عناصر ټولوي امریکا ته یې رسوي.

رازم دیته چې دمیزان په ۱۵مه زموږ ازادي غصب او دهېواد زمکنۍ بشپړ تیامو اشغال شوې، کله چې دکابل لاسپوځي دزمري په ۲۸مه دخپلواکۍ ورځ لمانځي نو تعجب راشي ؟اخر په کومه خوله خپلواکي لمانځي؟، له کوم انګریز نه چې زموږ نیکونو ازادي ترلاسه کړې نن دهغوئ ناولې لښکرې په ناولو پښو بیا زموږ خاوره کې ګرزي. نو له چانه دازادۍ او خپلواکۍ ورځ لمانځي؟ ،حقیقت دادی چې ازادي نه؛ غلامي لمانځي،اخو ضمیرونه یې مړه دي، دغلامۍ ازادۍ ترمنځ توپیر نشي کولی، چې دډېر شرم او خجالت ځای دی، دانګریزې او امریکایي وحشتګر و په شتون کې ازادي لمانځل څه معنی؟

دیر غل نه دملا تړ لړ کې دهغو څو رهبرانو کردار اوګفتار زیات خواشینونکی اود شرم ډک دی، چا چې دشوروي لښکرو په وړاندې ځانونه فاتحین ویل، نن هغوئ دامریکا ادنی عسکر ته هم دوه لاسي سلام کوي او دمجاهدینو پر ضد شوم تبلیغات او وېناوې کوي... یقیناً په هغوئ الله، دهغه فرښتې او انسانان لعنت وایي او دغه نا اسلامي کردارې په کلکه محکوموي.

امریکا ته افغانستان ته دیو کم پنځوس هېوادو دپوځې، سیاسي او اقتصادي ځواک په ملا تړ راغلي وه، ټوله نړۍ یې تر شا ولاړه وه خو دالله (ﷻ) په حیرانونکي نصرت او کومک افغانانو دهغوئ ټولو په وړاندې دجهاد اومقاومت په روحیه خپلې سینې سپر ونیولې دامریکا اوناټو قواوو مقابل کې په کلکه میړانه وجنګیدل او په زرګونو فدایي ځوانانو خپلې تنکۍ ځوانۍ داسلام، اعلاء کلمة الله او دوطن دزادۍ لار کې قربان اونذرانه کړل، ظالم دښمن ته یې دسر او مال درانه زیانونه واړول، په زرګونو یرغلګرې ککرۍ یې په وینو کې ورغړولې، مغرور او کبرجن سرونه یې په وینو سره ولمبول، په لوی شمیر عسکریې مړه ټپیان کړل اوجنګې وسایل، تجهیزات، شوبلې، ټانګونه او الوتکې یې ور ته دجګړې خوراک کړې، بل پلو دهمدې جګړې درنو لګښتونو هغه اقتصاد چې یو وخت یې دنړۍ تر ټولو لوی اولومړی درجه اقتصاد یادید، دتاریخ تر ټولو لوی ټکانونه ولیدل، په سلګونو بانګونه اومالیاتې اداري یې وتړلي او په امریکا باندې په لومړي ځل دبهر نیوپورونو سلنه تر ډارونکي بریده وختنه

دامریکا ټول غرور، رعب اودبدبه له خاورو سره خاورې شوه، هغه امریکا چې یومهال دګلوبلایزیشن په لیونتوب اوخبط کې مبتلی وه، نن دومره ځپل شوې چې کله دداعش خلاف دعملیاتو خبره کېږي نو یواځې دهوایي بریدونو لاپه کوي. دمخامخ جګړې ځان ځنګ ته کوي، ددې اصلي علت دډار هغه روحیه ده چې دافغان جګړې له امله دامریکا په عسکرو او پوځ ختلې، پنټاګان څو ځله منلي چې افغانستان کې ددوئ په میشت عسکرو کې دځان وژنې رجحان مخ په زیاتیدو دی، چې دمخنیوي په تدابیرو یې دوئ کار کوي، غربي رسنیو هم څو واره داسې مستند اسناد او ارقام خپاره کړي چې له مخې یې دامریکا په لوی شمیر عسکرو کې رواني ناروغې خپره شوې، لامل یې دجګړې نه ډار اونفرت ښودلی، چې هغوئ له جګړې نه دومره په تنګ راغلي چې اوس دجګړې له نوم هم نفرت اوکرکه کوي.

لنده داچې امریکا ددیارلس کلنې اوږدې جګړې په ترڅ کې دشکست اوزیانونو پرته بل څه ترلاسه نکړل، افغانستان کې هغسې دجهاد اومقاومت پولادي سنګرونه جوړ دي، هغو هېوادو چې دامریکا دملاتړ لپاره یې افغانستان ته خپل ځواکونه رالیږلي وو، دڅو پرته زیاتو خپل عسکر بیر ته وغوښتل اودامریکا پاته ځواکونه دبشپړې کلابندۍ په حالت کې قرار لري، دهېواد په ټولو ولایتونو ولسوالیو آن په کلیو کې جهادې مورچلونه او مرکزونه فعال شتون لري، امریکا ونه توانیده چې په بشپړ ډول خپل حاکمیت په افغانانو اومني، ځواکونه یې له هډو بیرون په اسانه نقلوحرکت نشي کولی، په ازادانه توګه له یو ولایت نه بل ته سفر نشي کولی، که کوي یې خامخا دمجاهدینو له بریدونو سره مخ کیږي او معمولي نقل وحرکت هم ور ته دسر اومال په درنو زیانونو تمامیږي، له دې وجې اوځانونه دپیسو او جعل کار یو بدل کې په اربکیانو ساتي، باید امریکا پوښي چې تر کومه به ځان په دغو ملیشو ساتي اونه به هغوئ ور ته نجات ور کړای شي. که دغسي مزدورو ملیشو نجات ور کولی شوای، روسانو ته به یې ور کړی و، ښه داده چې امریکایان یو ځل بیا له سره دافغانستان تاریخ ولولي او افغانستان کې داشغال غځولو په ځای دسملاسي انخلاء په لار و چار و غور واقعبینانه وکړي.

امنیتي تړون ولسلیک سو، نور څه پاته دي؟

(محمد ابراهیم سپیڅلی)

د ټاکنو پایلې معلومي سوې، ولسمشر لوړه وکړه او د امریکایانو د زړه ارمان (امنیتي تړون) هم لاسلیک سو، لیکن لا تراوسه په هیواد کي حالاتو ښکاره بدلون نه دی کړی.

پر کونړ د پاکستان توغندیز بریدونه، د وسله والو مخالفانو ځان وژونکي او بمي حملې، د ناټو هوایي بریدونه ،وزګارتیا، د خوراکي او غیري خوراکي توکو لوړې بیې، په فساد لړلو کسانو پر څوکۍ ناسته او نوري ناخوالي هغه څه دي، چي افغان ولس ورته ګوته نیسي.

افغان ولس وایي، نور یې انتظار اوږد او حیران دي، چي څه لا باید وسي، تر څو په هیواد کي سته ستونزي له منځه ولاړي سي؟

د یادو ناخوالو په روانه لړۍ کي تر ټولو زیات تاوان ولسي خلکو ته رسیږي، چي روښانه بېلګه یې د یه تیره اونۍ کي ناټو په هوایي برید کي د ۷ ملکي پکتیاوالو، چي یو نهه کلن کوچنی هم پکښې شامل و، وژل کېدل دي.

د باندنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کي له تیرو ۱۴ کالو راهیسي بې ګناه هیوادوال وژل کیږي، مخکني ولسمشر حامد کرزي هم په دې اړه څو ځله اوښکي توی کړی، خو ګټه یې نه ده کړې، ځکه نړیوال ځواکونه د ملکي وګړو په وژنه یا بخښنه غواړي یاهم په سپین سترګۍ وایي : (ددولت مخالفان(!) مو وژلي دي.)

د ولسي خلکو په خبره تیر څوارلس کاله، چي بهرنیو ځواکونو په هوایي حملو کي ولسي خلک وژل ښایي د امنیتي تړون د لاسلیک هیله یې درلوده، خواوس څه غواړي، چي لا هغسي بریدونه کوي؟

داشرف غني په مشرۍ دنوي دولت لخواله امریکایانو سره د امنیتي تړون د لاسلیک یوه میاشت لا نه ده پوره، چي پاکستان بیا په هغسي بې مخۍ پر کونړ ولایت توغندیز بریدونه کوي، امریکا او ملګري یې ورته ګوري، خو ژبه یې بنده ده او څه نه سي ویلای، نه پوهیږو، چي په دې کي بیا د امریکا کومه دسیسه نغښتې ده؟

د امنیتي تړون له مخي هیڅ هیواد نه سي کولای، چي د افغانستان پر خاوره تېری وکړي او که چیري کوم هیواد افغانستان ته په خیر نو ستر ګو ګوري، نو امریکا او راغلي ملګري به یې ځواب وایي، خو دلته خبره هغسي نه ده، دا چي ولي؟ د ځواب ویلو لپاره یې باید امریکایان او دلته راغلي ملګري غاړې تازه کړي.

همدارنګه د اشرف غني له تحلیف څخه وروسته یوازي په کابل کي د دومره زیاتو کورونیو او بهرنیو ځواکونو په شتون کي اووه چاودني سوي دي، چي دا هم د دې ښکارندوی ده، چي امریکایان یوازي د خپل قرارداد په غم کي وو، ځکه مخکي ویل کېدل، که امنیتي تړون لاسلیک سو، نو افغانستان به د امنیت له پلوه ګل او ګلزار سي، خو خبره سرچپه او بریدونو تر پخوا هم زور واخیست.

په همدې ډول د دولت د مخالفانو مخامخ جګړې هم زوروري سوې، چي د بېلګي په ډول د روان کال د اکتوبر پر ۳مه نېټه په سرپل ولایت کي د وسله والو طالبانو په کمین کي د ۲۲ پولیسو وژل کېدل، ٦ تېپیان او ۷ نور پولیس یې له ځان سره ژوندي بېول روښان ثبوت دی.

لا تر اوسه والیان، وزیران او ځیني نور... د سرپرستانو په ډول پر څوکیو ناست دي، که چیري د اکسان په رښتیا په فساد کي ککړ دي، په کار ده، چي د پوښتني مېز ته راکش سي او که په دنده کي بریالي دي، نو باید تقدیر سي، ځکه په کومه اداره کي، چي مکافات او مجازات نه وي، هلته پرمختګ د اوبو د سر کرښې دي.

ولس غواړي، چي نوی ولسمشر پوره ته یادو ټکو ته پام وکړي او تر هر څه افغان ولس، چي په دې وروستیو لسیزو کي سخت ځپل سوی، ځان ته نږدې کړي، په دې نږدې کېدو کي د دواړو جهانونو خیر نغښتی دی.

دنن ټکی نه په منڅه

جهاد زموږ د برم او عظمت ضامن

(فاتح کاروان)

په دې کې شک نشته چې جهاد د اسلامي احکاماتو بنیاد او اساس تشکیلوي؛ په دې معنې چې جهاد د مسلمانانو د برم او عظمت ضامن او په دنیا کې د سرلوړي ژوند ښه لاره ده؛ که جهاد نه وای نو لمونځ، تلاوت، روژه او حج به مو هم نه شوای کولی، هغه دی د اسلامي نړی د ډیرو خلکو حالت زموږ او ستاسو په مخکې دی، په ایران، مصر، بنګله دیش او... په ځیر اسلامي هیوادونو کې د مسلمانانو ذلت امیز ژوند زموږ او ستاسو په وړاندې د عبرت یوه ښه نمونه ده؛ په کفري نړی کې خو چې څه روان دي هغه خو هرچاته ښه واضح دي؛ په فرانسته، بریطانیا، اسرائیل، امریکا، او ځینو نورو هیوادونو کې خو مسلمانان اوس هم ترسختو فشارونو لاندې دي، هلته مسلمانان مجبور دي چې د کفارو لخوا تپاکل شوي سخت او غیر اسلامي قوانین په ځان ومني، تیره ورځ مو واوریدل چې د ایران په زاهدان کې د اهل سنت مسلمانانو په سیمو کې د ایراني استخباراتو لخوا د مسلمانانو کورونه بې موجبه پلټل کیږي، په مسجدونو کې د آذان کولو لپاره د لوډسپیکرونو لپاره هم باید له حکومت نه اجازه واخلي، ها خوا په مصر کې په سلګونو مسجدونه په یوه او بله بهانه تړل شوي دي، د هند په ګجرات کې د مسلمانانو عام وژنه یوه عادي او ورځنۍ چاره ده!!

لنډه یې دا چې په کومو سیمو کې چې جهاد نشته هلته مسلمانان د کفارو لخوا دومره په سختو تکالیفو اخته دي چې موږ یې تش په اوریدلو هم ټکان محسوسوو، مګر بالمقابل په هغه سیمو کې چې جهادي حرکتونه شته او مجاهدین په کې فعال دي که نور هیڅ نه وي خو مسلمانان په آزاد ډول ژوند کوي، هلته د نورې نړۍ بر خلاف کفار تر سختو فشارونو لاندې دي، د فلپین او نایجیریا حالات یې ښه مثال دی، په نایجیریا کې د عیسوي زده کوونکو برامته کول نه یواځې دا چې مناسب کار و بلکې یو ضرورت و، د همدغو عیسویانو تښتونه ده چې په ځایي کفارو کې یې ویره او ترهه خپره کړی ده، د بوکو حرام مجاهدین د امریکا او د نایجیریا د حکومتونو سره په مقاومت بوخت دي؛ په برما او مصر کې بیا نوي جهادي حرکتونه هغه څه دي چې د امریکا او اسرائیلو په شمول یې درسته کفري نړۍ په ویر او غم اخته کړی ده.

د جهادي ګټې او فضایل تر هیچا پټ نه دي، په قرآن کریم کې په سلګونو کې ایتونه او همدا راز نبوي احادیث موږ ته د جهاد د فضایلو ښودنه کوي، خو د تأسف ځای دادې چې د مسلمانانو ملتونو په منځ کې په امریکایي حرامو ډالرو روزل شوي داسې ډیر خلک شته چې آن د ملا او مفتي تر درجوې ځانونه رسوي خو بیا هم هڅه کوي چې د عامو خلکو پام له جهاد نه وګرځوي.

دلته په افغانستان کې هم د امریکایانو د یرغل سره سم ډالري معاش خورو د جهاد او مجاهدینو پرضد خپلې خولې خلاصې کړی، دا ډله خلک چې د صلیبي یرغل نه وړاندې یې په اروپا او امریکا کې په ډانس کلبونو، هوټلونو او بر ګرېلورنځیو کې دندې درلودې نن دومره شول چې د قرآن کریم او نبوي احادیثو سره یې د مقابلې ټټر وهلې، شپه او ورځ د کفر په چوپړ بوخت دي، هغوی چې ځانونه مفتیان او عالمان ښایي لکه سیاف، کشاف، مجددي، وقاد او نور . دوی خو بې له شکه چې الله جل جلاله وشرمول، ځکه دغه خلکو که جهاد کړی و نو د دین لپاره نه بلکې په دنیا کې د قدرت او امتیازاتو د لاس ته راوړلو ارمانجن و، ځکه خو الله جل جلاله د دوی دغه ارمان پوره کړ مګر اوس یې ګورو چې د کفارو په غلامۍ بوخت دي او د کفارو غلامۍ ترې د ژوند ټول خوندونه تروړلي، د خلکو د لعنتونو او کر کې وړ وګرځیدل، ځکه خو موږ وایو چې یو څوک دا خبره په دلیل کې نه شي راوړی چې ووایي: وګوره کنه سیاف او کشاف هم جهاد کړی و نن ولې د کفارو سره ولاړ دي، موږ وایو دې خلکو په جهاد سره دنیا غوښته او الله جل جلاله ورته دا د ذلت نه ډکه دنیا ورکړه باقي نو شرمیدل او بې عزته کیدل خویې ټول ګورو!

جهاد د الله جل جلاله رضا، د مسلمانانو عزت ، د اسلام د مبارک دین د پراختیا ښه لاره، د کفارو ذلت او شکست او په دنیا کې د کفارو لخوا د مسلمانانو پر وړاندې د هر ډول دسیسې ښه مقابله ده، جهاد دی چې په سبب یې د نړۍ فرعوني طاقتونه رانسکور شوي او همدا جهاد دی چې له برکته یې د اسلام مبارک دین د دنیا ګوټ ګوټ ته رسیدلی، دا نن چې زه او ته مسلمانان یو دا زما او ستا کارنامه او میرانه نه ده بلکې دا وياړ د هغه مجاهدینو وچې د مدینې او مکې له ښکلنو دښتو یې په سترېو او ستومانه مزلونو، په ډول ډول تکلیفونو او ستونځو تر موږ را رسولې، هغوی ته الله جل جلاله د دې قربانۍ په برکت سره د خپلې رضا زیرې په دنیا کې ورکړ او موږ چې د دې مبارک او سپیڅلي دین احکامات مو په ښه ډول نه دي پیژندلي او نه مو عملي کړي نن ورځ سره د دې چې مسلمانان یو خو د کفارو پر وړاندې بې وسه او بې کسه یو، ولې موږ اسلام تر مسجد او مدرسې محدود کړی او آن په دې وروستیو کې خو د ډیموکراسۍ څربو غواګانو داسې خلک هم په موږ کې وزیږول چې اوس یې دمدرسو او علماؤ پسې هم راخیستې، مګر د بدبختی خبره خو داده چې همدغه د دیني مدارسو سرسخت دښمنان زموږ په منځ کې لر او بر کیږي ، خپل اهداف پر مخ وړي دومره څوک نشته چې د دغه ډالري اجیرانو پر ضد د جهاد عمومي فتوی ورکړي، ځکه خو داسې خوار او وروسته پاتې یو.

د جهاد نه انکار کفر، په کې سستي کوونکې منافق او سخت ګنګار دی، الله جل جلاله خپلو مؤمنو بنده ګانو ته په خپل مبارک کلام کې فرمايي:

کتب علیکــم القتال و هو کره لکم و عسی ان تکرهوا شیئاً هو خیرلکم و عسی ان تحبوا شیئاً و هو شرّلکم والله یعلم و أنتم لا تعلمون((البقره ۲۱۶((

ژباړه: او فرض شوي دې پر تاسې باندې جنګ(جهاد) په داسې حال کې چې تاسو ته دا جنګ بد ښکاري، او ښایي تاسو بد ګڼئ یو کار خو هغه به ښه وي ستاسو لپاره او کله کله یو کار تاسو د ځان لپاره ښه ګڼئ خو هغه به ستاسو لپاره ډیر بد وي، او الله جل جلاله عالم دی (په خیر ستاسې) او تاسې نه پوهیږئ(پخپل خیر(د پورتني ایت نه د جهاد فرضیت او فضیلت دواړه څرګندیږي، که نن ورځ چیرته مسلمانانو په یو اتحاد او همغږۍ سره د جهاد بیرغ هسک کړی او کفارو پرضد یې سنګرونه نیولي وو نو به د اسلامي امت د ذلت دا حالت موږ او تاسو نه ولیدلی، الله جل جلاله ډیر عادل ذات دی هغه پر هیڅا ظلم نه کوي دا موږ یو چې د الله جل جلاله سپیڅلي احکاماتو په خورا بې رحمۍ او ناځوانۍ سره تر پښو لاندې کوو او پایلې یې دادې پخپلو سترګو ګورو.

یوه ډله خلک داسې هم شته چې د مسلمانۍ د دعوې سره سره بیا هم له جهاد نه تیښته کوي او د نورو مجاهدینو پر وړاندې داسې پوچ او شیطاني دلایل کاروي چې هیڅ یې دلیل نه شول بللای، لکه دوی یو شمیر تش په نامه مسلمانان چې په رسنیو کې دا پروپاګند کوي: راځۍ تعلیم وکړو، توپ او ټانګ جوړ کړو او کفارو سره پخپلو جوړو شوو وسلو جهاد وکړو، په حقیقت کې دا خلک په سخته او نه جبرانیدونکې اشتباه کې لویدلي دي، ځکه دوی پوهیږي چې په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې داسې ځای نشته چې هلته دکفارو نفوذ او تر یوه حده حاکمیت نه وي، معلومه خبره ده که دا حاکمیت او نفوذ مستقیم وي یا غیر مستقیم. نو څنګه به مسلمانان وتوانیږي چې وسلې او بمونه جوړ کړي، لنډ د دې خپل هیواد تعلیمي نصاب ته یو نظر وکړئ ، کفارو تر ې د جهاد او هجرت موضوعات په بشپړ ډول ویستلي، نو فرض کړه چې موږ د هغه خلکو خبره ومنله کوم چې وایي راځئ تعلیم وکړو دا وخت د ټوپک نه دی توپ او ټانګ جوړ کړو، آیا دا اوسني تعلیمي نصاب د دې وړ دی چې پر مټ یې زموږ تنکي نسل وتوانیږي تر څو وسلې او طیارې جوړې کړي او بیا دکفارو سره پرې وجنګیږي؟! نه هیڅکله نه، په دې اوسني تعلیمي نصابونو کې خو له لوبو، ساعت تیریو، موسیقۍ، او د هر چا پر وړاندې د نرمۍ له موضوعاتو پرته بل څه نشته، زموږ د تعلیمي نصاب یوه زیاته برخه د ښځوحقوق، ملګري ملتونه، مخدره مواد او دی ته په ورته بې مفهومه او بې ګټې موضوعاتو مشتمله ده، نو په ایمان یې ووایاست چې له داسې تعلیمي نصاب نه به څوک د توپ او طیارې جوړول زده کړي او که موسیقي، لوبې او د دنیاد ژوند سره ژوره مینه؟!

بل خواته وګورئ هغه اسلامي هیوادونه چې همدا اوس په کې جوړ او منظم حکومتونه دي هلته هم د تعلیم او تربیې پر مټ چا ونه شو کړای چې وسلې او نظامي توکي جوړ کړي، همدا اوس د ټولې اسلامي نړۍ تش نامه اسلامي پوځونه خپل تقریباً ټول نظامي او حربي مواد له کفارو نه

اخلي نو بيا داخلک چې وايي راځئ تعليم وکړو داوخت د ټوپک نه دی، څه ډول نظام غواړي؟؟ آيا دوی اسلامي هيوادونو دا زړه بوږنونکې او بد حالت نه ويني چې په جوړو نظامونو، ډيرو پيسو او منظمو پوځونو کې بيا هم له کفارو نه وسلې اخلي؟ دلته مهمه خبره چې د تعليم درواغجن ډنډورچيانو له ياده ويستلې ده او يا قصداً پرې سترګې پټوي، هغه آزادي ده، اسلامي نړۍ ازادي نلري او تر څو يې چې آزادي نه وي اخيستې تر هغه وخته به دوی کفارو ته پوځي او اقتصادي برخو کې محتاج وي، موږ له همداسې يوه حالت نه د ځان او خپلو ولسونو د خلاصون لپاره مبارزه کوو دوی جهاد ته رابلو.

يو ډير ښه مثال يې درته بيانوم، فلسطين کې دوه مهمې ډلې دي چې يوه هغه يې په اصطلاح د قلم او تعليم په برخه زورنه کوي او بله هغه يې بيا وايي: په يو لاس کې توره ، په بل لاس کې قلم؛ حماس او الفتح درته يادوم، دغه دواړه ګوندونه شاوخوا شپيته کاله سابقه لري، الفتح ګوند چې په لومړي سر کې يې نظامي فعاليتونه کول رو رو يې د سولې او پرمختګ په درواغجنو شعارونو ځانونه تير ايستل او دادې تر ننه پورې بيا د اسرائيلو سره د جهاد نه ځان ساتي، مګر سره د دی چې نه جهاد کوي او نه پرې فشارونه شته ولې بيا يې هم تر اوسه و نه شول کړی چې يو ټوپک او ټانګ جوړ کړي، يا په نړۍ کې د يو اقتصادي قوت په شکل راڅرګند شي، بالمقابل د حماس جهادي غورځنګ چې هميشه يې په وسله واله مبارزه تاکيد کړی، نن وګوره هم يې نظامي او هم يې په تعليمي بخش کې پراخ پرمختګون کړي، هغه جدا خبره ده چې ځای او شرايط ورته نامساعد دي، دوی وکولای شول چې هم ميزايل جوړ کړي هغه چې نن يې پرې د اسرائيلو په منځ کې اورونه بل کړي او هم يې وکولای شول چې بې پيلوټه الوتکې جوړې کړي ، دا پرمختګونه يې د هغه خلکو پر مخ چې په نظامي مبارزه باور نه لري سخت ګوذار دی.

الله جل جلاله مسلمانانو ته فرمايي:فقتلو أولياءَ الشّيطن انّ كيد الشيطن كان ضعيـفا ((السناء ٧٦((

ژباړه: ووژنئ دوستان د شيطان(کفار او منافقين) بيشکه چل او چالاکي د شيطان چې ده، دا خورا کمزوری ده.

دلته د کفارو وسلې او استخباراتي قوت ته د شيطان چل ويلای شو، سياسي،اقتصادي اوکلتوري يرغلونه يې هم د شيطان چلونه دي، خو الهی فرمان وايي چې دا چلونه يې ډير ضعيف دي.

ډير داسې کسان شته چې د غرب تبليغاتي چينلونو يې افکار مستعمره کړي او دوی يې د جهاد له اهميت او حکمتونو نه انکاري کړي دي په دې هکله قرآن کريم خپلو پلويانو ته دا پيغام لري: ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعضٍ لهدّمت صوامعُ و صلواتٌ و مسجد يذكر فيها اسم الله كثيرا (الحج ۴۰(ژباړه: که چير ته نه دفع کولای االله جل جلاله ځينې خلک په ځينو نورو باندې؛ نو خامخا نړولې شوې به وې تکيه خانې، مدرسې، عبادتخانې او مسجدونه، هغه چې د الله جل جلاله ذکر په کې کيږي.

دلته يوځل بيا هغه خلکو ته سخت ځواب دی چې وايي جهاد د څه لپاره، د وسله والې مبارزې پر ځای دی له قلم او سوله ايېزی مبارزې نه کار واخيستل شي، الله جل جلاله فرمايي دغه جهاد مې ستاسو لپاره يوه د خلاصون او برياليتوب لاره ګرځولې ده، نن که چيرته د نړۍ په هره سيمه کې مسلمانان په آرام او سکون سره خپل عبادتونه ترسره کوي دا همدغه جهاد برکت دی، که چيرته جهاد نه وايي نو مسجدونه به نړول شوي و، مصر زموږ او ستاسو پر وړاندې ښه مثال دی، چې مساجد يې بند شوي او د نړولو پروګرام يې روان دی، بنګله ديش هم همداسې يو مثال درواخله، خلک به له عبادت او بنده ګې نه منع شوي و، په فرانسه کې مسلمانان حجاب نه شي پر سر کولای، په بريطانيا کې په اسلامي لباس کې ګرځيدل د مسلمانانو ښځو لپاره د مرګ زيری دی، په چين کې په روژه نيولو هم بنديز ولګيده، دا هر څه ولې؟ ځکه چې په دغه سيمو کې جهاد نشته.

په اخر کې به په مختصر ډول ووايو چې:

اسلامي نړی له اوسني کړکيچن حالت نه د وتلو لپاره پرته له وسلوال جهاد نه، بله هيڅ کومه لاره نه لري، او تر هغه وخته به مسلمانان د کفارو ظلمونه او وحشتونه زغمي تر څو چې يې جهاد ته مخه نه وي کړي، لکه چې د يو نبوي حديث مفهوم هم همداسې دی

(سعيد الرحمان)

شهامت فقهي مسايل:

څه وايي: داسلام د مبين دين محترم مفتيان د دې پوښتنې په اړه چې:

۱ـ ددیني مدرسې د مهتمم له لوري دمدرسې استادانو او کارکوونکو ته له وخت وړاندې معاشونو ورکول څه حکم لري؟ سره ددې چې پیسې امانت دې اوله وخت نه وړاندې معاش ورکول پوردی؟

۲ـ ایا دمدرسې مهتمم کولی شي چې دوختي حاجت په اضافه پیسو کاروبار (سوداګرۍ) وکړي، یا یې په کاروبار (په سوداګرۍ) کې ولګوي، چې: ګټه یې یا هغه پخپله اخلي ۲. یا یې مدرسې ته ورکوي ۳. اویا ګټه دځان او مدرسې په منځ کې برابره ویشي؟

۳ـ دمدرسې مهتمم دمدرسې ملکیت کې دمدرسې دګټې لپاره تصرف کولی شي؟ مثلاً: دمدرسې څاروي په پلورلو سره مدرسې ته بل څیز واخلي، یا دغنمو په پلورلو دخوراک اوڅکاک توکي واخلي، محترم مفتي صاحب د پورته مسایلو په اړه مونږ ته شرعي لارښوني وکړئ! جزاکم الله

الجواب:

حامداً ومصلياً: ۱..... دمدرسې استادانو او کارکوونکو ته له تاکلي وخت نه وړاندې معاشونه ورکول پورنه؛ بلکې مخکې اجرت ورکول دي، اوشرعاً دوقف مال څخه له وخت نه وړاندې اجرت اداء کول روا دي، نومهتمم کولی شي چې دمدرسې کارکونکو ته له وخت وړاندې معاشونه اداء کړي لکه په شرح المجلة کې دي:

لاتلزم الأجرة بالعقد المطلق يعنى لايلزم بدل الاجارة بمجرد انعقادها حالاً والمراد بالعقد المطلق: الذى لم يذكر فيه اشتراط تعجيل الأجرة وانما لايلزم تسليم الأجرة حينئذ لأن العقد وقع على المنفعة وهى تحدث شيئًا فشيئًا وشأن البدل أن يكون مقابلاً للمبدل، بحيث لايمكن استيفاءه حالاً لايلزم بدلها حالاً الا اذا شرطه ولوحكماً بأن عجله لأنه صار ملتزماً بنفسه حينئذ، وابطل المساواة التى اقتضاها العقد فصح (شرح المجلة ۲\۵۴۹،ج:رشيديه)

۲..... دمدرسې مهتمم ته هغه اضافه پیسې، کومې چې دوختي اړتیاوو نه اضافه وې په تجارت کې لګول رواندي، اګر که دمدرسې ګټه هم پکې وي، لکه په البحر الرایق کې دي:

ولايجوز للقيِّم شراء شيئ من مال المسجد لنفسه..... ولاالبيع له وان كان فيه منفعة ظاهرة للمسجد (كتاب الوقف ۵\۴۱۰،ج:رشيديه)

۳....... په مسئوله صورت کې دمدرسې لپاره دمدرسې داسي ملکیت پلورل چې د هغه دوقف په وجه دپلورلو وړنه وي، دهغه په ځای بل ځای مدرسې لپاره اخستل جواز نلري، ولې هر کله چې یوځل کوم څیز دمدرسې لپاره وقف شي، په هغه کې دالله ملک راځي، هغه کې دبل چا مملوک کیدو صلاحیت پاتـه نشو. هو! البته که رښتیا هم دمدرسې لپاره دکوم بل څیز اړتیا وه او هغه دمدرسې دڅاروي په پلور پوره کیده، که څاروی دزکات یا واجبه صدقې و، نود تملیک کولو وروسته دهغه پلورل جایز دي، خو دا طریقه معمول ګرځول شرعاً سهي کارندی لکه په هندیه فتاوا کې دي:

وعندهما حبس العين على حكم ملك الله تعالى على وجه تعود منفعة على العباد فيلزم ولايباع، ولايوهب ولايورث (عالمگيري ۲\۲۵۰،ج:رشيديه

د طالبانو په لاس د کابل دفتحې د(۱۸)مې کليزې په مناسبت

داسلامي امارت اعلاميه

له نن څخه (۱۸) کاله وړاندې د۱۳۷۵ هجري لمريز کال د ميزان شپږم زموږ په تاريخ کې د هېواد د نجات او په افغانستان کې د اسلامي نظام د استحکام خورا مهمه او با ارزښته ورځ وه.

په دې ورځ د طالبانو اسلامي تحريک چې په هېواد کې د پيښو انارشيو، بدبختيو، ټوپکسالاريو، خپل منځي شخړو، د قدرت په سر د مقابلې، شر او فساد او دهېواد د ورانۍ د دسيسو په ضد يې قيام کړی وو، وتوانيد چې د کابل ښار د شر اوفساد له عناصرو پاک او له خورا اوږده ځنډ وروسته په افغانستان کې د سوچه اسلامي نظام تهداب کيږدي او د دې هېواد قسم خوړلو دښمنانو ته سزا ورکړي.

دغه له وياړه ډکه ورځ که له يوې خوا د هيواد او هيوادوالو لپاره د ستر بحران څخه د نجات ورځ وه، له بلې خوا همدا ورځ له پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد د کابو يونيم ميليون شهيدانو د لوی ارمان اسلامي شريعت د نفاذ او د اسلامي امارت د تشکيل د زمينه سازې ورځې په حيث زموږ په تاريخ کې ثبت شوه.

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د نړيوالو کفري دسيسو او سيميزو رقابتونو له امله په کراتوله ناورينونو سره مخ شوی؛ خو هرځل داوياړلی ملت توانيدلی چې کفري يرغلونه په شا وتمبوي او هيواد ته له پيښ ناورين څخه د درنو قربانيو په بدل کې نجات ور کړي.

څرنګه چې پخواني ټول يرغلګر او دهغو دسيسه ساز جاسوسان په دې خاوره کې نامراده شوي او خپلو شومو هيلوته نه دي رسيدلي، همداسې نن هم باور لرو چې ننني اشغال او امريکايي قبضه به هم له خپل ټول زور او قوت سره دلته نامراده کيږي او دا ملت به بيا هم د وروستۍ فتحې او خوښۍ ورځ لمانځي.

موږ په داسې حال کې چې داسلامي امارت په لاس د کابل فتحه د هيواد په تاريخ کې ديوځلاند اسلامي دور دپيل ورځ بولو ژمنه کوو چې هيڅکله به د اسلامي نظام د قيام او ځوريدلي اولس د هوساينې او رفاه لپاره له هڅو لاس وانخلو او جهادي مبارزه به مو تر هغه جاري وي ترڅو مو ستړی او ستومانه ملت، د خپلو مظلومو شهيدو شوو اولادونو د آرمان د پوره کيدو ورځ وګوري او د خپل ستر هدف اسلامي حاکميت څخه يوځل بيا برخمن شي.

په کابل کې ننني امريکايي غلامان له پروني هغو شريرو عناصرو سره هيڅ توپير نه لري چې دا هيواد يې دخپلو هوسونو د پوره کيدو لپاره له نابودۍ سره مخ کړی وو او افغانستان يې د تجزيې، قومي، ژبني، مذهبي او نورو اختلافاتو په ميدان بدل کړی وو.

د کابل ننني غاصبين هم کټ مټ دهغو غونډې دفساد او فتنو اور ته لمن وهي، فساد او نفاق خپروي، چې په وړاندې يې زموږ مسلمان ملت بايد بيدار واوسي په وړاندې يې بايد مبارزه وکړي ترڅو خپله پاکه خاوره د تيرپه شان يوځل بياله دغو شريرو عناصرو تصفيه کړي او دميزان دشپږمې په شان يوه بله داسلامي نظام او سولې داعادې زرينه ورځ په تاريخ کې ثبت کړي.

د افغانستان اسلامي امارت

۴/۱۲/۱۴۳۵هـق

۶/۷/۱۳۹۳هـش-۲۸/۹/۲۰۱۴م


Shahamat